AELSO
د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# اسلام
# او
# اقتصاد

## د سوداگریز بازار، اخلاقو او عدالت پېژندنه



ليکوال: علي سلمان
د شيخ عبدالله بن حامد علي له خوا وړانديز شوی

ژباړن: محمد باسط واحدي

# اسلام او اقتصاد

## د سوداګریز بازار، اخلاقو او عدالت پېژندنه

**لیکوال:** علي سلمان

د شیخ عبدالله بن حامد علي له خوا وړاندیز شوی

**ژباړن:** محمد باسط واحدي

AELSO
د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

بسم الله الرحمن الرحيم

«*اسلام او اقتصاد* له عقدي پرته د اسلامي اقتصاد بنسټيز اصول وړاندې کوي. دا د اسلامي اقتصاد پېژندنې، له کپیټلېزم (پانګوالۍ) او سوسیالېزم سره د تړاو له پاره یو اړین اثر دی. د دې کتاب لوستل د هغه چا له پاره چې د اسلامي اقتصاد په اړه د پراخ لید په لټه دي ګټور دی. دا به د اسلامي اقتصاد او اسلامي فکر په اړه د کلونو له پاره یو ارزښتناک ملګری او غوره کتاب وي».

**حسين عسکري**

د ایران د سوداګرۍ او نړیوالو چارو متقاعد پروفیسور

جورج واشنګټن پوهنتون

*د ایډیال اسلامي اقتصاد او د اسلام له لومړني تاریخ څخه د برابرې مفهوم کتاب شریک لیکوال «علي سلمان اسلام او اقتصاد: د سوداګریز بازار، اخلاقو او عدالت پېژندنې* په اړه خپل مونوګراف په دریو برخو وېشلی: د مالکیت حقوق، د شتمنۍ جوړښت او وېش یې. د اسلام د لومړنیو سرچینو پر بنسټ یې په ډېره ښه توګه موضوع له معاصرو حقیقتونو سره تړلې ده. د نوموړي تحلیلي وړاندوېینو د اسلامي اقتصاد په اړه نورو څېړنو ته لاره اواره کړې ده. دغه مونوګراف د اسلامي اقتصاد په اړه چې په ذکات او سود راڅرخي یو نوی څېرکی پرانیستی. سلمان اصلي، موخه لرونکی او هڅوونکی انسان دی او دا یې د اسلامي اقتصاد په ادبیاتو کې یوه ارزښتناکه ډالۍ ده».

**محمد اکرم خان**

د پاکستان پخوانی مرستیال پلټونکی

*د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟ د اوسني حالت او راتلونکې اجنډا تحلیل کتاب*

لیکـوال «د هـر هغـه چـا لـه پـاره چې د اسـلام او نـورو اقتصـادي تیوریـو د توپیـر پـه اړه ځـان پوهـول غـواړي، د عـلي سـلمان دغـه اثـر هغـه څـه دی چې انتظـار یې ورتـه کاوه. سـلمان، د قـران، احادیثـو او فقهـاوو د نظرونـو پـه رڼـا کې وايـي، د ټولنـې د اقتصـادي جوړښـت لـه پـاره اسـلام درې اصـول وړانـدې کـړي: مالکیـت، د شـتمنۍ جوړښـت او د شـتمنۍ وېـش. دغـه اصـول او د لومړنیـو سرچینـو یـو ځـای والـی داسـې چـوکاټ رامنـځ تـه کـوي چې بنسـټ یـې د بیـو خپلواکـي، باثباتـه پـولي واحـد، خپلواکـه سـوداګري، قانـوني بـازار، لـه سـود پرتـه بانکـوالي، ټیټـه او مناسـبه مالیـه، وقـف او د میـراث وېـش وي، کـه تاسې موافـق یاسـت یـا مخالـف، خـو دا کتـاب د لوسـتلو ارزښـت لـري».

**سید کمال**

د انګلېستان د هوس اف لارډ (پارلمان) غړی

د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو پروفیسور

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ(٩) فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ(١٠)

ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! کله چې د جمعې د لمانځه له پاره اذان وشي، نو منډې ووهئ طرف د ذکر د الله تعالی ته او پرېږدئ پير او پلور، ځکه دا تګ تاسې ته ډېر غوره دی که پوه شئ (په اخروي ګټه او تاوان خپل). هر کله چې د جمعې لمونځ اداء شي، نو تاسې خواره شئ په خپلو ځمکو کې او ولټوئ تاسې له فضله د الله تعالی او يادوئ الله، ښايي چې تاسې ومومئ ښېګڼه د الله تعالی. (٦٢: ٩-١٠)

محمد (ص) خپلو خلکو ته د دين تر څنګ يو اقتصادي چوکاټ هم ورکړ. محمد (ص) د اقتصادي تګلارې نوښتونه، د سرچينو اغېزمن وېش او د شمتنی جوړښت وهڅول. د شتمنی د جوړښت داسې چوکاټ چې پېړی پېړی يې دوام وکړ.

**بينيډيکټ کوهلر**

*د اسلام لومړي وختونه او د کپيټلېزم (پانګوالی) زېږون*

## د نبي کريم (ص) له ويناوو څخه

• ستاسې ژوند او مال يو پر بل حرام دی ترڅو چې تاسې له خپل رب سره مخامخ نه شئ.

• اوبه، اور او واښه په ټولنې پورې اړه لري.

• انسانان د الله (ج) بندګان دي، ځمکه د الله (ج) ملکيت ده او څوک چې شاړه ځمکه را ژوندی کړي، د هغه له پاره ده.

• خدای (ج) اخيستونکی او تخريبوونکی، برابروونکی او د بيو کنټرولوونکی دی. هيله لرم چې کله زه له هغه سره وينم له تاسې به هيڅوک زما پر وړاندې د ژوند او مال د زيان ادعا ونه کړئ.

• هغه څوک چې د مسلمانانو له پاره د بيې د لوړولو په نيت ذخيره کوي، فاسق دی.

• مؤمن هغه دی چې خلک پرې باور لري او د همدې باور پر بنسټ خپل مال او ژوند ورته سپاري.

• راکړه ورکړه په هغه صورت کې چې توپير ونه لري، د دواړو اړخونو په خوښۍ سره کېږي؛ که دوی رښتيني او پاک وي په سوداګرۍ کې به يې برکت وي، خو که دروغ وايي او رښتيني نه وي نو برکت يې له منځه ځي.

## د کتاب ځانګړني

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم په پښتو: | **اسلام او اقتصاد؛ د سوداګریز بازار، اخلاقو او عدالت پېژندنه** |
| د کتاب نوم په انګلیسي: | Islam & Economics; A Primer on Markets, Morality and Justice |
| لیکوال: | **علی سلمان** \| Ali Salman |
| ژباړن: | **محمد باسط واحدي** |
| اهتمام او نوښت: | **محمد خالد رامزی** |
| اېډېټر: | **حبیب وقار** |
| خپرندوی: | **د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسه** (AELSO) |
| ډیزاین: | **خواجه الهام رستمی** |
| ټوک شمېر: | **۱۰۰۰ټوکه** |
| چاپ وار: | **لومړی، پسرلی ۱۴۰۱** |
| بیه: | **۲۰۰ افغانۍ** |
| ویب پاڼه: | www.AELSO.org |
| اړیکې شمېره: | +93 20 210 63 49 \| +93 700 25 32 16 |
| برېښنالیک: | publications@aelso.org |

ISBN 978-880595-46-6 (paperback)
ISBN (eBook) 978-1-880595-40-4

په افغانستان کې د دې کتاب د چاپي، برېښنايي او بل هر ډول خپراوي ټولې رښتي د امریکا متحده ایالاتو د اکټون انستیټیوټ لخوا د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسې (AELSO) ته ورکړل شوي. له اجازې پرته یې هر ډول چاپي او برېښنايي خپاروی منعه او د کړنې په صورت کې قانوني چلند ورسره کېږي.

'First published by the Acton Institute, U.S.A, in 2021.'

## د خپرندوی یاددښت

د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسه (AELSO) یوه غیر دولتي، غیر انتفاعي، غیر سیاسي او ازاده مؤسسه ده چې د پېژندل شوو افغان او نړیوالو اقتصاد او حقوق پوهانو له خوا یې د ۲۰۰۹م کال په ډسمبر کې، په کابل کې کار پیل کړی. یاده موسسه د خپلو کړنو له پیل څخه په هېواد کې د یوې غوره فکري خونې په توګه توانېدلې چې د علمي پروګرامونو، د کتابونو چاپ او خپراوي، څېړنیزو او راډیویي خپرونو له لارې د خپلواکې ټولنې د ارزښتونو د علمي پېژندنې؛ لکه د بشر حقونو، فردي خپلواکۍ، د قانون حاکمیت، د بازار اقتصاد، ښه حکومتولي، ولسواکي، د یو بل منلو او سولې کلتور خپراوي، له افراطیت سره مبارزه او اړوند نور علمي بحثونه چې کولای شي د اسلام د مقدس دین په چوکاټ کې د افغانانو فکر نړیوالتوب او د خپلواکې ټولنې له ارزښتونو څخه ښه درک ولري نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

په افغانستان کې د خپلواکې ټولنې د ارزښتونو او په علمي توګه د هغې د اقتصادي او حقوقي بنسټونو د لاښه پېژندلو له پاره د کتابونو د ژباړې او خپراوي او همدارنګه د علمي مقالو د لړۍ په درشل کې؛ یو ځل بیا دغه کتاب «اسلام او اقتصاد» د پېژندل شوي پاکستاني عالم، اقتصاد پوه، د اسلام او خپلواکۍ د شبکې بنسټګر او زما د نږدې ملګري علي سلمان له خوا لیکل شوی، په پښتو ژبه وژباړه، ترڅو د افغانانو په ځانګړې توګه پښتنو د علمي سویې د لوړېدو لامل شي. دغه کتاب په انګلیسي ژبه د امریکا متحده ایالاتو د اکټون انستیټیوټ له خوا خپور شوی چې اړوندې موضوع ګانې یې په افغانستان کې د اسلام د مقدس دین په چوکاټ کې د بازار اقتصاد، اخلاقو، عدالت او اقتصادي نظام په پېژندلو کې له موږ سره مرسته کوي.

له شک پرته چې دا کتاب کولای شي، د اسلامي اصولو په رڼا کې د بازار د اقتصاد په پېژندلو کې له لوستونکو سره مرسته وکړي او باوري یم چې هر لوستونکي او ګټه اخیستونکي ته به په اسلام کې د اقتصادي موضوعاتو له پاره یو غوره موخذ وي. موږ په دې باور یو چې د ورته کتابونو ژباړه، خپراوی او د بشري ټولنې معاصر ارزښتونه لکه بشري حقونه، د قانون واکمني، ښه حکومتولي، دیموکراسي، سوله او یو بل منل او د خپلواکې ټولنې نور ارزښتونه د مطالعې د مینوالو د سویې په لوړولو او د ټولنې په پرمختګ کې رغنده ارزښت لري. دا چې دا کتاب نه یوازې د افغانستان بلکې د ټولو پښتنو له پاره چاپ او خپور شي نو په کتاب کې د پښتو ژبې له ساده او اسانه کلمو ګټه اخیستل شوې، هیله لرو چې لوستونکي یې د ستونزو په ګوته کولو کې له موږ سره مرسته وکړي ترڅو په بیا ځل چاپېدو کې اصلاح شي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو په مؤسسه کې له ټولو همکارانو، د کتاب له ژباړن ښاغلي محمد باسط واحدي او همدارنګه له ټولو ملي او نړیوالو همکارانو چې د کتاب په ژباړه او چاپ کې یې له موږ سره مرسته وکړه، مننه وکړم. د لوی رب په مرسته؛ د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسه (AELSO) هڅه کوي چې د افغانستان په ملي ژبو د علمي کتابونو د ژباړې، چاپ او خپراوي تر څنګ علمي خپرونو ته ادامه ورکړي او د هېوادوالو په ځانګړې توګه پښتنو د علمي سطحې د لوړولو په برخه کې رغنده رول ولوبوي. د یوه اباد، خپلواک، پرمختللي او له هر ډول تعصب او جګړو پرته افغانستان په هیله.

په مننې

**محمد خالد رامزي**

د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسې اجرایوي رییس او په پیټسبرګ پوهنتون کې څېړونکی

د مې ۷، ۲۰۲۲- پیټسبرګ، پنسیلوانیا- د امریکا متحده ایالات

# لیکلړ

| عنوان | پاڼه |
|---|---|

**سریزه** ..... ا
ایا اسلام د ازاد بازار پلوی دی؟ ..... ح
اسلام د یوه دیني اقتصاد په توګه ..... ن
غیر اجباري تګلاره ..... ع
پایله ..... ق
اسلام او اقتصاد ..... ش
مننلیک ..... ث
پېژندنه ..... ذ
**۱. لومړی څپرکی** ..... ۱
اسلام، بازارونه، اخلاق او عدالت ..... ۱
اخلاق ..... ۲
عدالت ..... ۳
**۲. دویم څپرکی** ..... ٤
د اسلامي اقتصادي چوکاټ اصول ..... ٤
۲.۱. د مالکیت اصول ..... ۵
۲.۱.۱. د طبیعي زېرمو عامه ملکیت ..... ٦
۲.۱.۲. د شخصي ملکیت حرمت ..... ۱۱
۲.۲. د شتمنۍ جوړونې اصول ..... ۱٤

## لیکلړ


| عنوان | پاڼه |
|---|---|
| ۲.۳. د شتمنۍ د دوران اصول | ۱۷ |
| پایله | ۲۱ |
| **۳. درېیم څپرکی** | ۲۲ |
| د اسلامي اقتصادي چوکاټ بنسټیز اصول | ۲۲ |
| ۳.۱. د بیو خپلواکي | ۲۲ |
| ۳.۱.۱. تسعیر (د بیو کنټرول) | ۲۳ |
| ۳.۱.۲. خلیفه عمر او د بیو کنټرول | ۲۷ |
| ۳.۱.۳. د بیو کنټرول او برابري | ۲۸ |
| ۳.۱.۴. لیک او د قانون روح | ۲۹ |
| ۳.۲. خپلواکه سوداګري | ۳۰ |
| ۳.۳. د بازار مقررات | ۳۱ |
| ۳.۳.۱. له سر غړوونکو سره چلند: د امر دفتر | ۳۲ |
| ۳.۳.۲. د سوداګرۍ محدودیتونه | ۳۳ |
| ۳.۳.۳. احتکار: له بریالي موقعیت څخه ناوړه ګټه | ۳۸ |
| ۳.۳.۴. په بیو کې د مداخلې لارې چارې | ۴۰ |
| ۳.۴. سره زر، پولي واحد او مرکزي بانکداري | ۴۱ |
| ۳.۵. سود او د هغه اسلامي بدیل | ۴۷ |
| ۳.۶. اسلامي مالي تګلاره | ۵۴ |

## لیکلړ

| عنوان | پاڼه |
|---|---|


۳.۷. وقف ـــ د خلکو له خوا د خلکو ټولنیز خوندیتوب ٦٠

۳.۸. د میراث قانون ٦٣

**٤. څلورم څپرکی** ٦٥

اسلامي اقتصادي چوکاټ ٦٥

لومړی ضمیمه ٦٨

د اسلامي اقتصاد بدلون ٦٨

ایا اسلامي اقتصاد د پلان او که د بازار پر بنسټ دی؟ ٦٩

ایا د ټولنیز ویشونکي عدالت له پاره، بازار ځواب ویونکی کېدی شي؟ ٧٢

د فردي اخلاقو جوړول، د اسلامي اقتصاد وضعیت ٧٥

ایا زموږ عصریتوب شاته ګرځي؟ ٧٧

اقتصادي خپلواکي، ټولنیز عدالت تضمینوي ٧٩

دوهمه ضمیمه ٨١

اسلام او کپیټلېزم، د مودودي لرلید ته بیا کتنه ٨١

غامدي: د محدود حکومت له پاره دیني څېړنه ٨٦

سرچینې او اخځلیکونه ٩٨

# سریزه

## اسلام او د اقتصادي خپلواکۍ پولې

سوق عربي کلمه ده له سقا اخیستل شوې او «بازار» ته ویل کېږي. مانا دا چې یو څوک یا یو څه یوه ځانګړي ځای یا لارې ته ورسوي، لکه څنګه چې «شپون خپله رمه ځانګړي څړ ځای ته رسوي». د سلطنت د پیروانو نوم هم له ورته ریښې سقه څخه اخیستل شوی دی. ځکه د سلطنت پیروان او څاروي دواړه په خپلو مادي برخلیکونو محدود واک لري، دوی د سختیو پر وړاندې مقاومت نشي خو په ټوله کې د حکم تابع وي. د حکمونو پر وړاندې د بې پروایۍ ښودلو ازادۍ ته عربان اختیار وایي.

په هر صورت، ټاکنه د خپلواکه او مسؤلانه عمل له پاره یو مهم عنصر دی، ځکه د خپلو انتخابونو د پوره کولو له پاره له خپلواکو کړنو او فرصتونو پرته، په ژوند کې د خوښۍ لټون کم رنګه کوي. دا وړتیا چې له خپلې خوښې سره سم په ازاده توګه حرکت وکړې، یا هغه څه چې پوسټ ماډرنیستان د «څواک» په نوم یادوي، له عربي (حریه) کلمې سره ورته والی لري. د حریې برعکس رقیق «بندګي» ده او بندګي ځانګړي حدود لري. او د یو چا وقار تر ډېرې کچې د هغه د ازادۍ پر حد پورې تړلی دی. د حریې تر ټولو ښکته حد دا دی چې غلام نه یې. تر ټولو لوړه درجه یې دا ده چې د داسې مادي شرایطو تر اغېز لاندې رانه شي چې هغه خوښي له منځه وړي. په اخلاقي ډګر کې د پلي کېدو په صورت کې، د خلکو تر ټولو خپلواک هغه څوک دي چې په خپلو احساساتو او لیوالتیاوو واک ولري. د مصري حکیم په قول، «ته له څه شي خپلواک یې چې هیله دې د هغه څیز غلامه ده چې تمه یې لرې» (السکندري، فقهي ټوک ۶۲).[1]

۱. احمد ب. عطاء الله سکندري، الحکم العطایه (دمشق: حسن السماهي سویدان، ۱۹۹۷)، ۲۳.

په یو بل عبارت کې هغه وایي چې: هېڅکله یو شی نه خوښوي اما ترڅو یې چې غلام نه شې او الله تعالی هېڅ نه خوښوي تاته چې ته دې شي پرته له هغه د بل څه شي غلام» (السکندریه، فقهي ټوک ۲۱۰).[۱] دې دواړو (مستقیم) انتخاب او (محدودې) خپلواکی د انسانانو په سوداګریزو پرېکړو اغېز کړی په دې اند چې بازار په تېره بیا په عربي نړۍ تل په ازاده توګه (د څارویو رمې) او وخت ناوخت د قانون جوړوونکو له خوا مداخلې (شپون) سره سم کړنې ترسره کړې دي. لکه څنګه چې د یو سلطنت ساتلو له پاره کېدای شي له زور او قانوني کړنو کار واخیستل شي، پسونه د لرګي په زور د شپون له خوا ټاکلي ځای ته لارښوونه کېږي. په روښانه توګه، بازارونه تر هغې کچې وده کوي چې پیرودونکي او پلورونکي په خپله خوښه له سوداګرۍ منعه شوي نه وي. خو د درغلۍ او ناوړه اقتصادي ګټې اخیستنې ضمانت هېڅوک هم نه شي کوی. په دې دلیل، له یوه اړخه دولت باید د پرېکړه کوونکي دندې په ترسره کولو ډاډه شي چې حرص او تمه په بازار ناوړه اغېزې نه لري او د انساني ودې د ټکنې کېدو لامل نه ګرځي، خو بل لور ته باید په بازار کې دومره مداخله ونه کړي چې د سوداګرو هڅې، نوښت او لېوالتیا ته د پای ټکی کېږدي.

له کله چې اسلامي ټولنو له اروپایي استعماره د خلاصون لار خپله کړه، دوی د غربي اقتصادي نظریو په نسبت خپلو هغو اقتصادي نظریو ته چې دوی له اسلامه زده کړې وي مخه کړه. د شوروي اتحاد پر مهال چې امریکایي او اروپایي واک ته لوی ګواښ و، د اسلامي هېوادونو له پاره د لوی اقتصاد ټاکنه کپیټلېزم او یا هم سوسیالېزم بلل کېده.

۱. السکندري، الحکم العطایه، ۵۰.

په هر صورت، د اسلامي اصلاحاتو د اصولو له پاره اسلامي کلتور وڅېړه، ترڅو یو اصلي سیاسي اقتصاد جوړ کړي.[1] اسلامي اصلاحاتو د غربي تمدن پر وړاندې مقاومت وکړ او په ډېرو انساني او ټولنیزو د بېلګې په توګه، دولت او اقتصادي سېستم کې یې نوې تیوري ګانې او ماډلونه وړاندې کړل. «اسلامي مالي سېستم» او «له شرعې سره سم قوانین» یې وروستۍ رامنځ ته شوې بېلګې دي چې له اسلامي اصولو سره سم د سوداګریزو راکړو ورکړو حدود ټاکي.[2] که غرب پرمختګ نمانځي، د مسلمانانو غبرګون په لویه کچه ورته په یوه او بله بڼه د دودونو نمانځل دي.

پر دې بنسټ، اسلامي علماوو او پوهانو د راکړې ورکړې د پلي کولو په اړه د پوهې او لاربښوونې له پاره شاته وخت ته ور ګرځي چې تاریخ یې له غرب سره وګوري او له اسلامي قانون سره یې چلند له منځه یوسي. معاصر فقهاء د معاملاتو د تایید او حل له پاره په کلاسیکه فقه کې د اختلافاتو له کبله له تلفیق، تتبع رخص او حیال ګټه اخلي.

١. یو له دغو اصلاح غوښتونکو څخه د برصغیر پېژندل شوی لیکوال، سیاسي کارپوه، او عالم مولانا سید ابوالاعلی مودودي (ومړ.١٩٧٩ م) و چې په پاکستان او اسلامي نړۍ کې یې په اقتصادي فکرونو ځانګړی اثر درلود. هغه په ١٩٦٩م کال په اردو ژبه د اقتصاد په اړه خپل لومړنی کتاب د معشیت الاسلام په نامه چې بیا وروسته په انګلیسي ژبه د اسلامي اقتصاد لومړي اصول تر عنوان لاندې احمد امام شفق هاشمي وژباړه او خورشید احمد یې سمون ترسره کړ. ed. Khurshid Ahmad, trans. Ahmad Imam Shafaq Hashemi (Markfield, UK: Islamic Foundation ,٢٠١١).

٢. مصري اقتصاد پوه محمود اې. الجمال معاصر په خپل کتاب اسلامي مالي چارې: قانون، اقتصاد او عمل کې اسلامي اقتصاد د «شکل» او «منع محوره» په توګه توصیفوي. Islamic Finance: Law, Economics, and Practice (Cam-bridge: Cambridge University Press ,٢٠٠٦).

که څه هم په دې اړه تاریخي غبرګونونه شته، خو ډېری له همدې فقهاوو هم له پورته لارو ګټه اخیستنه د نوو فقهاوو له پاره جایز نه بولي، ځکه دوی به «عجیبه پرېکړې» وکړي، کومې چې قران منع کړې دي.[1]

که څه هم ډېری علماء په اسلامي اقتصادي او مالي چارو کې د اوسنیو ستونزو له پاره له دغې «انطباقي فقهې» ګټه اخلي، لږو یې جرات کړی داسې شرایط برابر کړي چې پکې یو فرض شوی (اسلامي) اقتصادي سېستم وده وکړي. داسې یو نظم چې بنسټ یې د اعتبار وړ پولي واحد وي. داسې کړنې چې ناشونې نه وي، خورا ستونزمنې دي؛ د پاملرنې په توګه. په ۲۰۱۴ م کال[2] شیخ ډاکټر عبدالقادر الصوفي او د هغه المرابطون خوځښت د سرو زرو دینار او د سپینو زرو درهم د اسلامي پولي واحد په توګه بېرته رواج کېدو مخالفت وکړ.

۱. د تلقیق، تتبع رخص او حیال په توګه د بېلابېلو نظرونو له پاره محمد امنو البوطابي وګورئ، «المقبول و المردود من تطابوی الرخاص و التلفیق بینا.
المذاهب» [به عربی]، مجلل المذهب المالکی (۲۰۰۶): ۶۱-۱۰۳.
۲. شیخ ډاکټر عبدالقادر الصوفي چې په ان دلاس مشهور دی، یو پېژندل شوی سکاټلنډی مسلمان دی چې په ۱۹۶۷ م کال په مراکو کې د اسلام په دین مشرف شو. هغه یو صوفي مشر او د مرابطن نړیوال خوځښت بنسټګر دی چې په بېلابېلو هېوادونو کې پلویان لري او هسپانیه یې مرکز دی. دغه خوځښت د یو قوي اسلامي حکومت د بېرته جوړېدو له پاره د ذکات اصلي حالت ته راتلو له پاره کوي او استدلال یې د نړی اقتصادي سېستم ته بېرته د سرو زرو راتګ او له اسلامي اړخه د اوسنیو کاغذي پیسو بې اهمیت بلل دي. دغه خوځښت د کپیټلېزم خلاف دی خو سوسیالېستي نظام هم نه خوښوي. که څه هم، په ۲۰۱۴ م کال الصوفي وویل: «زه له هر ډول فعالیت څخه چې هغه د طلا دینار او د سپین زر درهم وي ځان لرې ساتم.
/۱۱/۰۲/۲۰۱٤/Shaykh Dr. Abdalqadir as-Sufi (website), https://shaykhabdalqadir.com
./the-islamic-dinar-a-way-stage-passed

هغه زیاته کړه، «زه له هر ډول فعالیت څخه چې د سرو زرو دینارو او سپینو زرو درهمو په اړه وي ځان لرې ساتم».[1] په بل عبارت، ستونزمن حالت دا دی چې هېڅوک نه شي کولای د لویدیځ د اقتصاد له اغېزه تر هغو په امن پاتې شي چې دوی د طلا ارزښت ټاکي او کاغذي پیسو ته د مساوي بدیل په سترګه ګوري چې دا د المرابتون خوځښت یو له بنسټیزو انګېرنو چې د کاغذي پیسو ارزښت له عادي کاغذ څخه توپیر نه لري، تر پوښتنې لاندې راولي. که داسې وي، نو په دې مانا چې کله مسلمانان سره زر په کاغذي پیسو بدلوي یو غیر قانوني کار کوي، ځکه چې په اسلام کې د یوه با ارزښته څیز بدلول له یوه بې ارزښته څیز سره جایز نه دي.

د لویدیځو هېوادونو په سیاست کې له زیاتې ونډې سره نن ورځ په ځانګړې توګه د سوسیالېستي او کپیټلېستي تګلارو د اړوندو ګټو د اړیکو په اړه د بحث په رڼا کې، مسلمانان یو ځل بیا د سوسیالېستي او کپیټلېستي نظامونو له ټاکنې سره مخ دي. یا په بل ډول، د دواړو له ترکیب او یا هم یو پر بل له غوره کولو سره مخ دي. که په طبیعي ډول ووایو، د نړۍ له پنځوس سلنه ډېره شتمني د یو سلنه خلکو په واک کې ده.

۱. شیخ ډاکټر عبدالقادر الصوفي وایي، مخکې له دې چې یوه داسې ټولنه جوړه شي چې حلالې کړنې ترسره کوي د ذکات په ورکړې سره باید یوه نوې او پراخه تګلاره غوره شي. نارینه باید پرته له کپیټلېستي مالي بنسټونو، په راکړې ورکړې، لاس په لاس او یا هم له لرې واټن په راوړلو سره سوداګري وکړي.
پر دې بنسټ د جوړې شوې راتلونکې کړنې له پاره، په ټولو مسلمانانو غږ کوم چې له سوده پرته کلتور پیل او عام کړي.
بنا، وروسته له دې ما له هغو کړنو واټن ونیو چې د اسلامي سرو زرو دینارو او سپین زرو درهمو په اړه وي.
زه د دې بنسټونو او کړنو د پای ته رسېدو غوښتنه کوم. د نننی کپیټلېزم دفاعي تګلاره او د بحران د مدیریت چاپېریال، پیر، پلور او په سرو زرو د بدلېدو د ناوړه بیو او مالیو په واسطه ترسره کېږي.
شیخ ډاکټر عبدالقادر الصوفي، «اسلامي دینار—یو تېره شو پړاو،» Shaykh Dr. Abdalqadir as-Sufi (website), February ۱۱, ۲۰۱٤, https://shaykhabdalqadir.com/۲۰۱٤/۰۲/۱۱/the-islamic-dinar-a-way-stage-passed/.

لوړه مالیه، د خوراکي توکو انحصار، د شرکتونو پرمختګ او د اجرایوي رییسانو او عادي کار کوونکو تر منځ د معاش توپیر یو له څو دلایلو څخه دي چې ولې خلک سوسیالیستي سیستم ته د کپیټلیزم په نسبت خوښي ښيي، په داسې حالت کې چې د خلکو په منځ کې بدنامه شوې او د له منځه وړو غوښتنه یې کوي. که ستاسې مالیه د وال سټرېټ د پایښت له پاره ځانګړې کېدای شي، ولې باید د نورو کړنو له پاره ځانګړې نه شي؟

له بلې خوا د شتمنو د ګټو په اړه څه ویل کیدای شي؟

ایا داسې شواهد شته وښيي، د دوی بډایتوب تل د غریبو خلکو مستقیم استثمار دی چې د ژوند حالات یې دې ته اړ باسي، د ژوندې پاتې کېدو له پاره خپلې ګټې قرباني کړي؟

او یا هم خلک د عرضې او تقاضا د قانون پر بنسټ پرېکړې کوي، هغه څه پېري چې غواړي یې او خوښېږي یې؟

ایا یو شرکت باید په دې محکمه شي چې پېرودونکو ته د دوی د خوښې توکي او وړ کسانو ته دندې برابروي؟

ایا دا د شرکت یا سوداګرۍ اخلاقي نیمګړتیا ده چې پېرودونکي د دوی محصول خوښوي، خپلې پیسې پرې لګوي، یا ان له توکو سره غیر صحي تړاو جوړوي؟

ایا له هغه سوداګر سره عدالت شوی چا چې د خپلې راتلونکې له پاره په زده کړو کې هڅه کړې، پلان یې نیولی، یوې نوې نظریې ته یې وده ورکړې، په داسې توګه چې دولت د لوړو مالیاتو په وضعه کولو د هغه شتمني غصب او بیا یې په نورو خلکو په داسې توګه وېشي چې په لاسته راوړلو کې یې هېڅ هڅه نه ده کړې؟

د ټولنې په یووالي کې د یو کس د منفي توب، ځان خوښیتوب او بې خدایي توب اهمیت څه دی ترڅو غوره اقتصادي کړنې ترسره کړي؟ قرانکریم په دې اړه فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا (۲۹).

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! مه خورئ تاسې مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره! مګر (خورئ یې) که وي دا مالونه د سوداګرۍ په خوښې د یو او بل سره او مه وژنئ تاسې ځانونه خپل (یعنې یو بل، یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاکت سبب وي) بېشکه الله تعالی دی پر تاسې ډېر مهربان.[۱]

په بل عبارت، الله تعالی په ناوړه توګه د یو بل حق خوړل منعه کړي او د دواړو اړخونو په خوښۍ سره یې د توکو په انتقال خوښې څرګنده کړې. په دې اړه ویل کېدای شي چې د پلورونکي په شتمن کېدو کې ستونزه نشته تر هغو چې پېرودونکی له هغه په خپله خوښه توکي اخلي. اما «مه خورئ د یو بل حق په باطل سره» دوه بېلابېلې لارې نه دي؟ ایا مصرف کوونکي حق نه لري د شتمنو مال د کوم شي له بدل پرته ولګوي، لکه څنګه چې شتمن د غریبو مال د کوم څه له بدل پرته لګوي؟ د ۲۰۰۸ م کال مالي بحران یوازې د شرکتونو په حرص پورې نشي تړل کېدای. که حرص یوازې په وال سټریټ کې وي، نو ایا داسې انګېرلی شو چې د ټولنې وګړي له حرص خالي دي.[۱]

---

۱. علي، عبدالله یوسف، د قران مجید عصري انګلیسي ژباړه: معنی او تفسیر (جده: دار القبله شرکت د اسلامي ادب له پاره ۱۹۹۸)، ۱۶۵.

## ایا اسلام د ازاد بازار پلوی دی؟

يٰاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الاَحبَارِ وَالرُّهبَانِ لَيَاكُلُونَ اَموَالَ النَّاسِ بِالبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّٰهِ وَالَّذِينَ يَكنِزُونَ الذَّهَبَ وَالفِضَّةَ وَلَايُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَبَشِّرهُم بِعَذَابٍ اَلِيمٍ ﴿۹:۳٤﴾ يَّومَ يُحمٰى عَلَيهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكوٰى بِهَا جِبَاهُهُم وَجُنُوبُهُم وَظُهُورُهُم هٰذَا مَا كَنَزتُم لِاَنفُسِكُم فَذُوقُوا مَا كُنتُم تَكنِزُونَ ﴿۹:۳۵﴾

ژباړه: اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! بېشکه ډېر له عالمانو (د یهودانو) او عابدان (د نصرانیانو) خامخا خوري دوی مالونه د خلکو په باطل (رشوت) او منعه کوي خلک د الله تعالی له لارې او هغه خلک چې سره او سپین زر ټولوي او نه لګوي د الله تعالی په لاره کې، نو دوی ته د دردناک عذاب زېری ورکړه. په هغه ورځ به سختې سرې کړل شي دغه خزانې په اور د دوزخ او وبه داغي وچولی (تندی) د دوی، اړخونه د دوی او شاګانې د دوی (او دوی ته به وویل شي): دا هغه شی دي چې خزانه کړي وو تاسې له پاره د نفسونو (ځانونو) خپلو، نو وڅکئ تاسې (سزا) د هغه مال چې خزانه کاوه به مو (په دنیا کې اوس درته بلا شوه په عقبا کې).[۲]

د قرانکریم دغه ایت ګڼ مفهومونه لري، په شمول د دې چې اقتصادي کړنې له اسلامي پاملرنې بېلې نه دي. دا د سپینو او سرو زور د احتکار د منعې تر څنګ د لګښت بېلابېلې لارې هم ښيي. وایي چې «او نه يې لګوي د الله تعالی په لاره کې) همدارنګه له دې مخکې ایت (۴:۲۹) د ځانګړې موخې په اړه پیلېږي (په ناوړه توګه د شتمنۍ خوړل». یعنې په دې مانا چې له چا یو شی اخیستل او په بدل کې ورته هېڅ نه ورکول. همدارنګه احتکار کوونکو ته چې سپین او سره زر ساتي او د الله تعالی په لاره يې نه لګوي د دوزخ د اور یادونه کوي او وایي چې پولي واحدونه باید ونه ساتل شي او په دوران کې وي.

---

۱. د قران او حدیث ذکر شوې ژباړه زما ده خو که ذکر شوې نه وي.

۲. دغه راپور ابو داود، ابن مرادوی او الحکیم خپور کړی او وایي چې دې حدیث د بخاري او مسلم معیارونه پوره کړي دي.

د دوه اړخيزو نېکمرغيو پر بنسټ د سوداگرۍ د ازادۍ کړنې له پاره د ډاډ بله هېڅ لاره نه ده پاتې. دا ايت همدارنگه وړانديز کوي چې شتمن بايد ټوله شتمني په واک کې ونه نيسي او بايد غريبو ته د لاسرسي زمينه برابره کړي. که څه هم دغه ايت په مدينه منوره کې هغه وخت نازل شو چې ذکات نه و فرض شوی، بېلابېل محدثين[1] وايي، د اسلام دوهم خليفه حضرت عمر بن خطاب له حضرت محمد (ص) څخه په قرانکريم (۹: ۳۴-۳۵) کې د يادو شوو سرو او سپينو زرو په اړه وضاحت وغوښت.

عمر (رض) د رسول الله (ص) د اصحابو ناخوښي ښرگنده کړه، چې دوی به نور سره او سپين زر نه ساتي. په همدې توگه، پيغمبر (ص) ځواب ورکړ، «الله تعالی په تاسې ذکات فرض کړی، ترڅو مو پاتې شتمنۍ سالمې وگڼل شي او همدرانگه يې له دې دنيا له رحلت وروسته پر تاسې ميراث وضعه کړی» (ابوداود، حديث نمبر ۱۶۶۴). [2]

همدارنگه ويل کېږي چې دغه ايت د ټولنې د دريو هغو پېژندل شوو کسانو په اړه خبرې کوي چې فساد يې د مدنيت د له منځه تلو سبب گرځي او هغه علماء، زاهدان او شتمن دي. ابن کثير وايي:

۱. ابوداود سليمان ب. الشاعة السجستاني، سنن ابوداود [په عربي کې]، ۷ ټوک، نسخه. ايس ارناوت، ايم کی بالالی او ايس ايم الشياب (دمشق، سوريه: دارالرساله العالميه، ۲۰۰۹)، ۳:۹۷ (ليکوال ژباړه). د فارسي عالم ابوداود (متوفی ۸۸۹/۲۷۵) را ټول شوی حديث (د رسول الله صلی الله عليه وسلم) په سنن ابو داوود کې شامل دی چې په پراخه توگه د شپږو اساسي مجموعو د حديث (کتب السطة) څخه گڼل کېږي. د پرليکه او په بېلابېلو ژبو د ډېټا بيس له پاره وگوري، SUNNAH.COM AT HTTPS:// SUNNAH.COM/.

۲. ابن کثير، تفسير القرآن العظيم. بيروت: معاصة الکتب ثقفيه، ۱۹۹۶، ۳۳۵/۲.

«ایـا دیـن بـل چـا دومـره خـراب کـړی لکـه څومـره چـې پادشـاهانو، علـماوو او زاهدانـو کـړی»؟ لـه «پادشـاه» څخـه یـې موخـه «شـتمن» دي.[1]

ځینـي اسـلامي اقتصـاد پوهانـو منلـې چـې اسـلامي پـولي واحـد (دلتـه د سرو او سـپینو زرو پـه شـکل) شـته او پـه اړه یـې د پوهېدلـو لـه پـاره د همـدې سرو او سـپینو زرو د احتـکار منعـه کېـدل راوړل شـوي (۹: ۳۴-۳۵ ). همدارنګـه د قرانکریـم ځینـو ایتونـو د دینـار (۳: ۳۷) او درهمـو (۱۲: ۲۰) یادونـه هـم کـړې چـې پـه لومړیـو وختونـو کـې پـه اسـلامي ټولنـو او چاپېـره امپراتوریـو کـې د پـولي واحـد پـه توګـه اسـتفاده کېـدل. سره لـه دې، دا پایله شـاید یـوازې قیـاس او تخیـل وي، ځکـه دینـار او درهـم پـه پراختـه توګـه د فـارس او بازنطینـي پـه امپراتوریـو کـې اسـتفاده کېـدل. ځینـې وایـي چـې خپلـه دې کلمـې لـه فـارسي څخـه سرچینـه اخیسـتې چـې غیـر اسـلامي ریښـه لـري. همدارنګـه تاریـخ ښـودلې ده چـې د امـوي خلیفـه عبدالمالـک بـن مـروان (ومړ.۸٦ق/۷۰۵م) تـر وختـه مسـلمانانو خپـل ځانګـړي اسـعار نـه دي جـوړ کـړي. دا پـه دې مانـا چـې لـه دې مخکـې مسـلمانانو پـه منظمـه توګـه پـه هغـو اسـعارو راکـړه ورکـړه کولـه چـې مسـیحي او زرتشـتي نښـې یـې درلـودې.[2]

لـه دې ښـکاري چـې دینـار او درهـم د یـوه ځانګـړي اسـلامي پـولي واحـد یـا د شریعـت لـه اصولـو سره سـم پـولي واحـد پـر ځـای، پـه عـربي او اسـلامي نـړۍ کـې د فـارسي او بیزانـسي امپراطوریـو سره هـم مهالـه ګټـه اخیسـتنه یـو تصـادفي کار دی.

۱. د لومړنیـو عربـو واکمنـو مسـلمانانو تـه د غیـر عربـو د کړنـو پـه اړه، پروفیسـور فریـډ ډونـر او جـان بروکـپ ریچـارډ بلېـټ اثـار وګـورئ.

۲. امـام مالـک رحمـت اللـه علیـه فرمایـلي دي «کـه پوسـتکی د خلکـو پـه منـځ کـې د یـو مشـترک څیـز پـه توګـه لکـه څنګـه چـې (عیـن مسـکوکات) منـځ تـه راتـه، مـوږ بـه یـې پـه سرو او سـپینو زرو د ناوختـه پرداخـت د پلـور مخـه نیولـه. (ځکـه دا سـودي راکـړه ورکـړه بلـل کېـږي).» محمـد التاویـل را نقـل کـړي: «پـه پیسـو زکات او وروسـتي پرمختګونـه یـې: ولـې بایـد سـپین زر د پـه کاغـذي پیسـو د ذکات د ورکـړې پـر مهـال اسـاس وي،» د عبداللـه بـن حامـد عـلي ژبـاړه.

/۰٦/۲۰۱۸/HTTPS://LAMPPOSTEDU.ORG/WP-CONTENT/UPLOADS ,(۲۰۱۱,LAMPPOSTEDUCATION INITIATIVE)

.ZAKAT-ON-PAPERMONEY.PDF

همدارنګه، عبدالمالک بن انس (ومړ.١٧٩ هـ/ ٧٩٥ م) وايي که مسلمانانو په پوستکو راکړه ورکړه کوله، د ربا (سود) قوانين به پرې د پلي کېدو وړ وو. [١] د امام مالک په اند سره او سپين زر اسلامي پولي واحدونه نه وو، بلکې دا په نړيواله کچه د راکړې ورکړې ارزښت لرونکي پولي واحدونه يا سکې وې. په حقيقت کې اسلامي اقتصاد پوهان او د فکر خاوندان د لويديځ تمدن واکمنۍ ته په ځواب کې په دې نه دي توانېدلي پوه شي چې سياسي اقتصاد، دولتي جوړښت او سوداګريزې کړنې په ټوله مانا د انساني اړيکو او کلتوري راکړو ورکړو برخه دي. نبي کريم (ص) د دولت جوړونې په اړه د مشورې، د وړ کس استخدام، د هغو له پاره چې خپله يې غوښتنه کوي د دندې نه ورکړه، د حاکم له اطاعت منلو پرته ښکاره لېدلوری نه دی پرېښی. هغه د قانون او دولت جوړونې د اصولو په اړه ښکاره لاره نه ده څرګنده کړې.

داسې هېڅ شواهد نشته، مسلمانان يې دې ته هڅولي وي چې امير ته «خليفه» او حکومت ته «خلافت» ووايي. بلکې ډېری شواهد ښيي چې دغسې لقبونه په نورو ځايونو کې د دوی سياسي سيالان ښيي، د بېلګې په توګه د پارس شاه، د روم امپراتوری سزار، د مصر فرعون، د حبشې نقوس او د يمن طوباء، ورته کړنې د اقتصاد او ماليې په برخو کې تر سترګو کېدی شي، په دې اړه لږ دلايل شته چې پيغمبر (ص) د پخواني سېستم پر ځای يو نوی اقتصادي بديل وړاندې کاوه. ايا دا امکان لري چې نه اسلامي پولي واحد او نه هم اسلامي مالي سېستم موجود وي، بلکې يوازې پولي واحد او مالي سېستم وي؟

د دې پر ځای چې اسلام ته د غرب د دښمن په سترګه وکتل شي برعکس، ايا نشو کوی په ساده توګه ومنو چې کلتوري راکړې ورکړې د انساني تعاملاتو برخه او يو فرا تاريخي امر دی؟

١. محمد ب. اسماعيل البخاري، صحيح البخاري (بيروت: دار ابن کثير، ٢٠٠٢، ٥٠٨. فارسي عالم البخاري (م. ٢٥٦ هـ ق.٨٧٠) را غونډ شوی، حديث (د رسول الله صلی الله عليه وسلم) په صحيح بخاري کې شامل دي، کوم چې په پراخه کچه د حديثونو له شپږو معتبر مجموعو ګڼل کېږي،(کتب السطة).

په هغه قران کې چې مسلمانان يې تلاوت کوي د عربي ژبې پر کلمو برسېره داسې کلمې هم شته چې سرچينه يې له عبري، فارسي، سرياني، يوناني او حبشي څخه اخيستل شوې ده. لومړنيو اسلامي حاکمانو د ځينو اداري اصولو په منلو سره يهودان او نور غير مسلمانان په مهمو دندو وګمارل او ان اجازه يې وکړه چې سرشمېرنه دې له عربي پرته په نورو ژبو هم ثبت شي. همدارنګه نبي کريم (ص) د کلتور خلاف نه و هر کله به چې پوه شو، دين او پيروانو ته يې ګټه رسېږي. که څه هم اسلام ذکات (کم مقدار ورکړه) فرض کړې، خو په دې اړه د باور له پاره قوي دلايل نشته چې دين د يو اصولي او منظم بازار په لور دی. د بېلګې په توګه، نبي کريم (ص) فرمايي: «د پلور او پير دواړه خواوې د مال له وېشل کېدو مخکې د لغوه کېدو واک لري».

نو، که دوی رښتيا ويل په بدل کې برکت او که دوی (عيبونه پټ کړي) وو او دروغ په کې وو نو د راکړې ورکړې برکت له منځه ځي. (بخاري، حديث نمبر ۲۱۱۰).[1] هغه همدارنګه وفرمايل: «هېڅ اوسېدونکی (حدير) دې په بېرنيانو (بد) نه پلوري. خلک پرېږدئ، الله تعالی به يې مرسته وکړي» (النسابوري، حديث نمبر ۱۵۲۲).[2] لومړی حديث د ترسره شوو معاملو په اړه قوانين وړاندې کوي، خو تر څنګ يې د سوداګرو خپلواکی ته هم يادونه کوي چې د بيو معيار خپله وټاکي، اسلام د هر ډول بيو د کنټرول خلاف دی. ايا دا په دې مانا دي چې شريعت سوداګرو ته خپلواکي ورکړې او په بازار کې د مداخلې هېڅ حق نه لري؟

۱. مسلمان ب. الحجاج النسابوري، صحيح مسلم (رياض: دار طيبه،۲۰۰۶)، ۷۰۹. پارسي عالم النسابوري (م. ۲۶۱/م ۸۷۵) راغونډ شوی، حديث (د رسول الله صلی الله عليه وسلم) په صحيح مسلم کې شامل دي، کوم چې په پراخه کچه د حديثونو له شپږو معتبرو مجموعو ګڼل کېږي، (کتب السطة)

۲. غير اسلامي لوستونکو د اسانۍ له پاره «PBUH» د نبي کريم (ص) له نوم سره يوځای ذکر کېږي او مانا يې ده «سلامتي دې وي په هغه». علماء په دې اړه وايي چې دا کلمې د پيغمبرانو او مذهبي کسانو له نومونو سره يادېږي. کېدای شي لوستونکي د همدې کلمې متناسبې بېلابېلې کلمې پيدا کړي، د بېلګې په توګه، «SAWS» مانا «الله تعالی دې په هغه رحم وکړي» د نبي کريم (ص) له پاره؛ او «SWT» مانا «پاک او لوی ده هغه» د الله تعالی له پاره.

البته دا د دې له پاره نه دي چې يوه کمپنۍ په کوم هېواد کې کمه ماليه ورکوي چې د هغه هېواد وګړي استخدام کړي، او بيا د کډوالۍ د قانون خلاف له بل ځايه ارزانه کاريګر استخداموي.[1] او نه هم بايد د کډوالۍ منفي اغېزې له پامه وغورځوو چې په هغې ټولنه کې يې په مېشتو بې تعليمه او غريبو خلکو لري. دا د هغو بې وزلو ماشومانو يادونه نه ده چې په ستونزو کې کار کوي، حقوق يې نه ورکول کېږي او ملاتړ يې نه کېږي.

د لاندې حديث له ويلو او پورته په يادو کړنو سربېره، د اصولو او قوانينو په اړه د نبي کريم (ص) په فکر شک کول ستونزمن کار دی: خلکو وويل: «اې د الله تعالی رسوله! بيې ډېرې لوړې شوې دي. زموږ له پاره يې وټاکه». د الله تعالی رسول (ص) وفرمايل: «له شک پرته الله تعالی د بيو کنټرولوونکی، ترسره کوونکی (القابض)، پراخوونکی ( الباسط ) او ورکوونکی (الرازق) دی. زه دعا کوم الله تعالی په داسې حال کې ووينم چې ستاسې يو هم پر ما د مال او وينې د نابرابرۍ په اړه ونه وايئ». (ترمذي، حديث نمبر ۱۳۱۴).[2] سره له دې چې نبي کريم (ص) له چل او دوکې د ساتنې له پاره په بازار کې ساتونکي ګمارلي وو، خو له بازار څخه د چل او دوکې د له منځه وړلو له پاره د هغه دغه مفکوره ډېره محدوده ښکاري، په دې چې د دې ډول ترسره شوو معاملاتو مالکيت نه اخلي. سربېره پر دې د بازار د ماليې د منعه کېدو په اړه وايي: «هر هغه څوک چې د بازار ماليه اخلي جنت ته به داخل نه شي». (ابوداود، حديث شمېره.(۲۹۷۳).[3]

۱. رمذي، ابو عيسی. جامع الترمذي (دمشق او رياض: دار الفهاء و دارالسلام، ۱۹۹۹، ۳۱۹. حديث روايت کړی دی. ترمذي (متوفی ۲۷۹هـ/ ۸۹۲ع)، ابوداود (۲۷۵هـ/ ۸۸۹ع)، او النسائي (۹۱۵/۳۰۳هـ ق). دوی ټول د فارسي ژبي پوهان وو چې حديث (د رسول الله صلی الله عليه وسلم وينا) يې را ټولې کړې او په ترتيب سره يې په جامع الترمذي، سنن ابي داوود او سنن النسائي کې شاملې کړې، دا ټول په پراخه کچه د حديثونو له شپږو معتبرو مجموعو ګڼل کېږي (کتب السطة). احمد ب. عطاء الله سکندري، الحکم العطايه (دمشق: حسن السماهي سويدان، ۱۹۹۷)، ۲۳.

۲. السجستاني، ابوداود سليمان ب. اشعث، سنن ابي داود (دمشق: دارالرساله العالمية، ۲۰۰۹)، ۵۲٦/٤.

۳. ترمذي، ابو عيسی. جامع الترمذي (دمشق او رياض: دار الفهاء و دارالسلام، ۱۹۹۹، ۳۱۹. حديث روايت کړی دی. ترمذي (متوفی ۲۷۹هـ/ ۸۹۲ع)، ابوداود (۲۷۵هـ/ ۸۸۹ع)، او النسائي (۹۱۵/۳۰۳هـ ق).

## اسلام د یوه دیني اقتصاد په توګه

اسلام لکه د نورو معاصرو ادیانو په څېر دین له سیاست او اقتصاد څخه بېلوي. بلکې په دودیزه توګه په عباداتو او معاملاتو کې اسلامي سیرت سره بېل دي. د سیاسي اقتصاد پوهانو پر خلاف، اسلام له انسان او ټولنې سره اړیکې لري، ترڅو دواړه له فضیلت ډک شي او فضیلت هغه وخت نشي ترلاسه کېدی چې خلک د خپلو شخصي موخو په فکر کې وي. کېدای شي ځینې استدلال وکړي چې د کپیټلېزم او سوسیالېزم پر وړاندې د «اسلامي بدیل» د ناکامېدو دلیل دا و چې وروستي دواړه د انسانانو د مادي فکر زېږنده دي، له دین سره اړیکه نه لري او پاملرنه یې مادي وي.

ذکات، د بېلګې په توګه له غریبو سره د مرستې له پاره په شتمنو مالیه نه ده بلکې د ذکات بنسټیزه موخه د یوه قوي اقتصاد جوړښت او د فقر له منځه وړل دي. پر مسلمانانو هغه وخت ذکات فرض دی چې هر کال له ټاکلې اندازې (نصاب) څخه زیاته شتمني ولري او یو اسلامي حکومت ته اجازه نشته چې په ټولو شتمنو او بېوزلو د کال ۲،۵ سلنه ذکات وضعه کړي او همدارنګه حکومت ته دا هم اجازه نشته چې په هرو کړنو کې یې موخه وي هلته یې مصرف کړي. قرانکریم د ذکات د ترلاسه کوونکو اته کټګورۍ بیان کړې دي (۹: ۶۰). دا چاره د معاصرې مالیې له سېستم سره ښکاره په ټکر کې ده. همدارنګه ټاکلې اندازې ته تر رسېدو وروسته هېڅ مسلمان د پیسو د سپما حق نه لري. نو د هغه چا له پاره چې د یوه کال په تېرېدو پرې ذکات فرض کېږي، جایز ده چې خپله سپما له کوم قید او شرط پرته ولګوي.[1] د پورته دلایلو له مخې دا ادعا نشي کېدی چې د اسلام موخه د نړۍ د غربت ختمول دي (ان که یې موخه کمول هم وي) د دې نړۍ چاپېریال ثبات نه لري او بدلېدونکې ده. خلک د دوی د پرېکړو په پایله کې ځینې وخت غریب او ځینې وخت شتمن کېږي. دا به غوره وي چې هر کس دې یو کور ولري، خو دا د هغه چا له پاره ناشونې ده چې کار نه کوي او یا هم بې ځایه لګښتونه کوي.

۱. النبوی، یحیی ب. شرف، صحیح مسلم، ۱۱۸/۱/۴، بیروت: دارالفکر، ۱۹۹۵.

د بې مسوله خلکو په لاس د شتمنۍ ورکړه د شتمنۍ د له لاسه تلو په مانا ده. په همدې دليل اسلام د کوچنيانو، ليونيانو او اصراف کوونکو له معاملې څخه منعه کړې ده، ترڅو د دوی شتمني خوندي وي. سربېره پر دې ذکات ته په کتو شتمني (سره زر، سپين زر، کره نيز توکي او حيوانات) چې د هر چا په واک کې وي، ګټه اخيستنه يې پر هغه پورې اړه لري او داسې هېڅ ضمانت نشته چې هغه به يې په ښه توګه مصرف کړي. دوی شايد د شتمنۍ يوه برخه په داسې بله برخه وپلوري چې ارزښت يې کم وي. په ازاد بازار کې ورته معاملې فردي مسوليت او واک دی چې د توکو مالک يې ترسره کولای شي.[1]

د ادعا په توګه چې د ذکات شتون د فقر له منځه وړلو يو د نه ملاتړ وړ نسبت دی او همدا ادعا ومني، نو په ټولو اقتصادي سېستمونو کې چې غواړي وګړي يې د غريبۍ له کرښې را پورته کړي د ذکات د فسخ کېدو سبب ګرځي. په دې کې به داسې سېستم هم شامل وي، د هغو خلکو له عايد څخه به ماليه اخلي چې يو وخت د ذکات مستحق و. داسې سېستم د الهی امر خلاف دی چې په عايد نه بلکې، يوازې په کال کې په اضافي توکو ماليه وضعه کوي، ځکه دا به د ذکات د (پاکولو) موخه چې قران ورته اشاره کړې له منځه يوسي. قرانکريم په دې اړه فرمايي: خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ(۹: ۱۰۳). ژباړه: واخله اې محمده له مالونو د دوی صدقه (ذکات يا خيرات) چې ښه پاک کړې ته دوی له ګناهونو او بابرکته کړې ته دوی د هغه په وسيله او دعا (د نيکۍ) وکړې دوی ته، بېشکه چې دعا ستا تسکين دی دوی ته او الله ښه اورېدونکی (د ټولو اقوالو) او ښه عالم دی (په ټولو احوالو).

۱. صحيح مسلم، ۱۱۹/۱/۴.

همدارنګـه يــو ځــوک بايــد واضــع کــړي چــې قــران ولــې د ذکات را ټولوونکـو او وېشـونکو تـه او همدارنګـه هغـو تـه چـې پـه اسـلام کـې د داخلېـدو مينـه لـري حـق ټاکلـی دی. قرانکريـم پـه دې اړه فرمايـي: إِنَّمَـا الصَّدَقَـاتُ لِلْفُقَـرَاءِ وَالْمَسَـاكِينِ وَالْعَامِلِـينَ عَلَيْهَـا وَالْمُؤَلَّفَـةِ قُلُوبُهُـمْ وَفِـي الرِّقَـابِ وَالْغَارِمِـينَ وَفِـي سَـبِيلِ اللَّـهِ وَابْـنِ السَّـبِيلِ ۖ فَرِيضَـةً مِّـنَ اللَّـهِ ۗ وَاللَّـهُ عَلِيـمٌ حَكِيـمٌ(٩: ٦٠).

ژبـاړه: بېشـکه همـدا خبـره ده چـې صدقـې (ذکات صرفېـږي) لـه پـاره د فقيرانـو او مسـکينانو او عاملانـو (مقـررو) پـر هغـه (تحصيـل د صدقـې) او هغـو تـه چـې الفـت اچولـی شي پـه زړونـو د دوی کـې لـه اسـلام سره او (صرفېـږي) پـه (خلاصولـو) د غـاړو (د نـادارو مکاتبانـو) کـې او پـوروړو او (صرفېـږي) پـه لاره دې اللـه تعالـی کـې او صرفېـږي لـه پـاره د مسـافرو (چـې مـال ورسره نـه وي)، (مقـرر او لازم کـړی شـوې ده دغـه) فرضيـه (ذکات) لـه طرفـه د اللـه (ج) (دغـو مصارفـو تـه) او اللـه تعالـی پـه هرڅـه ښـه پـوه او د حکمـت خاونـد دی. يـوه ډلـه هـم پـه اټـکلي توګـه بېوزلـه نـه ده، خـو چـې يـو ځـل د ذکات فرضيـه اداء شي، نـو دوی پـه منطقـي توګـه حق نـه لـري چـې بياځلـې څـه ترلاسـه کـړي، کـه څـه هـم قرانکريـم دوی تـه پـه ذکات کـې د ونـډې حـق ورکـوي.

## غيري اجباري تګلاره

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّيـنِ ۖ قَـد تَّبَـيَّنَ الرُّشْـدُ مِـنَ الْغَـيِّ ۚ فَمَـن يَكْفُـرْ بِالطَّاغُـوتِ وَيُؤْمِـن بِاللَّـهِ فَقَـدِ اسْتَمْسَـكَ بِالْعُـرْوَةِ الْوُثْقَـىٰ لَا انفِصَـامَ لَهَـا ۗ وَاللَّـهُ سَـمِيعٌ عَلِيـمٌ (٢: ٢٥٦). ژبـاړه: نشـته هېـڅ زور د ديـن پـه منلـو کـې، پـه تحقيـق سره ښـکاره شـوې ده سـمه لار (د ايـمان) لـه ګمراهـۍ (کفـر) څخـه. پـس هـر هغـه ځـوک چـې منکـر شـو لـه (عبـادت د شيطان او بوتانـو) څخـه او ايـمان يـې راووړ پـه اللـه تعالـی بانـدې، نـو پـه تحقيـق سره يـې کـړی کلکـه نيولـې، پـه داسـې توګـه چـې لـه سره يـې پـرې کېـده نشـته او اللـه (ج) ښـه اورېدونکـی او ښـه عـالم دی.

د قرانکریم پورته ایت چې په اسلام کې زور او زیاتی نشته د مسلمانانو په ډېری بحثونو کې تلاوت کېږي. د مخکیني بحث په تایید چې اسلام له سیاست او اقتصاد څخه نه بېلېدونکی دی، ویلی شو چې «په سیاسي بیعت کې اجبار نشته» او همدارنګه «په سوداګریزو راکړو ورکړو کې اجبار نشته». دواړه انګېرنې له پخوا د مسلمانانو په منځ کې وې. کله چې عباسي کورنۍ نسکوره او امویان واکمن شول، غوښتل یې بیعت لاسته راوړي، خو ډېری مسلمانانو او علماوو ورسره په دې مخالفت وکړ چې په اسلام کې په جبر او زور سره بیعت ناروا دی. همدارنګه د علماوو عمومي حکم دا دی چې هر کله یو څوک د مال په خرڅولو مجبور شو، د قانون له مخې دا پلور باطل دی، خو د یادولو وړ ده چې اسلام په ځینو حالاتو کې مسلمانان اړ کړي. د اسلام لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق (رض) د هغو مسلمانانو پر وړاندې د جهاد امر وکړ چې ذکات پرې فرض و، خو نه یې ورکاوه. دا د هغو عهدونو پر نسبت چې مسلمانانو د نبي کریم (ص) د ژوند پر مهال له هغه سره کړي وو یو استثنايي حالت دی. د نبي کریم (ص) نږدې ملګري حضرت عمر (رض) د مسلمانانو تر منځ جګړه حرامه وګڼله او له حضرت ابوبکر صدیق (رض) سره یې دا خبره شریکه کړه، خو حضرت ابوبکر صدیق (رض) د ذکات راټولول اسلامي فرضیه وګڼله، له دې سره عمر (رض) د حضرت ابوبکر صدیق (رض) خبره قبوله او تر منځ یې سوله وشوه.

د یادولو وړ ده چې د محمدي اخلاقو ځانګړتیا د جبر او زور پر ځای ښه خبره او نرمي وه. څکه د هغه اصلي موخه د انسانانو ابدي ژغورنه وه، نو دا یوه بریالۍ تګلاره وه. په دې اړه د هغه د ژوند په دوران کې بېلابېلې بېلګې شته. په بازار کې د بیو په اړه د هغه د نظر په اړه مخکې له مخکې پوهېږو چې فرمایلي یې دي: «زه هیله لرم په داسې وخت کې د الله تعالی (ج ) دربار ته لاړ شم چې هېڅ یو له تاسې په ما د وینې او شتمنۍ د بې عدالتۍ پور ونه لرئ» (ترمذي، حدیث شمېره.

۱۳۱۴).[۱] که یو له دوی څخه پیغمبر (ص) په نابرابرۍ تورن کړي او یا هم له خدایه د هغه پر وړاندې د عدالت غوښتنه وکړي، دا به د هغه د رسالت او د رالېږل کېدو موخه تر پوښتنې لاندې راولي. هغه هېڅکله ماشوم، غلام او ښځه نه دي وهلي. هغه هېڅکله هم غلام ته په دې چې ولې یې دنده سمه نه ده ترسره کړې څه نه دي ویلي. کله چې هغه په کور کې خپلو مېرمنو ناراضه کاوه، دی به له کوره بهر ووت، د دې له پاره چې د ده په حضور کې پرې د الله تعالی عذاب نازل نه شي او په ډېری پېښو کې کله چې صحرایي خلکو دی د غنیمتونو په وېش کې په ظلم او نابرابرۍ تورن کړ، ده له هغوی سره په حوصله او نرمۍ تعامل وکړ او تر هغو یې غنیمتونه ورکړل چې د دوی قناعت حاصل شو. دا ټول په اسلام کې د کړنو د خپلواکۍ په ځانګړې توګه د سوداګرۍ خپلواکي په ګوته کوي. په اوسني سوسیالېستي نظام کې خلک اړ کېږي، د خپلې شتمنۍ برخه نورو ته ورکړي او یا هم ترې اخیستل کېږي. شتمن به د لږ برخې عاید له پاره ډېرې هڅې کوي، په داسې حال کې چې د شتمنۍ ډېره برخه به یې هغو ته ورکول کېږي چې هېڅ یې هم نه دي کړي. له شک پرته چې د سوداګرۍ له پاره دا کړنه نابرابره ده. خیریه کړنې له زړه ترسره کېږي او په زور سره یې ترسره کول خپله اصلي موخه له لاسه ورکوي. خو په ورته وخت کې، یو مسلمان اړ نه دی د خپلې شتمنۍ ذکات دې له درېیم ګړي سره د امانت په توګه مخکې له وخته کېږدي. د عادل حکومت په نشتون کې چې ذکات ورته ورکول کېږي، مسلمانان باید اړو کسانو ته ذکات ورکړي. که یې څوک ور نه کړي حساب یې له الله تعالی سره دی.

۱. البخاري، محمد ب. اسماعیل، صحیح البخاري (دمشق او بیروت: دار ابن کثیر، ۲۰۰۲، ۳۵۸.

## پایله

څوک باید په دې حقیقت سترګې پټې نه کړي چې د اسلام بنسټیزه موخه له مرګ وروسته انساني ژغورنه او ټولنیزه همغږي ده. دواړه کپیټلېزم او سوسیالېزم د لرلید له اړخه نه دي توانېدلي خلکو ته په دې نړۍ کې خوښي ورکړي. دا ځکه چې د یو چا خوښي لکه څنګه چې په لرلید او احساس پورې تړلې همداسې په اقتصادي هوساینې پورې هم تړلې ده.

ښکاري چې دواړه اقتصادي نظریې د انسانانو د احساساتو له پاره مادي حلونه دي، د وړاندیز په توګه زموږ خوښي کېدای شي یوه واحد اقتصادي عنصر ته راکمه شي. اسلام د یوه ټولیز او ځانګړي دود په توګه توپیر لري. نبي کریم (ص) فرمایلي دي: «که د ادم زوی د شتمنۍ دوه درې در لودې نو د درېیمې غوښتنه به یې هم کوله یوازینی شی چې د ادم د زوی غوښتنې به پوره کړي خاورې دي »( مسلم، حدیث شمېره. ۱۰۵۰).[۱] هغه همدارنګه فرمایي: «شتمن یعنې د روح بډاینه » (مسلم، حدیث شمېره. (۱۰۵۱).[۲] په بل عبارت اضطراب زموږ د ناخوښۍ یو له مهمو دلیلونو څخه دی. یوازې مادي هوساینه نشي کولی د حرص، شهوت او نا برابرۍ اور راکم کړي. دا یوازې هغه وخت راتلی شي چې د الله تعالی له خوا موږ ته د نعمتونو د شکر په اداء کولو کې اخلاق، تواضع او نظم موجود وي. دا په دې مانا نه دی چې د کپیټلېزم او سوسیالېزم له خوا وړاندې شوي اصلاحات د ټولنې په ګټه نه دي، بلکې په ګټه یې دي، خو نشي کېدی چې یوه نابرابري دې په یوه بله شدیده نابرابرۍ اصلاح شي. زه فکر کوم دا هغه وخت و چې کپیټلېزم د یوه بد اقتصادي سېستم په توګه وپېژندل شو.

۱. القزوینی، محمد ب. یزید، سنن ابن ماجه (قاهره: مطبعه دار احیاء الکتب العربیه، M.F.A. البقیع ) ۲۷۸/۱. فارسي پوه ابن ماجه (متوفی ۸۸۷/۲۷۳هـ) دا کتابونه را ټول کړل. په سنن ابن ماجه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث شامل دي کوم چې په پراخه کچه د حدیثونو له شپږو معتبرو مجموعو څخه ګڼل کیږي (کتب السطة).
۲. صحیح مسلم، ۱۱۹/۱/۴.

په داسې توګه چې ګټه يې يوازې شتمنو ته رسېږي او دغې ستونزې د يوه بديل فکر يا هم د سوسياليزم د راتلو سبب وګرځېده. موږ بايد هغه کړنې هم په نظر کې ونيسو چې د خدای ج پر وړاندې نافرماني، دوديزو ارزښتونو او بې ځايه لګښت زموږ په نسبي ناخوښۍ کې مهم رول لرلی شي. دا ځکه چې ظلم او استحصال دوه بېلې لارې دي چې د حرص په واسطه سره نښتې دي. يعنې موږ په خپله ناخوښۍ کې ملامت يو. اسلام د مادي او معنوي هڅو تر منځ د تعادل غوښتونکی او يا حد اقل د اقتصادي ستونزو له کبله د ناخوښۍ کمېدونکی دی.

د سوسياليزم پرخلاف اسلام د ټولنيز ويش خلاف نه دی او يا هم داسې کوم دليل نشته چې اسلام دې ټولو ته د مساوي ورکړې په لور وي چې ټول خلک پرته له کوم دليل څخه بايد په مساوي توګه حق ترلاسه کړي. که څه هم د دواړو په اړه ثبوت نشته، خو اسلام په ټولو ځېزونو کې عدالت تعقيبوي. له غريبو سره مرستې ته هڅونه کوي، خو د دې پر خلاف د فقر کولو خلاف دی. نبي کريم ص فرمايلي: «له غره څخه په شا د لرګيو راوړل تر دې ښه دي چې چاته د سوال لاس اوږد کړي او هغه يو څه ورکړي او يا نه» (بخاري، حديث شمېره. ۱۴۷۰). [۱] هغه د سود منع کېدو تر څنګ، خلک پور اخيستلو ته نه هڅول. په بازار کې يې بيې نه ټاکلې خو ترڅنګ يې سوداګر له احتکار څخه منعه کول. هغه فرمايي: «احتکار کوونکی لعنتي دی «( ابن ماجه، حديث شمېره.۲۱۵۳).

د هغه له اصلي پاملرنو څخه يو هم د باور هڅول وو. ويل کېږي چې همدا د سود، په ناوړه توګه د نورو له شتمنۍ ګټه اخيستنه، د داسې توکو پلورل چې موجود او د انتقال وړ نه وي د منعه کېدو سبب وګرځېدل. نبي کريم (ص) هڅه کوله چې شخصي ملکيت، د هغه ساتنه، خپلواکه سوداګري او ازاد بازار (د فريب، چل او غيرقانوني توکو د پير او پلور له پاره د اصولو په رڼا کې) دې شتون ولري.

۱. البخاري، محمد ب. اسماعيل، صحيح البخاري (دمشق او بيروت: دار ابن کثير، ۲۰۰۲، ۳۵۸.

## اسلام او اقتصاد

د علي سلمان دغه کتاب اسلام او اقتصاد د اسلام او په اقتصادي برابرۍ کې يې د ونډې په اړه يو خورا ارزښت ناک او اوږد مهاله اثر دی. دا د اسلامي اقتصاد په اړه د شلمې پېړۍ ځينې پېژندل شوې انګېرنې ننګوني او د قراني او غير قراني اقتصادي اصولو د پېژندلو له پاره بديل حل وړاندې کوي. په عامه توګه، سلمان په کپيټلېستي او سوسيالېستي انګېرنو له باور پرته د اسلامي اقتصاد د اصولو يو متوازن حالت وړاندې کوي. هغه د خپل کتاب په څلورم فصل، «اسلامي اقتصادي چوکاټ: تاريخي کتنه او که عملي حل لاره؟ کې وايي: مسلمانان بايد په ياد ولري چې حضرت محمد (ص) انقلابي کس نه و چې له پيل څخه يې نظام جوړ کړ، بلکې يو ټولنيز اصلاح کوونکی و.

هغه کوم نوی تجارتي قانون يا اقتصادي تګلاره جوړه نه کړه. بلکې، د الهي لارښوونو پر بنسټ يې هغه اقدامات معرفي کړل چې د يوې عادلانه ټولنې د پراختيا توان يې درلود.

هغه د بيو نرخ کنټرول منعه کړ ځکه له خپلې تجربې پوهېده چې دا د سوداګرو له پاره غير عادلانه وه. د اسلامي لښکرو له خوا د فتحه شوې ځمکې په اړه د هغه د بېلابېلو انتخابونو وړاندې کول د راتلونکې نسلونو په اړه فکرمن کېږي او د خپلې ټولنې له پاره يې انتخابونه جوړول. هغه د عادلانه ټولنې يو مهم اصل د پياوړتيا له پاره په غير قانوني توګه د مسلمانانو له خوا د نورو خلکو د شتمنيو له نيولو منعه وکړه. په پور د سود اخيستو د منعه کولو په مرسته يې د وخت د اقتصادي بې ثباتۍ او نابرابرۍ مخه ونيوه.

له شک پرته چې دا کتاب باید د اسلام او اقتصاد په اړه وروستی ونه بلل شي، هغوی چې په اسلامي اقتصاد کې زده کړې کوي، کېدای شي ډېر احساسات وننګوي او وپوښتني: نظر د همدې برخې د پوهانو پخوانیو نظرونو ته، ستاسې نظریه ولې ډېره اسلامي ده؟

او ولې باید زه هغه څه قبول نه کړم چې په همدې برخه کې مخکې له مخکې راته را ښودل شوي دي؟

د سلمان ځواب به شاید دوی ته داسې وي: «زما کتاب ولوله او اجازه راکړه چې په اړه یې نورې خبرې وکړو».

لکه څنګه چې د زده کړو هره برخه د قوانینو او مقدسو کتابونو د څېړنو د عمومي پایلې په پای کې راځي، خو فکر بدلون او پرمختګ کوي، په داسې توګه چې ځینې به هغه ټکي پرېږدي چې د بېلابېلو فکري مکتبونو د یوازې والي سبب ګرځي. د سلمان دغه کړنه له انتقاده لیرې نه ده، خو په ټوله کې دا د مسلمانانو د قانوني، اخلاقي او فلسفي پوهې د بیا تنظیم له پاره یو زړور پیل دی چې په سمه توګه پوهېدل یې د انساني ودې او څو ځورېدلو نسلونو تر منځ توپیر ښودلی شي.

**شیخ عبدالله بن حامد علي، پي اېچ ډي**
د اسلامي حقوقو او نبوي سنتو د پوهنځي مرستیال استاد
زیتون کالج

## مننلیک

زه په دغه علمي سفر کې د ډېرو خلکو او سازمانونو مننداوی یم چې هڅولی یې یم. په ۲۰۱۲م کال اولاف کلرهوف[۱] د فردریش نائومان[۲] له بنسټ څخه راته وړاندیز وکړ چې په اسلام کې د بیو د خپلواکی او کنټرول په اړه څېړنه وکړم، او دې بنسټ وروسته زما دغه څېړنه خپره کړه. په ۲۰۱۳ م کال، په انګلېستان کې د اقتصادي چارو انسټیټیوټ د دې مونوګراف یوه لنډه نسخه په اقتصادي چارو (Economic Affairs) کې د یوې مقالې په بڼه خپره کړه.

زما په یاد دي چې په ۲۰۱۶ م کال ما د ایکټن انسټیټیوټ له شریک او اجرایوي رییس کریس مورین سره ورته خبرې کړې وې چېرې چې هغه د یو سوداګر په توګه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند لیک جوړولو له پاره لېوالتیا ښودلې وه. په دې اړه مې په مالیزیا کې علاقه نوره هم ډېره شوه. په ۲۰۱۷ م کال مې خپله څېړنه پېژندل شوي مالیزیایي عالم سید فرید الطاس ته وښوده، هغه ډېر وهڅولم چې په دې برخه کې باید پراخ کار وشي. په ۲۰۱۷ م کال مالیزیا ته د هغه یو مشهور سفر چې د پولیسو له خوا تر نیول کېدو وروسته یې د مذهبي خپلواکی په اړه د لیکلو په تور په کتابونو بندیز ولګېد. ترکي ژورنالېست مصطفی کیول زما له کار سره علاقه پیدا کړه، زه یې ایکټن انسټیټیوټ ته ور وپېژندلم او وروسته مې دا کتاب پیل کړ. زه د دې کتاب د سمون په برخه کې د محمد خالد مسعود، بینډېکټ کوهلر، او مصطفی له خوا د نظرونو مننداوی یم. ما د جاوید احمد غامدي له کتابونو او په شخصي توګه له هغه سره په لېدنو کې ډېره ګټه وکړه. زه له حسن الیاس هم مننه کوم چې په ورته برخه کې یې اضافي سرچینې راپه ګوته کړې. همدارنګه له ډاکټر جانس خان هم مننداوی یم چې د ډېرې احادیثو د اخځلیکونو په پیدا کولو کې یې مرسته راسره وکړه.

---

۱. Olaf Kellerhoff

۲. Friedrich Naumann

له امام عبدالله بن حامد علي له زړه مننه کوم چې د دې کتاب په اړه یې سریزه ولیکله. زه له اوډونکی (څوک چې غوښتل یې نوم یې پټ پاتې شي) مننه کوم چې د کتاب په اوډنه او سمونه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او د باور وړ سرچینې یې را په ګوته کړې.

زه په ۲۰۱۹م کال د ایکټن انسټیټیوټ له خوا د دې کتاب د کتنې له پاره جوړ شوي ګروپ غړو هر یو مصطفی اکیول، سید کمال، ایمن ریدا، رانیا البواب، نتن میچ، کامران بخاري، ادمیر کاولیک، فداءلرحمن، ایدو اومرسیویک او رضوان قادر ډېر مننندوی یم. همدارنګه د یادونې وړ ده چې د اسلام او خپلواکۍ شبکې (پخوا د استانبول د خپلواکۍ شبکه) سره زما اړیکې، دې موضوع ته پاملرنه را واړوله. د مالیزیا د ډیموکراسۍ او اقتصادي چارو په موسسه کې زما همکارانو له دې کار سره ژوره لیوالتیا ښوده چې ماته یې مثبته پیاوړتیا راکوله.

په پای کې زه له خپلې مېرمنې شګفتې، اولادونو؛ امیر، حیدر او محمد څخه د زړه له تله مننندوی یم چې د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو په جریان کې مې ترې ډېرې د اونۍ وروستۍ ورځې واخیستې. پرته د اونۍ له هغو وروستیو ورځو او ګهیځ وخته کړنو به دا کتاب نه و بشپړ شوی.

د ملګرو، کورنۍ او همکارانو له سخاوتمندانه ملاتړ او مرستې سره سره، زه په دې کتاب کې د هر ډول غلطیو او ستونزو مسؤلیت په غاړه اخلم او دعا کوم چې الله تعالی دې دا کار را څخه «د ګټور علم» په توګه ومنې.

# پېژندنه

له اسلام څخه مخکې عربو، د مکې په ښار کې چې یوه مکعب شکله کعبه پکې پرته وه، د سپېڅلي ځای په توګه پېژنده او د دین، سوداګرۍ او سیاست مرکزي ټکی بلل کېده. لرې پراته قومونه به د کعبې د زیارت او سوداګرۍ له پاره راتلل. د کعبې ساتونکې قریش قبیلې په یوه بې ثباته عربستان کې د سولې او امنیت ډاډ لاره. ان قران به په ژمي او اوړي کې د دوی د کاروانونو د خوندي تابه له پاره خدای شاهدي ورکوله. همدارنګه د دوی رهبري ټول منلې وه او هېڅکله به په سوداګریزو کاروانونو کې له ستونزو سره نه مخ کېدل. په دې توګه د سپېڅلې خاورې د ساتونکو په توګه، دوی ځانګړې سیاسي او سوداګریزې ګټې درلودې.

حضرت محمد (ص) ( ۱۱ هجري قمري / **۶۳۲** میلادي) د قریشو له قبیلې څخه و او د سوداګرۍ غني میراث یې درلود. په پیغمبرۍ تر مبعوث کېدو مخکې، په مکه کې د صادق او امین په نامه پېژندل کېده. د سوداګرۍ د یوه منلي شخصیت په توګه به خلک د شخړو د حل له پاره ورته راتلل. د ده دا پس‌منظر به هغه چا ته اجازه ورکړي چې د اقتصاد په اړه د بصیرت، پوهې او اخلاقي اصولو بډایه میراث پرېږدي. دغه اثر د قران، احادیثو او سنتو په رڼا کې د سوداګرۍ او اقتصاد پېژندنې د اخلاقي اصولو او عملي قوانینو تر څنګ، د اسلامي اقتصاد د معاصرو پوهانو او علماوو د نظرونو ټولګه ده. اسلام د یوه دین په توګه د اسلامي تاریخ له پیل څخه د یوې ټولنې د اقتصادي جوړښت له پاره درې بېلابېل اخلاقي اصول وړاندې کړي چې په لاندې ډول دي:

۱- د مالکیت اصل: چې په ښکاره توګه شخصي او عامه ملکیتونه بیانوي.
۲- د شتمنۍ د جوړښت اصل: چې کړنې د ازادې سوداګرۍ او بیو پر بنسټ ترسره کوي او
۳- د شتمنۍ د وېش اصل.

د دې اصولو او اسلامي علم د لومړنيو سرچينو پر بنسټ، دغه اثر د اقتصادي سيستم د سموني له پاره د علمي اصولو يو عملياتي چوکاټ وړاندې کوي. دغه اصول عبارت دي له: د بيو خپلواکي، خپلواکه سوداګري، د مارکيټ اصول، با ثباته پولي واحد، بې سوده بانکوالي، ټيټه او مناسبه ماليه، په رضاکارانه کړنو باور او د ميراث وېش. پر دې بنسټ، دغه د اسلامي اقتصاد چوکاټ ټولو هغو سوداګريزو تګلارو او د پانګونې ستونزو ته اشاره کوي چې بل هر اقتصادي سېستم يې حل کولای شي. د اسلامي اقتصاد[1] دغه چوکاټ د اسلام د کلاسيکې پوهې پر بنسټ ترتيب شوی چې د معاصر اسلامي اقتصاد په اړه له بحث سره سره په ځينو برخو کې لاره ترې بېلوي چې په ځينو حالاتو معمولاً له بانکولۍ او د شتمنۍ په بيا وېش کې له دې اصولو سره ورته والی نه لري.[2] په اصل کې ټول دينونه د اقتصادي مسلو په اړه معيارونه او اخلاقي ليدلوري لري، خو له اسلام سره يې توپير يوازې په عملي برخه کې دی. مور د حضرت محمد (ص) د احاديثو او سنتو په رڼا کې د اقتصادي حکومتولۍ يو پراخ طرزالعمل وړاندې کړی. قرانکريم وايي شتمني په صدقې (خيرات) ډېرېږي او په ربا (سود) کمېږي. نورو د اسلام او اقتصاد په اړه ورته نظرونه وړاندې کړي. د ادم سمېت د دوو مشهورو کتابونو، د اخلاقي احساساتو نظريه (Theory of Moral Sentiments) او د ملتونو شتمني (The Wealth of Nations)[3]، له لوستلو وروسته د اسلامي اقتصاد پېژندنې کتاب ليکوال په دې نظر دي چې «د اسلام لرليد او ادم سمېت نظر سره نږدې دي».[4]

۱. پدې کتاب کې چې کله زه د معاصر نظم په اړه خبرې کوم نو «اسلامي اقتصاد» په قوسونو کې نيسم، او زه «اسلامي اقتصادي چوکاټ» دهغه لرليد په ځای استفاده کوم چې ما دلته درپيژندلی ده. په اقتصاد کې د اسلامي اصولو د پيژندلو لپاره دغه توپير خورا مهمه ده.

۲. د يو ډيسپلين په توګه د «اسلامي اقتصاد» پېژندې له پاره لومړی اپنډيکس وګورئ.

۳. ادم سمېت، د اخلاقي احساساتو نظريه يا، د هغو اصولو تحليلي مقاله چې په بنسټ يې خلک په طبيعي توګه لومړی د خپل ګاونډي او بيا د رويه او کړنې ارزوي ( London: Printed for Andrew) Millar, in the Strand; and Alexander Kincaid and J. Bell, in Edinburgh، ۱۷۵۹) ؛ ادم سمېت، د ملتونو د شمتنۍ د طبيعت او لاملونو سپړنه، ۲ ټوکه. (London: W. Strahan and T. Cadell، ۱۷۷۶).

٤. حسين عسکري، ضمير اقبال او عباس ميراخور، د اسلامي اقتصاد پېژندنه: تيوري او عمل، Wiley Finance (Hoboken, NJ: Wiley & Sons، ۲۰۱۵)، ۷.

برسېره پر دې دوی زیاتوي چې د شلمې پېړۍ په نیمایي کې د «اسلامي اقتصاد» تفسیر د اسلام د اقتصادي میراث له دودیزې پوهې سره مخالف دی.[1] دوی په پای کې همدراز وايي چې «اسلامي اقتصادي نظام یو بازار بنسټه نظام دی چېرته چې بازارونه د سرچینو د وېش له پاره غوره او ارزښتمن ځایونه بلل کېږي».[2] دغه لرلید د اسلام د اقتصادي فلسفې په بیانولو کې مرسته کوي:

دوی د اخلاقي چوکاټ په رڼا کې د بازار یو ټولیز ډول غوره بولي. همدارنګه دغه نظریه پېژندل شوي پاکستاني عالم سید ابوالعلي مودودي (۱۹۷۹ کال مړ شوی) هم تایید کړې او زیاتوي «د اسلام بنسټیزه موخه انساني خپلواکي ده چې د ټولنې بنسټیز جوړښت دی». دغه اسلامي اقتصادي چوکاټ باید د یوې علمي تګلارې یا نوي اقتصاد په توګه نه، بلکې د ټولنې د اقتصادي جوړښت له پاره د اخلاقي اصولو او عملي تګلارو په توګه د یوې متحدې اقتصادي ټولنې په توګه وپېژندل شي.

یو ځوک استدلال کوی شي چې د دیني متونو غوره لوستل کولای شي داسې باور جوړ کړي چې د هغه له لید سره ورته والی ولري. پر دې بنسټ، باور لرم چې ازاد بازار نسبت مرکزي پلان نیونې ته د خلکو د اقتصادي ستونزو له پاره غوره حل لري، نو زه به د دیني برخې هغه شواهد را اخلم چې همدا دلیل غوره ثابتوي. پر دې بنسټ دیني کړنې د قانوني کولو له پاره وسیلې دي. که موږ د مذهبي دود بېلابېل اړخونه له پامه ونه غورځوو، موږ باید ځینو برخو ته په ځانګړي اهمیت ورکولو سره د تفسیر د وړاندیز واک ولرو. په حقیقت کې ټول انسانان د الهي امر د تفسیر پر مهال دا کړنې کوي، یوازې په دې کار کولو سره دا مانا نه لري چې اصلي ټولواک دوی دي. دغه عاجزي زموږ دیني پوهه ډېروي، په دې شرط چې د نورو لیدلوري په نظر کې ونیسو.

۱. عسکري، اقبال، او میراخور، د اسلامي اقتصاد پېژندنه،۷۲.

۲. عسکري، اقبال، او میراخور، د اسلامي اقتصاد پېژندنه،۲۷.

## یوه پوښتنه

کـه مـوږ سره لـه دې چـې ومنـو د اقتصـادي خپلواکـۍ لـه پـاره اسـلامي لرلیـد یـوه غـوره بېلگـه دی، ایـا د نړیوالـو اقتصـادي سـازمانونو لـه خـوا بـه لـه پوښـتل شـوو سـتونزو سره کومـه اړیکـه لـري؟ پـه داسـې نـړۍ کـې چـې د عایـد او شـتمنۍ د نابرابـرۍ پـه اړه مفکـورې د هـر بحـث د سر ټکـي گرځېدلـې دي، د اقتصـادي تـگلارې اسـلامي مفهـوم تـر کومـه مناسـب دی؟ ایـا د اقتصـادي خپلواکـۍ اسـلامي بنسـټونه هـم داسـې کـوم حـل لـري او کـه یـوازې تـر حکمونـو محـدود دي؟

دغـه مقالـه بـاوري ده چـې د اقتصـادي سـازمانونو اسـلامي اصـول پـر اخلاقـي لارښـوونو سربېـره عمـلي کړنـو تـه اړتیـا لـري. همدارنگـه زیاتـوي چـې پـه اسـلام کـې بیـان شـوې اخلاقـي پولـې د لارښـوونې پـه توگـه اسـتفاده کېـدی شي، پـه دې توگـه چـې رضاکارانـه کړنـې شـاید پـه کـې کافي نـه وي. لـه شـک پرتـه چـې دا د بـاور موضـوع ده، خـو تـر بـاور وړانـدې بایـد دغـه لارښـوونې د ټولـو پـه واسـطه عمـلي شي. دغـه مقالـه دوه برخـې لـري، لومـړۍ برخـه یـې پـه اسـلام کـې اقتصـادي اصولـو تـه ځانگـړې شـوې چـې د وړانـدې شـوي اسـلامي اقتصـادي چوکاټ بنسـټ تشـکیلوي او موخـه یـې د خصـوصي ملکیـت، لـه ځمکـې او طبیعـي سرچینـو گټـه اخیسـتنه، د شـتمنۍ جوړښـت او ویـش پېژندنـه ده.

دوهمـه برخـه یـې پـه پراخـه توگـه د بیـو خپلواکـي، د مارکېـټ اصولـو، مـالي تـگلارې، ټولنیـز خوندیتـوب او د پـور ورکولـو اصولـو تـه ځانگـړې شـوې او وروسـتۍ برخـه یـې د پورتـه اصولـو عمـلي برخـې تـه ځانگـړې شـوې ده. ضمیمـه بیـا پـه اسـلام کـې د اقتصـادي فکـر د بدلـون تـر څنـگ شـته سـتونزو تـه اشـاره کـوي. دغـه بحـث د معـاصرو علـماوو او پوهانـو تـر منـځ د بدلـون یـوه غـوره بېلگـه وړانـدې کـوي.

# لومړۍ څپرکی

## اسلام، بازارونه، اخلاق او عدالت

راځئ چې دغه له معنی ډکې اصطلاګانې؛ اسلام، بازارونه، اخلاق او عدالت را وسپړو. اسلام یو ابراهیمي، توحیدي دین دی چې پېروان یې مسلمانان دي. په لفظي توګه، د اسلام اصطلاح د «سوله ییزې تسلیمۍ» په معنی ده. دا له محمد (ص) سره تړاو لري چې په هغه باندې د الهي کلام په توګه قران کریم[1] نازل شوی دی. له تاریخي پلوه حضرت محمد (ص) د اسلام بنسټ ایښودونکی نه دی، بلکې له ځینو اصلاحاتو سره یې خپل پېروان هغې عقیدې ته رابللي چې ابراهیم علیه السلام ویلې او عملي کړې ده. د اسلام بنسټیزه ځانګړنه، لکه څنګه چې هغه بیان کړې، توحید دی چې د هغه په نوم یې د مکې بت پرستې کړنې ننګولې دي.

تر نبوت وړاندې چې کله حضرت محمد (ص) په څلوېښت کلنۍ په پیغمبرۍ مبعوث شو هغه کلونه یو بریالی سوداګر و. هغه ته کله ناکله د هغه له نبوت تر مخه د نورو قبیلو تر منځ د شخړو د حل له پاره هم ویل کېده چې ورشي او ستونزې یې ورته حل کړي. خو هغه د قرانکریم تر نازلېدو وروسته له ډېرو ستونزو سره مخ شو. له مدینې منورې تر هجرت مخکې محمد (ص) دیارلس کاله د اسلام دین ته په دعوت تېر کړل. مدینې منورې ته تر سفر وروسته یې چې د «هجرت» په نامه یادېږي، هلته مسلمانان سره را ټول کړل او د دعوت د چارو واګې یې په لاس کې واخیستې. په مدینه کې یې لس کاله تېر کړل، هلته یې د اسلامي اصولو تر څنګ د عامه کړنو د ترسره کولو له پاره اخلاقي او قانوني اصول راوړل.

---

۱. این. جي داود د قرانکریم ژباړن لیکي، «د «قران» عربي معنا «تلاوت» ده. این. جي. داود، ژباړه.، The Koran, Penguin Classics (London: Penguin Books, 5th rev. ed., ۱۹۹۹), xviii. پرته له هغې ځایونو چې یادونه یې شوې، د قران ټول نقلونه د داود د ژباړې له دې پنځمې ګڼې اخیستل شوي دي.

په ساده ډول اسلام د الله تعالی حکم دی چې د درویشتو کلونو په موده کې په محمد (ص) نازل او د «قران» په نامه یادېږي. همدارنګه هغه خبرې او کړنې دي چې هغه د ژوند په موده کې ترسره کړې دي. د تېرو څوارلسو پېړیو په اوږدو کې د صحابه وو له وخته بیا تر معاصرو علماوو، واکمنانو او ان عامو مسلمانانو د اسلامي تمدن بېلابېل تفسیرونه تجربه کړي. اړوندې پېچلتیا او د دغه کتاب اصلي موخې ته په پام سره به زه یوازې قران، احادیث او سنت د سرچینو په توګه وکاروم. موخه مې د نوي تفسیر وړاندې کول نه بلکې د اسلام له لومړیو سرچینو په ګټې اخیستنې د پراخو اقتصادي اصولو او بنسټونو یو انځور وړاندې کول دي.

په دې کتاب کې بازار یو ټولنیز انسټیټیوټ بلل شوی چې د دوو کسانو د راکړې ورکړې په پایله کې جوړېږي او موخه یې حد اقل د یو کس ګټه وي. یو بازار د دوه اړخیزې خوښې پر بنسټ د رضاکارانه راکړې ورکړې له خوا مشخص کېږي او د حکومت یا هغه اړخونو چې په معامله کې ښکېلو تعریف شوو مقرراتو پر بنسټ پر مخ وړل کېږي. په عامه توګه مارکېټ یو فزیکي ځای ته ویل کېږي چېرې چې یو کس بل ته د پیسو په بدل کې د یو څیز د پلور وړاندیز کوي.

## اخلاق

په خورا ساده کچه څه شی سم او څه شی ناسم دي فکر ته ویل کېږي. د بېلګې په توګه د حق او باطل، صداقت او فساد، درناوی او بې عزتي تر منځ توپیرونه په اخلاقي ټاکنو کې شامل دي. قران کریم وایي چې الله تعالی ټولو مومنانو ته د حق او باطل تر منځ د توپیر توانایي ورکړې (۸/۹۱). موږ اخلاق له خپلو میندو، پلرونو او نورو سره د تعامل په پایله کې زده کوو او همدارنګه موږ د قانون په رڼا کې ژوند کوو چېرې چې د ښو کړنو په بدل کې هڅونه او د بدو کړنو په بدل کې سزا را کول کېږي.

## عدالت

تـر ټولـو سـتونزمنه اصطـلاح ده چې پـه اسـانه تعریـف کېـدای نـه شي. د ځینـو لـه پـاره خپلواکـي ده خـو یـو شـمېر یې برابـري بـولي. خپلواکـي پـه خپـل ذات کې دوه مانـاوې لـري: لومړی یې مثبتـه خپلواکـي ده چې یـو کار تـرسره کـړي او بلـه یـې منفـي خپلواکـي ده چې د نـورو لـه جـبر خپلـواک شـي. برابـري بیـا پـه اقتصـادي توګـه د یـو ډول پایلـو نـه، بلکـې فرصتونـو لـرل دي.

جـان رالـز امریکایـي سیاسي فیلسـوف د خپلواکـۍ او برابـرۍ پـه اړه پـه اصـولي بیـا کتنـه کې وایـي چې عدالـت دوه اصـول لـري، لومړی یـې د هـر کـس فـردي خپلواکـي او دوهـم یـې د ټولنـې د ښـکته خلکـو د ګټـو خوندیتـوب دی.[1]

د «اسـلامي اقتصـاد» ډېـره پاملرنـه د وېـش د برابـرۍ پـه اړه ده. فکـر کـوم د رالـز لـه اصولـو سره سـم برابـري دوه شرطونـه لـري: لومـړی یـې قانـوني برابـري او دوهـم یـې د ټولنـې لـه بېوزلـو سره مرسـته او همـکاري ده.

۱. جان رالز، د عدالت یوه تیوري
and ۱ .See esp. chaps .(۱۹۷۱ ,Cambridge, MA: Belknap Press of Harvard University Press)
۲, عدالـت د انصـاف پـه توګـه» ، او «د عدالـت دوه اصـول».

# دویم څپرکی

## د اسلامي اقتصادي چوکاټ اصول

اسلام د ټولنې د اقتصادي جوړښت له پاره پراخ اصول وړاندې کوي چې د اقتصادي تګلارې د جوړولو له پاره د بنسټ او همدارنګه د اقتصادي سیستم د ارزونې له پاره د پیرامیټرونو په توګه کارول کېدای شي. دا اصول له روښانه لارښود سره سره اخلاقي زېرمې لري چې په قران او د محمد (ص) په احادیثو کې په تفصیل سره روایت شوې دي. لکه څنګه مو چې یادونه وکړه، محمد (ص) یو بریالی سوداګر و. دا د حیرانتیا خبره نه ده چې هغه د خپلو پیروانو له پاره د شتمنۍ جوړولو اړینې هڅې وکړې. د هغه د شتمنۍ د جوړښت ماډل له دوه برخو جوړ و، لومړی یې د شخصي ملکیت درلودلو حقوق او دوهم یې له مالکیت پرته د طبیعي زېرمو کارول و. زکات په عاید او شتمنۍ مناسبه مالیه وه چې له مسلمانانو به اخیستل کېده او په ټاکلو ډلو به وېشل کېده. د بیو کنټرول نه و، خو د سوداګریزو راکړو ورکړو او قانوني قراردادونو پر ځینو ډولونو سخت محدودیتونه وضع شوي وو ترڅو په سوداګرۍ کې فریب کم کړي. دې ډول چارو خلک رښتینې سوداګرۍ ته وهڅول. په مالیزیا کې د اسلامي مالي چارو له پاره د شرعي څېړنو د نړیوالې اکاډمۍ له لوري د «اسلامي اقتصاد» په اړه په وروستي چاپ شوي کتاب کې چې پوره عنوان یې اسلامي اقتصاد، اصول او تحلیل دی او تقریبا د نړۍ ټولو اسلامي اقتصاد پوهانو[1] په کې برخه لرله موږ لاندې بنسټیز ټکي او اصول موندل. په دې بنسټیزو ټکو کې اتقان (موثریت)، عدل او احسان، تعاون (همکاري)، مسؤلیت منل، سیالي او حساب ورکونه شامل وو. سره له دې چې دغه اصول د اسلام اخلاقي برخه بیانوي خو د پوره چوکاټ په توګه تعریف کېدای نه شي.[2]

---

۱. ادم عبدالله او نور.، اسلامي اقتصاد: اصول او تحلیل، ای ډي. موتاز ابو جیب، محمد اسلم محمد حنیف او مصطفی عمر محمد (کلالامپور، مالیزیا: د اسلامي مالي چارو له پاره د شرعي څېړنو نړیواله اکاډمي Lorong University A, ۲۰۱۸).

۲. عبدالله او نور.، اسلامي اقتصاد، ۱۴۵-۴۷.

دغه اصول تر يوې کچې د اخلاقي لارښوونې په لرلو سره د اقتصادي واک په پېژندلو کې مرسته کوي، خو په خپله د واک د رامنځ ته کېدو سبب نه شي ګرځېدی.

د پاکستاني عالم جاويد احمد غامدي (ب. ۱۹۵۱) په اسلامي اقتصادي ماډل کې پنځه بنسټيز عناصر شامل دي: د شخصي ملکيت حقونه، په طبيعي شتمنۍ ملي کنټرول، د غصب کنټرول او د ميراث په اړه د اسنادو او شواهدو د شتون ترڅنګ د هغه وېش. د هغه استدلال دا دی چې د اسلامي اقتصاد ياد شوي عناصر له قرانکريم را اخيستل شوي، د نورو مالوماتو له پاره يې موږ په راتلونکو څپرکو کې تشرېح کوو. زما باور دا دی چې يو اقتصادي سېستم بايد لاندې درې بنسټيزو پوښتنو ته ځواب ولري:

څوک د څه شي مالک دی؟

شتمني څنګه جوړېږي؟

او شتمني بايد څنګه ووېشل شي؟

ما د اقتصادي چوکاټ د تعريف له پاره پورته پوښتنې په نظر کې نيولې دي.

## ۲.۱. د مالکيت اصول

د اقتصادي تګلارې بنسټيزه پوښتنه دا ده چې څوک د څه شي مالکيت لري. په هغه ټولنه کې چې هر څه د حکومت په واک کې وي د خلکو له پاره د شتمنۍ جوړښت له ستونزو ډک وي ځکه دوی واک نه لري. همدارنګه که هرڅه شخصي ملکيت شي، په ټولنه کې به د حکومت ارزښت او د واک کړۍ محدوده وي. اسلامي فقه د مالکيت دوه اصول ښيي: شخصي ملکيت، عامه ملکيت او عامه ملکيت يې بيا په دوه نورو برخو د حکومت او د ټولنې په ملکيت وېشلی دی.

### ۲.۱.۱. د طبيعي زېرمو عامه ملکيت

د اسلامي اقتصاد په بحثونو کې يو له ډېرو تکراري موضوعاتو د طبيعي زېرمو مالکيت دی چې د شتمنۍ د جوړولو له پاره لومړنۍ سرچينې بلل کېږي او په ټولنه کې د بېخ بنسټونو د پراختيا سبب ګرځي. په نړيوال اقتصادي نظم، نړيوالو کړکېچونو او جيوپوليټکس کې که څه هم تېلو ته تر نورو طبيعي زېرمو لومړيتوب ورکول کېږي، اما نورې طبيعي زېرمې لکه اوبه هم بنسټيزې زېرمې دي. د «اسلامي اقتصاد» په اړه د اس. ام. يوسف (ب.۱۹۱۶) علمي مقالې په اسلام کې د اقتصادي برابرۍ پر بنسټ د يو اقتصادي سېستم تر ټولو اساسي برخه د شتمنۍ جوړښت دی.[۱] هغه زياتوي چې اسلام پرته له کوم محدوديته ټولو ته له طبيعي زېرمو د استفادې واک ورکړی او په دې اړه اسلامي علماء يو واحد نظر لري. له طبيعي زېرمو د استفادې په اړه په قران کريم کې څو ځايه يادونه شوې چې لاندې ايتونه يې ښه روښانه کوي.

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْفُلْكَ لِتَجْرِیَ فِی الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الْاَنْهٰرَ ﴿۳۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآىِٕبَیْنِ ۚ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ ﴿۳۳﴾ وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ ؕ وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَظَلُوْمٌ كَفَّارٌ ﴿۳۴﴾.

ژباړه: الله ج هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او ځمکه، نازلې کړې يې دي له اسمانه اوبه، را ويستلې يې په دې اوبو سره له هر ډول مېوو څخه رزق تاسې ته او تابع کړي يې دي تاسې ته بېړۍ له پاره د دې چې ګرځئ په سيند کې د الله تعالی په حکم او ګرځولې يې دي تاسې ته ويالې او مسخر کړي يې دي تاسې ته لمر او سپوږمۍ په داسې توګه چې ګرځېدونکي دي له دستور سره برابر او مسخر کړي يې دي تاسې ته شپه او ورځ او در کړي يې دي تاسې ته ځينې له هر څيز چې سوال کړی تاسې.

---

۱. يوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت، (New Delhi: Kitab Bhavan، ۱۹۸۸)، ۵.

نو که وشمېرئ نعمتونه د الله؛ نو وبه یې نه شئ شمېری دا نعمتونه د الله (تر اخره پورې)، بېشکه چې انسان لوی ظالم او ناشکره دی. ۳۴-۱۴:۳۲ د یوسف له پورته یادې خبرې سره ټول علماء په یوه نظر دي چې پرته له کوم محدودیت څخه د طبیعي زېرمو استفاده د ټولو انسانانو حق دی او په دې اړه لاندې حدیث مصداق ګرځوي.

مسلمانان په دریو څیزونو کې ګډ حق لري: واښه، اوبه او اور (سنن ابي داود، د استحقاق کتاب، حدیث نمبر.۳۴۷۷)[1]

همدارنګه مولانا مودودي وایي چې هره طبیعي ډالۍ (هوا، روښنايي، تودوخه، اوبه، معدنیات) د ټولو حق دی تر هغه چې شخصي ملکیت نه وي.[2] یوسف زیاتوي، ټولې طبیعي زېرمې که هغه د ځمکې په سر یا یې هم له تل څخه را ویستل کېږي عامه ملکیت بلل کېږي.[3] خو بل لور ته په دې اړه د نظرونو اختلاف هم موجود دی، محمد هاشم کمالي (ب. ۱۹۴۴) په دې نظر دی چې هر هغه طبیعي زېرمې چې په شخصي ملکیت پیداکېږي عام ملکیت نه شمېرل کېږي بلکې د هغه شخص بلل کېږي.[4]

د طبیعي زېرمو د مالکیت د بدلون په اړه په حدیثونو کې ډېرې په زړه پورې پېښې راغلې دي. عبید د الله ج رسول ته ورغی او د مالګې د کان غوښتنه یې ترې وکړه، روایت کوونکی ابن المتوکل وایي: په معارب کې و او نبي کریم (ص) هغه د کان د مشر په توګه وګماره، خو په مجلس کې یو چا له نبي کریم (ص) نه پوښتنه وکړه: «ایا ته پوهېږې چې هغه ته دې څه ورکړل؟

۱. ذکر شوی حدیث په ډېرو حالاتو کې له www.Sunnah.com ویب سایټ څخه اخیستل شوی چې ډېره باوري او غوره وېبپاڼه بلل کېږي.

۲. مولانا مودودي، د اسلامي اقتصاد لومړي اصول (Leicester: Islamic Foundation, ۲۰۱۱), ۸۳.

۳. یوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت،۳۰.

٤. محمد هاشم کمالي، اسانه مقصدالشریعه، پرلیکه مقالې ۱۳ (London: International Institute of Islamic Thought, ۲۰۰۸), https://doi.org/۱۰,۲۳۰۷/j.ctvkc٦٧vz.

هغه ته دي د کلونو د پسرلي اوبو واک ورکړ. نو نبي کريم (ص) بېرته تري واخيست». (ابوداود، کتاب الخراج، د حديث نمبر. ۳۰۶۴)

دغه حديث دوه ټکي څرګندوي: لومړی د طبيعي زېرمو شخصي ملکيت اجازه او بل لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه (واښه، اوبه او اور) د چا شخصي ملکيت نشي کېدای. الأرض په قران کريم کې ۴۵۸ ځلې ذکر شوی خو په اړه يې اسلامي اقتصاد پوه اس.ام. حسن الزمان (ب. ۱۹۳۲) وايي چې د شخصي ملکيت په توګه نه دی راغلی. حسن الزمان زياتوي چې طبيعي زېرمې (د بېلګې په توګه.، الأرض( او شتمني (مال) يو له بل سره يو ډول دي. همدارنګه وايي چې طبيعي زېرمې د انساني هڅو په پايله کې په شتمنۍ بدلېږي نو کله چې انساني هڅې پکې شاملې شي نو طبيعي زېرمې شتنمې کېږي.

نو د پورتني دليل په رڼا کې داسې ښکاري چې اسلام شتمني شخصي ملکيت ګرځولي او ځمکه يو خدايي ملکيت دی. د نبي کريم (ص) کړنو د اسلامي نړۍ واکمن د ځمکې او د هغه د طبيعي زېرمو مالکان ګرځولي چې په اړه يې لاندې حديث په تفصيل مالومات ورکوي.[1] دا ځمکه د الله تعالی ده. او عبادت کوونکي د الله تعالی عبادت کوونکي دي. که څوک بې ثمره ځمکه په حاصل لرونکې بدله کړي، د هغه واک او اختيار پرې ډېرېږي. (سنن ابوداود، حديث نمبر. ۳۰۷۶)

پورتنی حديث په ځمکه د الله تعالی د واک او د انساني هڅو يادونه کوي. انساني هڅې له الله تعالی د ځمکې واک خپل ځان ته را اړولی شي. د ځمکې د واک په اړه قرانکريم فرمايلي دي:

۱. Hasan-uz-Zaman, Economic Functions of an Islamic State, ۳۱.

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ(۴۱).

ژباړه: او پـوه شئ (اې مسلمانانو!) بېشکه هر هغه شی چې په غنيمت واخيست تاسې (له کفارو په غلبې سره) له يوه شي نه؛ نو بېشکه الله لره دی (حکم کول) په خمس د هغه کې او دغه خمس ثابت دی له پاره د رسوالله او له پاره د خپلوانو د (رسول الله له پاره د يتيمانو او له پاره د مسکينانو، محتاجانو او له پاره د مسافرانو (او پاتې څلور برخې دي له پاره د غازيانو، او صبر وکړئ پر دغه تقسيم، که ايمان لرئ په الله تعالی او په هغو ايتونو چې نازل کړي دي مونږ پر بنده خپل په ورځ د فيصلې کې (له حق او باطل څخه چې د بدر ورځ وه)، هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه ډلې او الله پر هر شي ښه قادر دی. (۸:۴۱)[۱] غامدي د ټول منلي اصل له پاره د پورتني ايت تفسير کاږي: «هغه ځمکه او شتمني چې شخصي ملکيت نه وي او يا يې امکان نه وي چې د هغو ملکيت دې شخصي شي بايد د حکومت په واک کې وي، ترڅو له يوه اړخه د حکومت اړتياوې او له بله اړخه د هغو ټولنو چې له دې شتمنۍ لېرې دي اړتياوې پرې پوره کړي». [۲]

د محمد (ص) د ژوند ځينې بېلگې هم بصيرت لري. د غامدي د ميزان له مې معلومېږي چې حضرت محمد (ص) په خپل وخت کې:

۱. د خيبر ځمکې د شريکو فصلونو له پاره ورکړې.

۲. ځينې ځمکې يې په دايمي ډول هغو کسانو ته ورکړې چې په نظر کې ورته نيول شوې وې.

۱. سنن ابو داوود، شلم ټوک، حديث نمبر ۳۰۷٦، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/abudawud/۲۰/۱۴۹.

۲. غامدي، اسلام، ۴٦٦

۳. ځینې ځایونه یې د هیما (د څړ ځایونو) په توګه پرېښودل.

٤. ځینــې ځیزونــه یــې ټولــو تــه د مســاوي برخــې اخیســتو پــه توګــه پرېښــودل او

۵. د ویالــو او پــسرلي اوبــو د ګټــې اخیســتنې لــه پــاره یــې د «نــږدې نــږدې» تــه اصــول وټــاکل.[1]

پــر دې سربېــره حــضرت عمــر (رض) چــې کلــه د خپــل خلافــت پــر مهــال ســوریه او عــراق فتحــه کــړل نــو د ځمکــې پــه پخوانیــو مالکانــو یــې یــوه ځانګــړې مالیــه (خــراج) وضعــه کــړه پــه داســې توګــه چــې ځمکــې لــه پخوانیــو خاوندانــو سره پاتــې شــوې.[2] نبــي کریــم (ص) د فتحــه شــوو ځمکــو د وېــش لــه پــاره پنځــه بېلابېــل میتودونــه د وخــت او مــکان پــه کتلــو سره کارول. د یادونــې وړ ده چــې طبیعــت او ډالــۍ یــې تــر هغــه عامــه ملکیــت بللــې چــې لــه انســاني هڅــو لــېرې وي، چــې انســاني هڅــې پــرې وشي بیــا پــه شــتنمۍ بدلېــږي هغــه بیــا عامــه ملکیــت نــه شــمېرل کېــږي. د بېلګــې پــه توګــه اوبــه وړیــا دي، خــو د لاســته راوړلــو لــه پــاره انســاني هڅــو تــه اړتیــا لــري چــې را ویــې بــاسي، پاکــي او تصفیــه یــې کــړي او د اســتفادې لــه پــاره یــې تیــارې کــړي. د دې بحــث د لا پراختیــا لــه پــاره د پاکــو اوبــو تصفیــه کوونکــې کمپنــۍ بایــد د اوبــو د پلــور لــه پــاره بیــه وټاکــي، ځکــه پــه پاکولــو یــې لګښــت راځــي، نــو پــر دې بنســټ د نبي کریــم (ص) هغــه مصــداق چــې اوبــه وړیــا دي دلتــه نــه پلــی کېــږي ځکــه چــې لګښــت پــرې راځــي او د اوبــو بیــه هــم همــدې لګښــت تــه پــه کتــو ټــاکل کېــږي. ځینــې فقهــا د اقتــا (iqta) کلمــه داســې بیانــوي، حکومــت یــوه ټوټــه ځمکــه د اجــارې پــه ډول شــخصي ملکیــت ګرځــوي او پــه بــدل کــې یــې ۲۰ ســلنه د مالکیــت حــق تــرې اخــلي. دا کړنــې پرتــه لــه دې چــې د طبیعــي زېرمــو ملکیــت ترلاســه شي د اوږد مهالــه ســوداګرۍ لــه پــاره لاره پرانیــزي.

۱. غامدي، اسلام، ۴۷۰

۲. غامدي، اسلام، ۴۷۰

پورتنیو بېلګو ته په کتو دا ډېره غوره ده چې د نبي کریم (ص) حدیث «اوبه، واښه او اور» عامه ملکیت دي.[1] همدارنګه په یاد ولرئ، مالکیت ټولنې ته منسوب شوی، هغه داسې چې باید د دولت په نامه ونه نومول شي. لکه څنګه چې موږ د چاپېریال ساتنې اقتصاد په اړه له معاصر بحث په ځانګړې توګه، د عامه شتمنۍ د مدیریت په اړه د نوبل جایزې له ګټونکې ایلنر استرم پوهېږو چې له خصوصي او دولتي مالکیت پرته یو اغېزناک ټولنیز مالکیت هم شته چې دا په اسلام کې د طبیعي زېرمو له مالکیت سره یو ډول دی.

## ۲.۱.۲. د شخصي ملکیت حرمت

تر هغو چې شتمني له حلالې لارې لاسته راځي شریعت دواړو (وړل کېدونکي او ثابت شخصي ملکیت) ته د ګټې اخیستنې حقوق تاکلي. د شتمنۍ حقوق په بېلابېلو برخو لکه ځمکه، د اوسېدو ځای، پانګه، وسایلو او نورو وېشل شوي. قران کریم د شخصي ملکیت په اړه په ښکاره او څرګنده توګه فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا.

اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو!) مه خورئ تاسې مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره! خو خورئ یې که وي دا مالونه د سوداګرۍ د یو او بل په خوښې سره. (۴:۲۹)

۱. د استرام د کار په اړه د نورو مالوماتو له پاره، د نوبل جایزې ویب پاڼه وګورئ، ./ostrom/facts/۲۰۰۹/https:// www.nobelprize.org/prizes/economic-sciences

همدارنګه په بل ایت کې فرمایي چې حیوانات الله تعالی پیدا کړي او انسانانو ته یې تري د ګټې اخیستني واک ورکړی: أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ.

ایا هغوی نه دي لیدلي چې موږ ورته د خپلو لاسونو له جوړو شوو څیزونو څخه څاروي پیدا او اوس یې هغوی واکمن دي؟ (۳۶:۷۱)

په دې اړه ډېر شمېر حدیثونه هم موجود دي، یو تر ټولو داسې حدیث د نبي کریم (ص) په وروستي خطبه کې واقع شو چې هغه وفرمایل: ستاسې وینه (ژوند)، مالونه او عزت د یو بل له پاره دومره سپېڅلي دي لکه په دې ښار او میاشت کې ستاسې دغه ورځ، بېشکه چې تاسې به له خپل رب سره ملاقات وکړئ او هغه به ستاسې د کړنو په اړه درنه پوښتنه وکړي. (صحیح بخاري، التوحید کتاب، حدیث نمبر. ۷۴۴۷)[1]

له دې حدیث مالومېږي چې شتمني له ملکیت سره تړلې ده. پېژندل شوي عالم مصطفی الزرقا ملکیت داسې تعریفوي: د شریعت په رڼا کې مالک ته د خپلې شتمنۍ د ګټې اخیستنې واک تر هغې چې پرې قانوني محدودیتونه نه وي.[2] هاشم کمالي پر دې باور دی چې په دې تعریف کې موخه او د مالکیت حقوق واضح شوي، هغه زیاتوي چې ټولنیز مالکیت درې ډوله دی: لومړی یې د بېلګې په توګه عامه مکتبونه، سړکونه، سیندونه او روغتونونه دي چې شخصي ملکیت نشي ګرځېدی. دوهم هغه یې ځنګلونه، خاوره، ځمکه او په اسانه ګټې اخیستونکي طبیعي زېرمې دي.[3] او دریم هغه یې د فتوحاتو په پایله کې د ځمکې نیونه که څه هم عمر بن خطاب (ډي. اي ایچ ۲۳/ اي ډي ۶۴۴) تر مالیې وروسته د هغه واک بېرته اصلي مالک ته سپارلی.[4]

---

۱. صحیح البخاري، https://sunnah.com/bukhari/۷۳/۹۷. accessed March ۲۲, ۲۰۲۰.

۲. کامالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، کوالالامپور مالیزیا: د اسلامي مطالعاتو نړیوال انستیټیوټ؛ Petaling Jaya, Malaysia: Ilmiah Publishers, ۲۰۱۳, ۲۵۹.

۳. کامالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت،۲۳.

٤. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۶۷-۶۸.

د قرانکریم په بېلابېلو ځایونو کې ذکر شوي چې «د هغه شتمني» (۲:۲۶۴)، «د دوی شتمني» (۲:۲۶۲-۶۲)، «د نورو ملکیت» (۲:۱۸۸)، او «ستا شتمني» (۴:۲). اسلام د شرعي اصولو پر بنسټ د شخصي شتمنۍ ساتنه کړې. د دې خوندیتوب غوره بېلګه ان تر استعماري دورې پورې د وقف (خیریه بنسټونو) شتون و. دغه بنسټونه شخصي ملکیت وو اما تر خپلواکۍ وروسته په عامه ملکیت بدل شول او یوازې د دیني کړنو او تدریس له پاره یې ګټه ترې واخیسته. پر دې بنسټ د اسلامي ټولنې په ټولنیزه او اقتصادي بیارغونه کې شخصي ملکیت په ملي هغه بدل شو. د شخصي ملیکت په عامه هغه بدلېدو په اړه نامتو علماء د بېلګې په توګه هاشم کمالي وایي، نبي کریم (ص) په مدینه منوره کې یو شخصي ملکیت د اسونو په څړ ځای بدل کړ او همدارنګه حضرت عمر (رض) د جهاد د هغو اسونو له پاره چې شخصي ملکیت وو دوه څړ ځایونه وټاکل.[1] په ټولنه کې د اقتصادي برابرۍ او ټولنیز عدالت د رامنځ ته کېدو له پاره په ۱۹۶۴ کال د کایرو الازهر اسلامي څېړنیزې اکاډمۍ هم ملي کول (nationalization) یو غوره اصل وګاڼه.[2] په ځینو حالاتو کې د ملي کولو موضوع پورته پېښو ته ورګرځي، خو د یادونې وړ ده چې د طبیعي زېرمو لکه (څړ ځایونو) او کارخونو (چې ډېرې انساني هڅې ته اړتیا لري) سره په توپیر کې دي. پر دې بنسټ د عامه ګټې اخیستنې په پار د شخصي ملکیت تر واک لاندې نیول باید تل د پورته قیاس پر بنسټ ترسره نه شي.

په دې اړه هاشم کمالي وایي، د شخصي ملکیت په عام ملکیت بدلولو غوره لاره په څو برخو وېش دی، هغه زیاتوي کله چې نبي کریم (ص) ځمکه د اسونو د څړ له پاره وټاکله نو ځمکه یې په بېلابېلو برخو ووېشله. د دې قیاس پر بنسټ باید په اوسني عصر کې د ښاري مدیریت له پاره ځینې ځمکې زراعتي، صنعتي او سوداګرۍ ته په نظر کې ونیول شي.

۱. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۸۹-۹۰.
۲. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۸۸-۹۰.

هـره شـخصي شـتمني تـر هغـې عامـه ملکيـت نـشي ګڼـل کېـدی چـې د قانـون خـلاف کړنـې يـې نـه وي تـرسره کـړې. پـه شـلمه پېړۍ کـې د ملـي کولـو پروسـې چـې د اسـلامي نـړۍ يـې ولکـه کـړه پـه حقيقـت کـې يـې د خلکـو د شـخصي شـتمنيو د محروميـت هغـه حقـوق چـې اسـلام ورکـړي وو تـر پښـو لانـدې کـړل. پـه معـاصر وخـت کـې يـوه مهمـه موضـوع پـه ځانګـړي ډول پـه ښـارونو کـې د ځمکـې سـاتنه ده. هغـه دا چـې ځمکـه بـه تـر اخيسـتل کېـدو وروسـته د پراختيـا لـه کـوم پـلان پرتـه د يـوې مـودې لـه پـاره سـاتل کېـږي. لـه پورتنيـو بحثونـو ښـکاري چـې اسـلام د ځمکـې سـاتلو خـلاف و پـه ځانګـړي ډول چـې د ځمکـې تـر اخيسـتل کېـدو وروسـته بـه د بيـو د لوړېـدو لـه پـاره سـاتل کېـده. همدارنګـه بـه حکومـت تـه واک ورکـول کېـده لـه ښـاري ځمکـې ګټـه واخـلي او ماليـه پـرې وټاکـي. د مالکيـت بحـث مـو دې پايلـې تـه رسـوي چـې د اسـلامي نظريـې لـه مخـې مالکيـت پـه بېلابېلـو برخـو وېشـل شـوی. طبيعـي زېرمـې عامـه ملکيـت دي، د پراختيـا لـه پـاره يـې حکومـت شـخصي ملکيتونـو (شرکتونـو، کمپنيـو) تـه د شرطونـو پـه رڼـا کـې د يـوه ټـاکلي وخـت لـه پـاره ورکـولای شي. د شـخصي او عامـه ملکيـت پـه اړه بحـث کـې د شـتمني جوړښـت چـې د انسـاني هڅـو پـه پايلـه کـې لاسـته راځـي يـو بلـه اړينـه موضـوع ده.

## ۲.۲. د شتمنۍ جوړونې اصول

لکـه څنګـه چـې مخکـې ورتـه يادونـه وشـوه، اسـلام د سـوداګرو پـه نـړۍ کـې را څرګنـد شـو. ښـاري عربانـو د ژونـد کولـو لـه پـاره نـورې سرچينـې نـه درلـودې، ځکـه پـه سـوداګرۍ کـې ښـه پېژنـدل شـوي وو. د دوی سـوداګريز کاروانونـه، پـه کـوم کـې چـې تـر نبـوت مخکـې نبـي کريـم (ص) هـم برخـه درلـوده تـر هنـد او چيـن رسـېدل. د اسـلامي تاريـخ اقتصـادي څېړونکـی او نامتـو بانکـوال بينيـډک کوهيلـر (ب. ۱۹۵۳)[۱]

۱. Benedikt Koehler

په خپل کتاب مخکينی اسلام او د کپيټلېزم پيدايښت کې کاږي چې محمد (ص) د خپلو شخصي تجربو پر بنسټ د سوداګرۍ او اقتصادي اړيکو يو چوکاټ جوړ کړی و.[1] محمد (ص) خپلې ټولنې ته د اسلام تر څنګ يو اقتصادي چوکاټ هم ورکړ. د هغه اقتصادي تګلاره، خپلواکه سوداګري، د زېرمو مناسب وېش او د شتمنۍ جوړښت ته وده ورکړه او دغه چوکاټ د خلکو په منځ کې په پېړيو د استفادې وړ و.[2] دغه نبوي ليد په قران کريم کې هم څرګند شوی او د شتمنۍ په پيدا کولو ټينګار کوي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا. ژباړه: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی (يعنې اې مؤمنانو!) مه خورئ تاسې مالونه د يو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره! خو ويې خورئ که وي دا مالونه سوداګري د يو او بل په خوښې سره. (۴:۲۹)

ټولو مومنانو ته ويل شوي چې خپله شتمني دې د سوداګرۍ له لارې ولګوي بېشکه داسې سوداګري چې د دواړو اړخونو په خوښه وي. الله تعالی ټول مومنان له بې ځايه لګښت منع کړي او هڅولي يې دي چې شتمنۍ سپما او سوداګري پرې وکړي. که موږ د نننۍ عصر د شتمنو کسانو تېر ته وګورو نو تر شا يې هوښيارتيا له ورايه ليدل کېږي. د بېلګې په توګه وارن بفيټ چې د فوربس مجلې د مارچ ۱۵، ۲۰۲۰ د راپور پر بنسټ د نړۍ په دريو شتمنو کسانو کې راغی او شتمني يې ۷٦ مليارد ډالره وه.[3] هغه د خپلې شتمنۍ ۹۹ فيصده خيره کارونو ته ځانګړې کړې.[4]

١. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خونديتوب، محرميت او مالکيت، ۲۸۸-۹۰.
٢. کوهيلر، مخکينی اسلام او د کپيټليزم پيدايښت Lanham, MD:
Lexington Books, ۲۰۱٤, ۱٦.
٣.د نړۍ د بيليونرانو لېست: په ۲۰۲۰ کې شتمن، Forbes, accessed March ۱۵, ۲۰۲۰, https://www.forbes.com/billionaires/#٦٨٤٣٨٩٦٩٢٥١c. وارن بفټ، The Giving Pledge," accessed March ۱۵, ۲۰۲۰, https://givingpledge.org/Pledger.aspx?id=۱۷۷.
٤. وارن بفټ، The Giving Pledge," accessed March ۱۵, ۲۰۲۰, https://givingpledge.org/Pledger.aspx?id=۱۷۷

د شتمنۍ د سپما کولو دود چې قرانکریم ورته یادونه کړې د شتمن کېدو غوره لاره ګڼل کېږي، دا د پالیسۍ په برخه کې یو ښکاره پیغام دی چې: پولي او مالي تګلارې باید داسې جوړې شي چې سپما، پانګونه او سوداګریزې کړنې وهڅوي، د اسلام په لومړیو وختو کې مسلمانانو شتمني یوازې له سوداګرۍ نه ترلاسه کوله بلکې دوی د فتوحاتو په ځانګړي ډول د فارس او روم له غنیمتونو د لېږد وړ او ثابته شتمني لکه ځمکه ترلاسه کوله. په ځمکه به یې یو پر لسه مالیه ټاکله. د اسلامي خلافت د پاینښت له پاره دغه ډول عایداتو ځانګړې اهمیت درلود. د یادونې وړ ده چې په معاصره نړۍ کې د عاید دغه سرچینه د کار وړ نه ده.

شریعت د قانوني کړنو په رڼا کې له کوم محدودیت پرته د شتمنۍ پراختیا هڅوي.[1] د بازار په بیو کې تل د پلورونکو له پاره مناسبه اندازه ګټه وي، دغه د سوداګرۍ له پاره ښه لاره پرانیزي. د یادونې وړ ده چې د ګواښ اندازه له ګټې سره مساوي او متناسبه ده، په دې ډول چې څومره د خطر اندازه ډېرېږي د ګټې اندازه هم ورسره ډېرېږي. نبي کریم (ص) د ګټې لوړه اندازه نه ده ټاکلې خو په راکړه ورکړه کې یې له عدل او اخلاقو څخه د ګټې اخیستنې سپارښتنه کړې: ګټه د مسؤلیت تابع ده. (سنن ابو داود، د استحقاق کتاب، حدیث نمبر. ۳۵۱۰) [2] نامتو اسلامي تاریخ لیکونکی او ریاضي پوه ابن خلدون (ومړ. ایچ اې ۸۰۸/ اې ډي ۱۴۰۶) د ګټې په اړه داسې وايي: باید ښکاره شي چې سوداګري یعنې د ګټې د ترلاسه کولو له پاره په ټيټه بیه د یوڅیز پېرل او په لوړه بیه یې پلورل دي. د ګټې د ترلاسه کولو له پاره کېدای شي یو شی په ټیټه بیه وپېرل شي او تر یو څه څنډ ساتلو وروسته په لوړه بیه وپلورل شي او یا هم سوداګر له یوه ځای بل ځای ته خپل مالونه انتقال او هلته یې په لوړه بیه وپلوري.

۱. کمالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت په اسلام کې، ۲۴۵.
۲. سنت، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/abudawud /۲۴.

زه یې ساده وایم: «ارزانه یې و پېره او ګران یې وپلوره» همدا سوداګري ده.[۳] د شتمنۍ د جوړښت په اړه د معاصرو علماوو د «اسلامي اقتصاد» په چوکاټ کې د شتمنۍ د جوړښت له پاره د معاصرو علماوو هڅې د ستایلو وړ دي، خو د یادونې وړ ده چې قانوني او ټولنیز چاپېریال یې باید پراخ شي ترڅو د شتمنۍ د جوړښت پر وړاندې ستونزې اوارې شي. موږ به وړاندې په دې خبرې وکړو چې د شتمنۍ د جوړښت په اړه د اسلامي اقتصادي چوکاټ نړیوال اصول د ډېری اسلامي هېوادونو له قانون سره په ټکر کې دي چې دوی اوس ترې ګټه اخلي.

## ۲.۳. د شتمنۍ د دوران اصول

د اقتصادي ننګونو یوه خورا مهمه ننګونه په عاید او شتمنۍ کې د لوړو او ټیټو عاید لرونکو کورنیو د نابرابرۍ کچه ده. د شتمنۍ د دوران د پوهېدو په اړه اسلامي اقتصادي چوکاټ نابرابري په درې برخو کې بیانوي.

- لومړی، د اقتصادي نابرابرۍ په اړه الهي حکم څه دی؟
- دوهم، د شتمنۍ د وېش پراخه اصول کوم دي؟
- درېیم، د شتمنۍ د وېش له پاره کومې شته لارې موجودې دي؟

قرانکریم فرمایي، ټولنیزه اقتصادي نابرابري د الهي حکم برخه ده، په دې اړه قرانکریم فرمایي: أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ۚ نَحْنُ قَسَمْنَا بَيْنَهُم مَّعِيشَتَهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُم بَعْضًا سُخْرِيًّا ۗ وَرَحْمَتُ رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ. ژباړه: ایا دوی وېشي رحمت (نبوت) د رب ستا (لکه چې دوی وایي)؟ نه داسې نه ده، بلکې موږ وېشلی (قسمت) کړی مو دی په منځ د دوی کې معیشت د دوی په دغه ژوندون لږ کې او پورته کړي مو دي ځینې د دوی له پاسه د ځینو نورو په مرتبو کې د دې له پاره چې ونیسي ځینې د دوی (چې غنیان دي) ځینې نور (چې فقیران دي) تابع کار کوونکي. (۴۳:۳۲)

۱. حفاس فرقاني، «په اسلام کې د توضیعي برابرۍ تیوري» (په اسلام او ازادۍ جوړ شوي شپږم نړیوال کنفرانس اسلام اباد، پاکستان، ۲۰۱۸)، https://islamandlibertynetwork.org/blog /۳۰/۱۲/۲۰۱۸/ hafas۶/.

قرانکریم د شتمنۍ د وېش له پاره غوره لاره د شتمنۍ دوران بولي او د دې مخالفت کوي چې ټوله شتمني دې له یوې ځانګړې ډلې سره وي: مَّا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنكُمْ ۚ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ.

ژباړه: د غنیمت مالونه باید یوازې د شتمنو نشي، بلکې د الهي حکم له مخې دې ووېشل شي. (۵۹:۷) که څه هم پورتنۍ لارښوونې د جګړې د غنیمتونو په اړه وې خو د شتمنۍ د دوران په اړه دا د یوه عمومي امر په توګه د عملي کېدو وړ ده.

دغه دوران د سوداګرۍ او مالیې په واسطه ترسره کېږي خو د اسلامي اقتصادي چوکاټ په اډانه کې د ذکات، عشر او یا هم په ځینو حالاتو کې د ځمکې د مالیې په توګه ترسره کېږي. د شتمنۍ وېش د ټولنیز، اقتصادي خوځښت د رامنځ ته کولو تر څنګ، متقابل تړاو ته وده ورکوي چې په داسې حالت کې باید نابرابري د منلو وړ وګڼل شي، خو دغه نابرابري په اوسني فکري چاپېریال کې د منلو وړ نه ده، نو پر دې بنسټ نور وضاحت ته اړتیا لري.

ایا دغه اسلامي اقتصادي چوکاټ او یا هم اړوند اصول به یې د شتمنۍ د مالکیت لویه تشه چې اوسمهال شته وزغمي؟ دغه ځواب په کار دی چې نابرابري څنګه رامنځ ته شوې؟

پوهېږو چې په اصولي توګه د مسلکي کړنو (مسلکي لوبغاړی، یا هم د ټولنیزو رسنیو پېژندل شوی کس) یا هم نوښتیزو کړنو په پایله کې د عاید لاسته راوړلو نابرابري د منلو وړ ده، خو څه به وشي چې په ټوله کې په مقداري توګه د لوړو خلکو له خوا لاسته راغلی او د ښکته خلکو له خوا لاسته راغلی عاید د منلو وړ نه وي؟

اسلامي اصل په دې اند دی چې رهبري باید لوړ عاید لرونکي کسان دې ته راضي کړي چې پر مالیې سربېره د ټولنې د اقتصادي ستونزو د حل له پاره ډېره ونډه واخلي.

د هجرت پر مهال چې کله نبی کریم (ص) له خپلو ملګرو سره له مکې څخه مدینې ته لاړ، د مدینې خلکو چې اقتصادي وضیعت یې ښه و د مکې غریب مسلمانان قبول او په ځینو حالاتو کې یې ورسره خپله شتمني هم وویشله. دا کړنه باید قانوني بڼه ونه لري اما د ورورولۍ پر بنسټ باید ونه درول شي او جریان ولري.

په اداري کچه دا فکر باید لوړ عاید لرونکي کسان وهڅوي چې د وقف یا خیریه بنسټونو له لارې خپل سخاوت وښيي.

اسلام د شتمنۍ د وېش او دوران تر څنګ، شخصي ملکیت محرم ښودلی، قرانکریم په دې اړه فرمايي: وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِّلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ.

او په مالونو د دوی کې حق او برخه وه سوالګرو لره او صبر کوونکو لره. (۵۱:۱۹)

د شتمنۍ د ساتلو له پاره اسلام دوه ډوله محدودیتونه وړاندې کړي دي: لومړی هغه يې ماليه ده چې مخکې ورته اشاره وشوه. د شتمنۍ ویش او دوران په اسلام کې د ذکات په مرسته ترسره کېږي (۲،۵ فیصده ضروري کلنۍ پیسې دي چې په شتمنۍ باندې ورکول کېږي) عشر (د زراعتي محصولاتو ۱۰ فیصده د یو کال په موده کې) او همدارنګه د رضاکارانه لګښت (صدقه) ده. دوهم هغه يې میراث دی چې د اسلامي اصولو په رڼا کې د کورنۍ غړو ته وېشل کېږي. د شتمنۍ د ویش په اړه اندونیزیایي عالم هفاس فرقاني یو لړ قراني اصول وړاندې کړي چې دلته يې یادونه ضروري بلل کېږي. کسب (یو کس باید هڅه وکړي چې د خپلې هڅې په پایله کې مزد تر لاسه کړي)، رزق (د الله تعالی له لوري هر کس ته برابره شوې برخه ده چې کېدای شي ځینو ته ډېره او ځینو ته کمه وي او همدا د عاید نابرابره ویش د الله تعالی د پلان یوه برخه ده) امانت، (هغه شتمني چې یو کس يې د ساتلو مسولیت لري) حقوق او انفاق (د الله تعالی په لاره کې لګښت).[1] د شتمنۍ د دوران په اړه د اسلامي اصولو پلي کول د عاید د نابرابرۍ د کمېدو سبب ګرځي، له ژوند څخه وروسته د مرګ په اړه د ترمذي روایت دی چې: غریب له شتمنو څخه پنځه سوه کاله مخکې جنت ته داخلېږي (ترمذي، حدیث نمبر. ۴۸۷)[2]همدارنګه په قرانکریم کې د شتمن او شتمنۍ ۸۹ ځله ذکر کېدل موږ ته د الله تعالی د ازموینې یادونه کوي چې دا ټول د الله تعالی له طرفه دي. په دې کې شک نشته چې د شتمنۍ په اندازه حساب هم کېږي. پر دې بنسټ نبي کریم (ص) فرمایلي چې غریب به له شتمنو پنځه سوه کاله مخکې جنت ته داخلېږي. له شتمنو به نه یوازې د دوی د شتمن کېدو پوښتنه وشي بلکې د دوی د شتمنۍ د کار د ځایونو په اړه به هم وپوښتنل شي.

۱. التزمي، لومړی ټوک، حدیث نمبر. ۴۸۷،
.٤٨٧/١/https://sunnah.com/riyadussaliheen ,٢٠٢٠ ,٢٢ accessed March

۲. حفاس فرقاني، «په اسلام کې د توضیعي برابرۍ تیوري» (په اسلام او خپلواکۍ جوړ شوي شپږم نړیوال کنفرانس اسلام اباد، پاکستان، ۲۰۱۸)،
./hafas٦/٣٠/١٢/٢٠١٨/ https://islamandlibertynetwork.org/blog

## پایله

د ټولنې د اقتصادي جوړښت د برابرۍ له پاره اسلام درې بنسټيز اصول وړاندې کړي:

- د شخصي او عامه ملکيتونو اصول.
- د ازاد کاروبار له لارې د شتمنۍ جوړښت.
- او د حقوقو په رڼا کې د شتمنۍ وېش.

له شخصي مالکيت څخه پرته هېڅوک اجازه نه لري ، سوداګريزې کړنې وکړي، همدارنګه له شخصي ملکيت څخه ناوړه ګټه اخيستنه له اسلامي اصولو سره په ټکر کې ده.

په طبيعي زېرمو «اوبه، واښه او اور» د شخصي ملکيت اجازه نشته او دا د طبيعت ډالۍ دي. که څوک له دې طبيعي زېرمو د څېزونو د جوړولو د بېلګې په توګه د کور له پاره، دا بيا عامه ملکيت نشي شمارل کېدای. شتمني د سوداګرۍ پر بنسټ د سوداګرو د خپلواک کاروبار په پايله کې رامنځ ته کېږي، په پايله کې هغه څه چې قانوني يې موږ ګټو، زموږ يوه وړه برخه يې هم د نورو حق کېږي ان که دوی قانوني حق هم درسره نه وي.

# دریيم څپرکی

## د اسلامي اقتصادي چوکاټ بنسټيز اصول

د اسلامي اقتصادي چوکاټ په بنسټيزو اصولو کې د اقتصاد د مديريت اړين اصول شامل دي. د دې چوکاټ اصول او د هغه عملي بڼه له اسلامه زما د شخصي زده کړې پر بنسټ ترتيب شوې.

په بله مانا دا چوکاټ يوازې تيوري نه بلکې تيوري او عمل دواړو مجموعه ده. په دې اقتصادي چوکاټ کې د بيو خپلواکي؛ خپلواکه سوداګري؛ د مارکېټ چلونه؛ سره زر؛ مالي تګلاره؛ وقف او د ميراث قوانين موجود دي.

### ۳.۱. د بيو خپلواکي

بيې د پلورونکي او پېرودونکي تر منځ په خپله خوښه د يوه ځانګړي څيز د پېر او پلور له پاره کارول کېږي او د مارکېټ يو له اصلي عناصرو ګڼل کېږي.[۱] که د بيو په اړه مالوت د حکومت يا هم د بازار د ګډون کوونکو په واسطه ګډوډ شوي وي نو پېرودونکی او پلورونکی له ناسمې پرېکړې سره مخ کېږي.

اسلام، په تاريخي بڼه سوداګر او شرکتونه خپلواکو سوداګريزو کړنو ته هڅوي، خو پوښتنه دا ده چې اسلام د بيو کنټرول څنګه کوي؟ دغه برخه د بيو د کنټرول، ثبات او ټاکلو په اړه د علماوو نظرونه او اسلامي دليلونه را اخلي.

۱. دغه (۳:۱) برخه له لر. توپير سره زما له پخوانۍ ليکنې چې پخوا خپره شوې په کاماډيټي بازار کې د حکومت لاسوهنه: په اسلام کې د ټولنيزي برابرۍ او اقتصادي خپلواکۍ ترمنځ توپير.
Islamabad, Pakistan: Economic Freedom Network Pakistan/ Friedrich-Naumann-Stiftung für die Freiheit, ۲۰۱۲), ۱–۲۳.

### ۳.۱.۱. تسعیر (د بیو کنټرول)

د حکومت په واسطه د بیو د کنټرول په اړه له پېړیو راهیسې د علماوو بېلابېل نظرونه موجود دي. په دې اړه کوم قراني ایت نشته، نو په اسلامي چوکاټ کې د بیو د کنټرول له پاره زموږ یوازیني ماخذونه د نبي کریم (ص) احادیث دي. د نبي کریم (ص) د احادیثو له مخې تسعیر ناروا دی، ځکه بیې د خدای (ج) له لوري ټاکل کېږي او تسعیر یې نا برابري ده.

په دې اړه ډېر حدیثونه شته چې ځینې یې په لاندې ډول دي: خلکو وپوښتل: «اې د الله تعالی رسوله بیې پورته تللې زموږ له پاره بیې وټاکه.»نبي کریم (ص) وفرمایل: «یوازې الله تعالی دی چې بیې ټاکلی شي او زه هیله لرم چې کله به له الله تعالی سره ملاقات کوم د هېچا د مال او وینې پور به نه وي را پورې.» [1] (سنن ابو داود، حدیث نمبر. ۳۴۵۱). دغه حدیث نورو محدثینو هم روایت کړی. [2]

د حنفي مذهب بنسټ ایښودونکي امام ابوحنیفه او د هارون رشید د وخت قاضي القضات د شاگرد قاضي ابو یوسف (ډی. اې ایچ ۱۸۲/ اې ډي ۷۹۸) په کتاب الخراج کې درې بېلابېلو قضیو ته د نبي کریم (ص) د یو ډول ځواب ذکر راغلی.[3] په ټولو قضیو کې نبی کریم (ص) د بیې ثبات نه دی ټاکلی. [4]

۱. ابو داود، حدیث نمبر. ۳۴۵۱، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/abudawud/۲٤.

۲. سنن ابن ماجه، کتاب ۱۲، حدیث نمبر. ۲۲۸۵ (https://sunnah.com/urn/۱۲٦٥۲۰۰); Bulugh al-Maram, Book ۷, Hadith ۸۱۲ (https://sunnah.com/bulugh/۷/۳۸).

۳. یعقوب ابراهیم النصیر ال کوفي ابو یوسف، کتاب الخرج [in Arabic] (ca. AH ۱۳۲/AD ۷۵۰; Damascus: n.p., ۱۷۳۲), https://www.wdl.org/en/item/۱۱۲۲۵/.

٤. ابو یوسف، کتاب الخرج، نیجت الله صدیقي (Lahore:Islamic Publications, ۱۹٦٦), ۱۵۵.

د بيو د کنټرول د قانوني کولو له پاره پورته ياد شوی لومړنی حديث دی. که څه هم د حديث تفسيرونه بېلابېل دي خو په هر لحاظ شريعت د بيو د کنټرول خلاف دی.

د فقهاوو يوې ډلې چې مشري يې امام ابوحنيفه (ډي. ۱۵۹ اې ايچ/۷٦۷) او امام مالک (ډي. ۱۷۹ اې ايچ/ ۷۹۵ اې ډي) کوله د بيو د کنټرول خلاف و، خو د لويو عام المنفعه کارونو له پاره يې د تعسير په اړه مثبت نظر درلود. ابن تيميه (ډي. ۷۲۸ اې ايچ/ ۱۳۲۸ اې ډي) د دغه نظر په وضاحت کې وايي چې تعسير نه يوازې منعه دی بلکې د قحطۍ او جګړې پر مهال فرض دی.

د امام شافعي (ډي. ۲۰۴ اې ايچ/۹۲۰ اې ډي) او امام ابن حنبل (ډي. ۲۴۰ اې ايچ/۸۵۵ اې ډي) پېرو علماء د تعسير خلاف دي ځکه دوی شخصي ملکيت محرم بولي او پر دې باور دي چې د بيو کنټرول د شخصي ملکيت محرميت تر پښو لاندې کوي. همدارنګه حنفي مذهبه برهان الدين المارغناني (ډي. ۵۹۳ اې ايچ/ ۱۱۹۷ اې ډي) په دې اړه د حنفي مذهب فکر داسې وړاندې کوي: سلطان حق نه لري د خلکو له پاره بيې وټاکي. (ځکه نبي کريم (ص) فرمايلي، الله تعالی د بيو ټاکونکی دی. همدارنګه د بيې ټاکنه د پلورونکي حق دی. نو بناء امام بايد تر هغو په مارکېټ کې لاسوهنه ونه کړي څو چې ټولنيز خونديتوب تر پښو لاندې شوی نه وي.[1]

پر دې بنسټ د حنفي مذهب پېروان د ټولنيز خونديتوب د ساتنې له پاره د بيو کنټرول ته لاره پرانيزي په داسې حال کې چې د مدينې خلکو له نبي کريم (ص) څخه هم د ټولنيز خونديتابه له پاره د بيو د کنټرول غوښتنه کړې وه، خو نبي کريم (ص) د بيو د يوې ټاکلې کچې د ټاکلو غوښتنه رد کړې وه.

۱. محمد لوال احمد بشر را اخيستي، «په اسلامي اقتصاد کې د بيو کنټرول» Journal of King Abdulaziz University: Islamic Economics ,۹ no. ۱ (۱۹۹۷): ۳۰.

د حنفي او مالکي مذهب خلاف چې دوی د پېرودونکو د هوساینې له پاره د بیو کنټرول جایز کړی، د شافعي او حنبلي مذهب پېروان د پېرودونکو او پلورونکو په نظر کې نیولو سره په بازار کې د حکومت هر ډول لاسوهنه ردوي. اما شمس الدین ابن القدامه المقددي (ډي. ۶۲۰ اې ایچ/ ۱۲۲۳ اې ډي) د حنبلي فکر عالم لیکي: د بیو کنټرول کېدای شي په یو ډول د بیو د لوړېدو لامل شي. سوداګر به له بهر ځخه داسې ځای ته مال رانه وړي چې هلته دې د دوی د خوښې پر خلاف بیه وپلورل شي. ځایي سوداګر کېدای شي مالونه د پېرودلو پر ځای خوندي کړي. په دې سره به بازار کې توکي کم او بیې به لا لوړې شي. دواړه خواوې (پېرودونکي او پلورونکي) به زیان ومومي، پېرودونکی به ځکه زیان مومي چې توکي یې ساتلي وو او پلورونکی به ځکه په زیان کې وي چې په بازار کې به توکي نه پیدا کېږي. نو په دې سره دا عمل باید ناروا وي.[1]

د حنفي فکر لارویان دا مني چې تسعیر د حدیث خلاف دی، خو د لوړې بیې له امله د سوداګرو د احتمالي ګټې اخیستنې په اړه اندېښنه څرګندوي. دا یو تفسیر دی او حدیث دا حالت نه دی یاد کړی. که څه هم موږ دا تفسیر ومنو، خو حنفي مذهب لرونکي د عرضې او تقاضا په خپلواکۍ باور نه لري چې په بازار کې له اسلامي پلوه د نه لاسوهنې یو اصل دی. بل لور ته حنبلي مذهبې په دې اند دي چې د بیو کنټرول پېرودونکو او پلورونکو دواړو ته په زیان دي. ابن قدامه د بیو د کنټرول دوه زیانونه یاد کړي دي: لومړی، د تور بازار جوړول.

دوهم، د پېرودونکو د غوښتنو نه پوره کول.

۱. بشیر، «په اسلامي اقتصاد کې د بیو کنټرول» ۳۲.

پر دې بنسټ د حنبلي مذهبو له پاره د بيو کنټرول د پېرودونکو او پلورونکو د هوساينې په زيان دی. دغه نظر له حنفي مذهب سره په ښکاره ډول په ټکر کې دی ځکه هغوی يوازې د پېرودونکو د هوساينې په نظر کې نيولو سره د بيو کنټرول روا بولي. د بېلابېلو فکرونو فقها په يوه نظر نه دي. د څوارلسمې پېړۍ حنفي مذهب لرونکی ابن تيميه د عامه هوساينې له پاره د بيو د کنټرول په اړه د پورتني حديث په رڼا کې دوه دليله کاروي: لومړی، هغه په دې نظر دی چې پورتنی حديث د مدينې د اوسېدونکو له پاره يوازې په همغه وخت کې و، ځکه چې خواړه له بل ځايه راوړل کېدل نو د بيو کنټرول کېدای شي د خوراکي توکو د کمښت سبب گرځېدلی وي، خو نومړي هېر کړي وو چې که د بيو د کنټرول پر ځای په پلورونکو هم عملي شي پايله به يې يو ډول وي.

يو بل حديث چې ابن تيميه د بيو د کنټرول په اړه نقل کړی دا دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم بيه په خپله ټاکلې ده: دا د دوو کسانو د شخړې کيسه ده چې له يوه کس نه بل کس (ځمکې د ښتن) په خاوره کې وه. دواړه نبي کريم (ص) ته راغلل، نبی کريم (ص) د ونې ښتن ته وفرمايل، ونه دې د ځمکې په خاوند وپلوره او بدله ترې واخله او يا يې همداسې ورکړه. خو هغه يو کار هم ونه کړ. نو نبي کريم (ص) د ځمکې خاوند ته اجازه ورکړه چې ونه وباسي او خاوند ته يې بدله ورکړي.[1]

ابن تيميه وايي نبي کريم (ص) په دواړو حالاتو کې بيه وټاکله او د دوه کسانو د شخړې د اوارې له پاره يې دواړو ته اجازه ورکړه چې ستونزه په يوې وړ بيې سره اواره کړي. هغه بيه ونه ټاکله خو دواړه خواوې يې خپلواکې پرېښودې چې بيه په خپله خوښه وټاکي.

۱. بشار، «په اسلامي اقتصاد کې د بيو کنټرول» ۳۲.

همدارنګه ابن تیمیه وایي، که بیې د یو شخص د غوښتني خلاف د عامه هوساینې له پاره کنټرول شي نو عامه هوساینه د یو شخص تر هوساینې ډېره غوره ده. خو د دوه کسانو د شخړې پر بنسټ د یوې عامې تګلارې ټاکل خپله د بحث وړ دي. ځکه د دوه کسانو په شخړه کې دا ډېره اسانه ده چې حق او ناحق دې وپېژندل شي خو که دا یو کس بې شمېره کسان وي نو په داسې حالاتو کې د دوی هوساینه په نظر کې نه نیول د مارکېټ توازن له منځه وړي. په پایله کې د یو کس یا حکومت له خوا د پلورونکي (وارد‌وونکي) د ارزښت او ګټې محاسبه یو غوره دلیل دی چې مارکېټ باید خپلواک او بیې یې کنټرول نه شي.

## ۳.۱.۲. خلیفه عمر او د بیو کنټرول

ورته مسله د عمر (رض) په زمانه کې وشوه، د یوه سوداګر له خوا په لوی لاس د بیو راښکته کېدو له امله د حکومت لاسوهنه وه چې هغه د خپلو رقیبانو د کمزوري کولو له پاره په بازار کې بیې راښکته کړې. پوښتنه دا ده چې ایا شریعت د بیې د کنټرول له پاره لوړه او ټیټه اندازه لري؟ په دې اړه کوم حدیث نشته خو فقهاوو په دې مسله کې د حضرت عمر (رض) د کړنې بېلابېل تفسیرونه را اخیستي، خو دا د قانوني کړنو ور هاخوا یوه تاریخي پېښه ښکاري.[۱]

امام مالک یوې واقعې ته په کتو د بیو د کنټرول له پاره د حکومت د لاسوهنې پلوی دی، هغه وایي چې عمر (رض) حاطب بالطا ولید چې وچ شوي انګور یې خرڅول، ورته وېې ویل، یا بیه لوړه کړه او یا هم له بازاره بهر شه.[۲]

۱. له عبدالعظیم اصلاحي څخه روایت دی چې د ابن تیمیه اقتصادي فکر، د اسلامي اقتصاد دوهم ټوک (Leicester, UK: Islamic Foundation, ۱۹۸۸), ۹۷, https://archive.org/detailsEconomicConceptsOfIbnTaymiyyah.

۲. بشار، «په اسلامی اقتصاد کې د بیو کنټرول»، ۳۱.

خو اما شافعي دې حالت ته په کتو وايي: له پورتنۍ خبرې وروسته عمر (رض) د حاطب کور ته ورغی او ورته ويې ويل، ما چې کومه خبره درته وکړه هغه کومه شاهدي يا هم تخصصي نه وه، بلکې د عامې هوساينې له پاره وه، نو تاسې خپل مالونه هر ځای په هره بيه پلورلی شئ.[1] خو شافعي زياتوي: له ځانګړو حالاتو پرته هېڅوک حق نه لري چې يو څه د مال په مالک په زور وپلوري.[2] دغه ځانګړي حالات به وروسته تشرېح شي خو په عادی حالت کې د بيو د کنټرول له پاره لاسوهنه جايز نه ده. عمر (رض) د نورو سوداګرو له پاره مداخله وکړه، خو وروسته يې خپله خبره بېرته واخيسته او زياته يې کړه چې د هغه خبره دې د شاهدۍ په شکل نه بلکې د يوې نظريې په توګه ومني.

## ۳.۱.۳. د بيو کنټرول او برابري

ابن تيميه په بېړنيو حالاتو، د بېلګې په توګه قحطۍ يا جګړه کې د حکومت له خوا د بيو د ټاکلو پلوی دی. هغه په بېړنيو حالاتو کې وايي: «کوم وخت چې خلک مرستې ته اړتيا لري، دا د حکومت دنده ده چې پلورونکی په وړ بيې پلورلو ته وهڅوي. د بېلګې په توګه کله چې هغه سره اضافي خوراکي توکي وي او خلک له لوږې سره مخ وي نو حکومت واک لري پلورونکي ته وړ بيه ووايي». د يادونې وړ ده کله چې پلورونکي احتکار کوي په داسې توګه چې توکي ورسره وي اما د بيو د لوړولو له پاره يې نه پلوري، نو حکومت د بيو د کنټرول له پاره د مداخلې حق لري؟[3] بازار کې د رضاکاره کړنو پر بنسټ راکړه ورکړه کېږي، بيې پېرودونکو او پلورونکو ته د پېر او پلور پر مهال د توکو ارزښت ټاکي، له بېړنيو حالاتو پرته د عامه هوساينې له پاره په بازار کې د بيو کنټرول نه دی تضمين شوی. په تعسير کې مسلمانانو ته د بيو د کنټرول پر مهال د عدالت خبرداری ورکړل شوی چې پلورنکي دې په نظر کې ونيسي.

۱. بشار، «په اسلامی اقتصاد کې د بيو کنټرول»، ۳۱.
۲. بشار، «په اسلامی اقتصاد کې د بيو کنټرول»، ۳۱.
۳. له عبدالعظيم اصلاحي څخه په روايت، د ابن تيميه اقتصادي فکر، د اسلامي اقتصاد دوهم ټوک.،۹۹.

## ۳.۱.۴. لیک او د قانون روح

لـه پورتنـي تحلیـل څرګندېږي، د شرعـې لـه مخـې د بیـو کنټـرول جایـز نـه دی، خـو د بیـو د انـدازې، کړې او منطق پـه اړه یـې د اسـلامي فقهـې تـر منځ بېلابېـل لیـد لـوري موجـود دي. لکـه څنګـه چـې د بیـو د کنټـرول پـه اړه پـه مقایسـوي توګـه بېلابېلـې نظریـې یـادې شـوې، خـو دا نظریېپـه عمومـي توګـه پـه دوو برخـو وېشـل شـوي دي: حنفـي، مالکـي او حنبلـي، شـافعي نظرونـه.

د حنفـي، مالکـي فکـر، تسـعیر شرعـي نـه ګڼـي امـا وایـي چـې عامـه هوسـاینه بایـد پـه نظر کـې ونیـول شي. دغـه فکـر د بیـو د کنټـرول لـه پـاره زیاتـوي لـه حکومـت، پلورونکـو او پېرودونکـو سره بایـد مشـوره وشي. بـل لـور تـه حنبلـي، شـافعي د پورتنـي حدیـث پـر بنسـټ تسـعیر نـاروا بـولي او د بیـو کنټـرول د شـخصي ملکیـت حرمـت ګڼـي. یـو مکتـب د بیـو کنټـرول د عامـه هوسـاینې لـه پـاره اړیـن ګڼـي خـو مقابـل کـې بـل مکتـب د بیـو کنټـرول د عامـه هوسـاینې د بې ثباتـۍ لامـل بـولي. د حدیثونـو پـه رڼـا کـې اسـلامي قانـون تـر هغـو چـې اړتیـا نـه وي، د حکومـت لـه لـرې مداخلـې سره د خپلواکـې سـوداګرۍ پلـوی دی. پـر دې کـې د پېرودونکـو او پلورونکـو خپلواکـي شـامله ده چـې پـه تاریخـي توګـه د اسـلامي اقتصـادي فلسـفې بنسـټ جـوړوي. د شریعـت پـر بنسـټ لـه ځینـو محدودیتونـو سره د خپلواکـۍ راتلـل بـاک نـه لـري. کـه مـوږ پـه طبیعـي ډول دا بحـث پـای تـه ورسـوو، یـوه عامـه پوښـتنه بـه دا وي چـې: کـه پورتـه پایلـه ومنـل شي ایـا اسـلام اقتصـادي خپلواکـۍ او کـه عامـه هوسـاینې تـه لومړیتـوب ورکـوي؟

د بښنې، احسان او سولې مفهومونه به څه وي؟

څنګـه یـو غیـر مداخلـه کوونکـی ډیزایـن شـوی رژیـم اقتصـادي خپلواکـي او خلکـو پـه ځانګـړي ډول بېوزلـو تـه خپـل مسـؤلیتونه سره ترتیـب کـوی شي؟

د پورتنيو پوښتنو ځواب دا دی: هغه عامه هوساينه چې د اسلامي اصولو اساسي لرليد جوړوي د بيو له کنټرول او د شتمنۍ له ويش څخه نه بلکې، له خپلواکۍ، شرکتونو او خيريه کارونو څخه لاس ته راځي. اسلامي لرليد په قانوني او اخلاقي ډول مصرف کوونکي له هر ډول غلا او دوه مخي توب ژغوري. د پورتني لرليد پر بنسټ که يو هېواد خپل وګړي له هر ډول غلا، دوکې او دوه مخي توب وژغوري دا په حقيقت کې عامه هوساينه ده. پر دې بنسټ استدلال کېدی شي چې شريعت اقتصادي خپلواکۍ ته بلنه ورکوي، خو ورسره تړلي د خپلواک او عادلانه رقابت او مصرف کوونکو د ساتنې سېستمونه يې ټولنيزې برابرۍ تضمينوي. په دې توګه اسلام خپلو پېروانو ته د اقتصادي راکړو ورکړو له پاره اخلاقي بنسټ کېښود.

## ۳.۲. خپلواکه سوداګري

عربو ته د جګړې او سولې پر مهال له اسلام څخه مخکې سوداګرۍ د پام وړ ارزښت درلود. دوی د نړيوالو سوداګريزو کاروانونو د ترسره کولو له پاره پېژندل کېدل چې د عربو قيمتي دانې به يې د وريښمو له لارې چين ته وړې او يا به يې هم له هنده غلې او دانې راوړې. په داسې يوه سوداګريزه ټولنه کې دا کومه د حيرانتيا خبره نه ده چې نبي کريم (ص) مدينې ته له هجرت وروسته لومړی مسجد او بيا بازار جوړ کړ. په ښار کې دا لومړی مارکېټ نه و بلکې تر دې د مخه څلور نور بازارونه هم وو. هغوی په دې بازار کې خپلواکه سوداګري اعلان کړه او د هر ډول غلا او غلطۍ د مخنيوي له پاره يې ساتونکي ورته وټاکه. که څه هم په دې بازار کې تعرفه نه وه خو اصول يې درلودل. له ماليې پرته بازار په پېژندنې سره محمد (ص) له نورو مخکې او اسلامي ټولنه يې د سوداګرۍ مرکز وګرځاوه. په دې سره محمد (ص) د اقتصادي بازار بنسټونه (برابري، انصاف او اخلاقي کړنې) کېښودل. کله چې محمد (ص) په مدينه کې د بازار اصول جوړ کړل، ټولې تعرفې يې له منځه يوړې، د هر ډول ماليو له منځه وړلو په مدينه کې ازاد بازار ته وده ورکړه او د مدينې د ټولو کاروانونو پاملرنه يې ځان ته را واړوله.

د دغسې غوره تګلارې په لړلو سره سره هم د منځنې ختيځ د مسلمانانو تر واک لاندې برخو کې په سوداګرۍ درنې مالیې کېښودل شوې، کوهيلر وايي چې دا مالیې ډېرې لوړې او کله کله د بيو د دوه چنده کېدو سبب ګرځېدې[1] د اسلامي اقتصاد انسايکلوپېډيا د هغو عواملو په اړه چې د قوانينو له مخې د بيو د لوړېدو لامل ګرځي يو څو ټکي را غونډ کړي، ډېری دغه ټکي په عربي ټولنې پورې اړه لري. د بېلګې په توګه په خرڅلاو ماليه (maks )[2] او د پېرودونکي او پلورونکي تر منځ دلالي (د دوی په رضايت يا نه رضايت).[3] دغه کړنې د محمد (ص) پر مهال د بيو د کنټرول له پاره محدودې يا ناروا بلل کېدې. محمد (ص) په ښکاره ويلي وو چې حکومت بايد د بيو د پورته تلو په اړه بيغوري ونه کړي، بلکې هغه فکتورونه په نښه او کنټرول کړي چې د بيو د لوړېدو لامل ګرځي.

## ۳.۳. د بازار مقررات

اسلامي روايتونه په دې اند دي چې د بازار اوسنۍ بيې د پلورونکو د لګښت او د پېرودونکو د ارزښت استازيتوب کوي، خو دا مالومات د طبيعي فکتورونو لکه، قحطۍ او د بازار د ګډون کوونکو د غير قانوني او اخلاقي کړنو په ترسره کولو سره د بدلېدو وړ دي. اسلامي فقهې په نړيواله سطحه د بيو د تحريف پنځه سرچينې په ګوته کړې دي:

- غبن (په لوی لاس ډېر يا کم ارزښته کول).
- غش (په دروغو سره د توکو د کيفيت لوړول).

---

۱. کوهيلر، لومړی اسلام او د کپيټليزم زېږون،۱۷۷.
۲. د maks مانا تر ماليي ور وړاندې ده؛ هغه حالت ته ويل کېږي چې په خلکو د شريعت تر ټاکلي محدودې ډېره ماليه وضع کېږي.
۳. محمد معين الدين خان او ايچ ام سيد، او نور.، سوداګري او راکړه ورکړه په اسلام کې، vol. ۲ of Encyclopaedia of Islamic Economy (New Delhi, India: Pentagon Press, ۲۰۰۹), s.v., "Factors of Price Hike (Conduction of Business)".

- نجش (د پېرودونکي او پلورونکي په مخ کې د درېیم ګړي په واسطه د بیو لوړول په داسې توګه چې د پېرودلو نیت یې نه وي).

- احتکار ( د مالونو ساتنه).

- موامه (مخکې له مخکې پېرل). د بازار د ګډوډېدو پورته ټکي محمد(ص) تر نښه کېدو وروسته منع کړي دي.

### ۱.۳.۳. له سر غړوونکو سره چلند: د امر دفتر

د اسلامي دولت په لومړیو کې د بازار د کنټرول او ساتنې له پاره محتسب ( امر) او یا هم حسابه (اداره) نیول شوې وه، ترڅو د ښارونو بازار وساتي او تر ټولو لومړی محتسب د اسلام دوهم خلیفه او د نبي کریم (ص) نږدې ملګری عمر بن خطاب (۲۳هجري/ ۶۴۴میلادي) و. له دې وروسته نبي کریم (ص) د بازار د لیدنې او وزن کتنې واک عمر ته ورکړ، خو د بیو د ټاکنې واک ورسره نه و. وروسته بیا پېژندل شوي عالم الماوردي (ډي. اې ایچ ۵۴۰/ اې ډي ۱۰۵۸) د متحسب واکونه تعریف کړل، د هغه د تعریف پر بنسټ محتسب هغه څوک و چې په ښو امر او په بدو نهي کوي. [۱] بازار کې د توکو کیفیت، تړونونه او د وزن اندازه کنټرولوي. [۲] همدارنګه د بیع الغرر (خیالي پلور)، نجش (درواغو پېر) د بیو نابرابري، انحصاري کړنې، انحصار، په لوی لاس د بیو راښکته کولو مخه نیسي. [۳] محتسب واک درلود، د خبرتیا تر څنګ د اړتیا په صورت کې سر غړوونکي تهدید، بندي او یا یې له بازار وباسي خو د تعسیر (بیو د کنټرول) په اړه ښکاره شواهد نه لیدل کېږي.

له دې ښکارې چې په ځانګړو حالاتو په بازار کې اسلامي دولت مداخله کوله:

۱. جبر - که د پېرودونکي او پلورونکي تر منځ په زور راکړه ورکړه کېږي.

۲. درغلي – په قصدي توګه د توکو د ځانګړتیاوو، نیمګړتیاوو او بازار بیې لهپېرودونکو ساتل.

۳. ملګرتیا – په مصنوعي توګه د بیو د پورته کولو له پاره د پلورونکو یو له بل سره همکاري.

٤. قحطي یا جګړه.

٥. د بیو بې حده زیاتوالی.

٦. که پلورونکي په مصنوعي ډول په داوطلبۍ کې همکاري وکړي.

۷. بیې لوړول.

۸. د خوراکي توکو ساتل.

## ۲.۳.۳. د سوداګرۍ محدودیتونه

محمد (ص) تر پیغمبرۍ وړاندې یو بریالی سوداګر و. د مکې ښار د ځان بساینې له پاره په سوداګرۍ تکیه و، له همدې امله بیې د سوداګرۍ بېلابېلو لارو چارو ته پراختیا ورکړه. په دې موده کې، په ځانګړي ډول چې کله نبي کریم (ص) د مدینې واک تر لاسه کړ، هغه د سوداګرۍ په تېره بیا د زراعتي محصولاتو په اړه بېلابېل اصول وړاندې کړل. ویل کېږي چې د نبي کریم (ص) په زمانه کې به ډېر خوراکي توکي د مدینې ښار ته راوړل کېدل، نو سیمه ییزو سوداګرو به توکي د ښار له پولو په تېټه بیه پېرل او کله به چې بیې لوړې شوې بیا به یې پلورل. نبي کریم (ص) دا کړنې منعه کړې: موږ به د کاروانونو مخې ته ورتلو او خوراکي توکې به مو ترې پېرل.

محمد (ص) مـوږ لـه دې کړنـو منعه کـړو او ويـې فرمايـل تـر هغـو يـې مـه پلـورئ چـې بـازار تـه نـه وي رسـېدلي. (صحيـح البخـاري، حديـث نمـبر ۲۱٦٦)[1]

د دې حديـث د پوهېـدو پـه اړه اړينـه ده، پـه مدينـه کـې د عامـه راکړې ورکـړې او يـوه ځانګـړي بـازار د جوړېـدو تاريخـي پـس منظـر واضـح شي. لـه هجـرت وروسـته نبـي کريـم (ص) پـه مدينـه کـې يـو بـازار جـوړ او ټـول سـوداګر يـې ازادې سـوداګرۍ تـه وهڅـول.[2] لـه دې بـازاره بهـر سـوداګري منعـه وه. موخـه يـې دا وه چـې د هغـو سـيمه ييـزو سـوداګرو مخـه ونيـسي چـې دوه ځلـه بـه يـې ګټـه کولـه.

لومـړی بـه دوی لـه ښـاره بهـر کاروانيانـو تـه د بـازار د بيـې پـه اړه ناسـم مالومـات وړانـدې کـول او توکـي بـه يـې پـه ارزانـه بيـه پېـرل او بيـا بـه يـې د ښـار پـه پلورونکـو پـه لـوړه بيـه پلـورل. دوی بـه لـه پلورونکـو او پېرودونکـو سـم مالومـات پټـول او د بـازار بيـې بـه يـې بدلولـې. همدارنګـه دا لـه هغـو سـوداګرو سره نابرابـري وه چـې د بـازار د بيـو پـه اړه بـه يـې ناسـم مالومـات لـرل. نـو نبـي کريـم (ص) د بيـو د کنټـرول لـه پـاره لـه ښـاره بهـر راکـړه ورکـړه منعـه کـړه، خـو د درېيـم ګـړي يـا دلال مداخلـه يـې منعـه نـه کـړه. پـه شريعـت کـې د سـوداګريزو محدوديتونـو تـر شـا بنسـټيزه انګېـزه د غلطـۍ او فريـب لـه منځـه وړل دي. غامـدي پـه خپـل کتـاب «ميـزان» کـې د يوويشـتو هغـو سـوداګرو نومونـه را اخيسـتي چـې د نبـي کريـم (ص) لـه خـوا منعـه شـوي وو:

۱. د يو څه شي د واک تر خپلولو مخکې د هغه پېرل.

۲. پـه پټـې کـې اخيسـتل شـوي توکـي بـازار تـه تـر راوړو مخکـې پلـورل.

۳. د ښاري اوسېدونکو له خوا کليوالو خلکو ته پېر او پلور.

۱. البخـاري، صحيـح البخـاري، د سـوداګرۍ او پلـور کتـاب. حديـث نمـبر. ۲۱٦٦، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/bukhari/۳٤.

۲. بنديـک کوهيلـر، «اقتصـاد پـوه محمـد بـن عبداللـه ۵۷۰-٦۳۲» Economic Affairs ۳۱, no. ۱ (۲۰۱۱): ۱۰۹–۱۱.

٤. يوازې د چل له پاره په ليلام کې د داوطلبۍ زياتوالی.

٥. په داسې وخت کې معامله کول کله چې په عين وخت کې بل څوک معامله کوي.

٦. په ډنډرونو کې د ولاړ حاصل پلورل.

٧. په ونه کې د خرما په بدل کې د تيارې خرما پلورل.

٨. مخکې له مخکې د مېوو پلورل.

٩. په نامعلوم شرط سره د يو څه پلورل.

١٠. داسې معامله چې په هغه کې يو سړی، پرته له فکر کولو، يوازې د بل کس ټوکر ته لاس وروړي او معامله ترسره کېږي.

١١. داسې معامله چې په هغه کې خلک په يو او بل بېلابېل شرطونه ږدي.

١٢. په داسې شرط د اوښ پلورل چې «دا پسرلی يې چې هرڅه وزېږول او د هغه بيا چې هرڅه پيدا شول هغه زما شول».

١٣. مېوې مخکې له هغې پلورل چې په ونو کې يې خوند او ځانګړنې ښکاره شي.

١٤. په داسې وخت کې د غلو او دانو پلورل چې خامې او د زيان اثر يې پاتې وي.

١٥. د ضررناکو څيزونو پلورل اما که پېرودونکی پرې خبر وي بيا ستونزه نشته.

١٦. د اوښانو او وزو په غولانځو کې د شېدو پلورل.

١٧. بازار ته له رسېدو وړاندې له پلورونکو د توکو پېرل.

١٨. په داسې حالاتو کې معامله کول چې پيسې مخکې ورکړي او توکي وروسته ترلاسه کړي، خو که يې وزن، وخت او اندازه مالومه وي ستونزه نشته.

۱۹. د ځمکې له مالک سره په داسې توګه شراکت چې د هغه ګټه پکې له وړاندې مالومه وي.

۲۰. د ځمکې له مالک سره په داسې توګه شراکت چې د ځمکې د يوې برخې حاصلات له وړاندې د مالک وي.

۲۱. شريک ملکيت په داسې توګه پلورل چې شريک ته د پېر واک ور نه کړل شي، اما په هغه شرط چې شريکان سره جدا کېدل غواړي.[1]

له دې ښکاري چې پورتني اصول په دوو برخو راڅرخېږي: سوداګري او زراعت يوازې او يوازې په برابرۍ، عدالت او صداقت خبرې نه کوي، بلکې د اسلامي مالي نظام بنسټيز اصلونه وړاندې کوي. موږ کولای شو د پورتنيو مادو پر بنسټ د مقرراتو يو لوی چوکاټ جوړ کړو. د يادونې وړ ده چې په پورتنيو مادو اصلي موخه حل لاره نه بلکې «منعه» ده، نو پر دې بنسټ دا يو منفي امر دی. دا امر دی چې څه بايد وشي او څه ونه شي.

دا بنديزونه په هغو سوداګريزو معاملو کې چې لاندې نيمګړتياوې يې درلودې وضعه شوي وو: له تنظيم شوي بازار څخه بهر پايلې ته رسېدل، د پلورونکو او پيرودونکو تر منځ د مالوماتو له تشې ګټه اخيستل شوې او يا هم په چل او فريب پلورل شوي. اسلامي قانون د راکړو ورکړو د باطلېدو وړاندوېينه هم کوي، په کومو راکړو ورکړو او يا هم قراردادونو کې چې ثابته شي، د يوه اړخ حق خوړل شوی او يا هم په ناوړه توګه يوه اړخ ته حق ورکړل شوی. غامدي په دې اړه وايي: د پلور، پېر او محصولاتو د شريکولو بېلابېل ډولونه شته چې نبي کريم (ص) پر خپل وخت کې بند کړي وو دا چې پورته ټولې لارښوونې د چل، فريب او تاوان پر بنسټ وي.

[1] غامدي، اسلام، ۴۷۱-۷۲

نو د منع کولو دا لارښوونې په هغه حالت کې چې بنسټونه یې نه وي د پلي کېدو وړ نه دي، خو که د تمدنونو د پرمختګ او تکامل په پایله کې په ځینو اقتصادي کړنو کې دا بنسټونه بېرته را برسېره شي، نو دغه کړنې به هم جایزې نه وي.[1]

هر یو عالم به له دې سره موافق نه وي چې د حالاتو په بدلېدو لارښوونې هم بدلېږي. لکه څنګه چې موږ د بیو په کنټرول کې د نبي کریم (ص) د لارښوونې په پر ځای کولو کې د بېلابېلو فقهاوو ترمنځ توپیرونه ولیدل، ان ځینو علماوو بلکل د هغه د لارښوونې مخالف نظر ورکړ او ویې ویل چې د بیو کنټرول د عمومي هوساینې له پاره ګټور دی. د دې منعه کړل شوو لارښوونو پر بنسټ، معاصر اسلامي علماء په ټوله کې په دې نظر دي چې دغه راکړه ورکړه چې غرر (فریب یا فریب کوونکي ناڅرګندتیا) پکې وي حرامه ده. ښکاره ده چې په ټولو سوداګریزو کړنو کې په طبیعي ډول غرر یا نامعلومتوب وي، نو پورته منعه کړل شوې لارښوونې په اصولي توګه په ناڅرګندتیا د پلي کېدو وړ نه دي. اصلي موخه اوس هم «فریب» دی «ناڅرګندتیا» نه ده.

له همدې کبله اسلامي مالي چارو د یو ډول توکو لنډ مهال پلور (Short Selling) روا بللی، هغه کړنه چې بزرګان یې کوي. منعه په هغو پلور راغلي چې پلورونکی یې په راتلونکي ټاکلي وخت کې د انتقال وړتیا نه لري. دغه لارښوونې د سوداګریزو کړنو د پایلو ناڅرګندتیا له منځه نه وړي، یو څوک کولای شي تاوان وکړي، خو دا لړۍ ډېره پاکه، مناسبه او عملي کوي.[2]

---

۱. غامدي، اسلام، ۴۷۲.
۲. غامدي، اسلام، ۴۷۲.

### ۳.۳ .۳. احتکار: له بريالي موقعيت څخه ناوړه ګټه

اسلام لـه هغـو سـوداګرو سره چـې احتـکار (ذخيـره) کـوي سـخت چلنـد کـوي. پـه دې اړه حديـث وايـي: هېڅـوک مـال نـه سـاتي تـر هغـې چـې بيـه يـې لـوړه شي خـو يـو ګناهـکار. (سـنن ابي داود، حديـث نمـبر ۳۴۴۷)[۱]

پــه يــوه بــل حديــث شريــف کــې راځــي، احتــکار دوه ځانګړنــې لـري: زياتـره پـه خوراکـي توکـو کـې تـرسره کېـږي او پلورونکـي هڅـه کـوي خوراکـي توکـي د بيـو لـوړالي تـه وسـاتي. د يادونـې وړ ده چـې د اوږد مهـال لـه پـاره پـه مناسـبه انـدازه خوراکـي توکـي پـه احتـکار کـې نـه شـامليږي. لکـه څنګـه چـې د اسـلامي اقتصـاد انسـاکلوپېډيا ورتـه اشـاره کـړې: «د توکـو ټـول سـاتونکي ګنهـګار نـه دي، هغـه چـې د ډېـر وخـت لـه پـاره توکـي سـاتي او د کمښـت پـه وخـت کـې يـې پلـوري.» [۲]

لانـدې روايـت د مسـلمانانو خليفـه حـضرت عمـر (رض) تـه منسـوب دی: زمـوږ پـه بـازار کـې هېـڅ احتـکار نشـته، هغـه نارينـه چـې پـه لاسـونو کـې يـې ډېـره طـلا وي، د اللـه تعالـی دغـه کـم پيـدا راکـړه بايـد نـوره ونـه پېـري او احتـکار يـې نـه کـړي. هغـه چـې د اوړي پـه ګرمـۍ او د ژمـې پـه يخنـۍ کـې توکـي راوړي هغـه د عمـر مېلمـه دی. پرېـږدئ هغـه څـه چـې د خـدای رضـا پکـې وي وپلـوري او هغـه څـه چـې د خـدا رضـا پکـې وي ويـې سـاتي.[۳]

پورتنـی روايـت دوه پيغامـه لـري: عمـر (رض) د احتـکار لـه پـاره پـه طـلا کـې د بـازار خپلواکـي منعـه کـړې، خـو پـه واردو شـوو توکـو کـې يـې احتـکار نـه دی منعـه کـړی. د طـلا د احتـکار د منعـه کولـو دليـل پـه هغـه وخـت کـې د کرنسـي پـه توګـه لـه طـلا او ورتـه قېمتـي سـکو څخـه ګټـه اخيسـتل وو.

۱. ابـو داود، سـنن ابـوداود، د سـوداګريزو انتقالاتـو فصـل، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah. ۲٤/com/abudawud.

۲. خـان او سـيد، د اسـلامي اقتصـاد انسـاکلوپېډيا، Economy, ۲:۷۹, s.v., "Hoard-ing Not Allowed (Traits of Business))."

۳. خـان او سـيد، د اسـلامي اقتصـاد انسـاکلوپېډيا، ۲:۸۰., s.v., "Hoarding Not Allowed (Traits of Business)."

لکه څنګه چې انګېرل کېږي سوداګر به مخکې له مخکې د احتکار له لارې له قانون څخه سرغړونه وکړي، نو له دې امله به دوی د تعسیر (بیو کنټرول) څخه معاف نه وي. په ټوله کې فقه د واردو شوو توکو د لېږوالي په اړه څه نه وایي، خو په منطقي ډول، واردوونکي د زیات مقدار توکو په واردولو سره کولای شي، بیه څان ته راټیټه کړي. وارد شوي توکي په بازار کې د تقاضا پر بنسټ پلورل کېږي نو پر دې بنسټ شاید توکي له واردوونکي سره د ډېر وخت له پاره پاتې شي، پر دې بنسټ هر واردوونکی شی احتکار نه دی.

د احتکار پر وړاندې د ځانګړو کړنو په اړه بېلابېل نظرونه شته. یو نظر دا دی، حکومت باید احتکار کوونکي ته ووایي چې خپل توکي وپلوري. خو حکومت بیه نشي ورته ټاکلی. پر دې بنسټ تسعیر منعه شوې شوی؛ حکومت کولای شي احتکار کوونکي ته ووایي چې خپل توکي د مارکېټ په بیه وپلوري. نورې نظریې وایي، د احتکار کوونکي مال دې ضبط او احتکار کوونکی دې بندي شي.

ډېری پر دې باور دي چې یو قوي حکومت باید د بازار ګډون کوونکو ته اجازه ورنه کړي، له مصرف کوونکو ګټه واخلي. احتکار یا په غیر نورماله توګه د بیو لوړېدل باید د بازار ناکامي ونه ګڼل شي. لکه څنګه چې ابن قدامه وایي، که حکومت بیه ورته وټاکي، د بیو کنټرول خپله د احتکار او د بیو د لوړېدو لامل ګرځي. په داسې حال کې چې د سوداګر له لګښتونو او بیې څخه ټیټ وي نو سوداګر به خپل توکي وساتي، پر دې بنسټ به احتکار د توکو عرضه کمه او په پایله کې به بیې لوړې شي.

### ۳.۳.۴. په بيو کې د مداخلې لارې چارې

په اصولي توګه شريعت د هر ډول بيو د کنټرول خلاف دی. ايا دا په دې مانا ده چې شريعت سوداګرو ته خپلواکي ورکړې او په بازار کې د مداخلې هيڅ حق نه لري؟ واضح ځواب نه دی. د شريعت د اصولو له مخې دولت په ځانګړو حالاتو په بازار کې د مداخلې حق لري؛ ځينې له دې حالاتو په درواغو سره د عرضه کوونکو د ملګرتيا او يا هم غلا څخه عبارت دي. يا په بل عبارت په ځانګړو حالاتو لکه د جګړې، قحطۍ او طبيعي افتونو پر مهال دولت په بازار کې مداخله کوی شي.

کېدای شي اسلامي دولت د احتکار پر مهال په بازار کې لاسوهنه ونه شي کړی، ځکه احتکار او پايلې يې نورو څېړنو ته اړتيا لري. نو تر هرڅه وړاندې د احتکار د رامنځ ته کېدو لاملونه (انحصار او د عرضه کوونکو ملګرتيا) معلوم کړي، او د احتکار کوونکو توکي دې د بازار په بيه وپلورل شي او د امکان په صورت کې که دې چارې هم ستونزه نه اواروله نو احتکار کوونکي دې بنديان شي. د انحصار په صورت کې د پورتنۍ تګلارې د پلي کولو په اړه ويلای شم چې اسلامي اقتصادي چوکاټ به انحصار د عامه ګټو له زاويې و ارزوي. په اوسني وخت کې عامه ګټه مصرف کوونکو ته رسېدلی زيان دی، يا په بل عبارت انحصار يعنې له واکه ناوړه ګټه اخيستل. که په انحصاري حالت کې له مصرف کوونکو ناوړه ګټه اخيستل شوې وي نو قانوني کړنې به ترسره شي. د بيو مداخله شافعي عالم الماوردي (ومړ. ۴۵۰هـ ق / ۱۰۵۸م) داسې بيان کړې: امام دې د بيو د ټاکلو له پاره ټولې خواوې غونډې ته د مالوماتو د اخيستو له پاره را وبولي، د بېلګې په توګه، سوداګر، پېرودونکي او متخصصين. د مالوماتو تر اخيستو دې وروسته بازار ته په کتو د دوی نظرونه وڅېړي. د ټولو خواوو په خوښه دې داسې بيه وټاکي چې پلورونکي او ټولنې ته د منلو وړ وي.[۱]

۱. بشار، په اسلامي اقتصاد کې د بيو کنټرول، التسعير فی اقتصاد اسلامي،» ۳۴.

که څه هم المواردي په بازار کې د حکومت د مداخلې یادونه کوي اما هغه د بیو د ټاکل کېدو په اړه له احتیاط کار اخلي. همدارنگه د یادونې وړه ده چې پورته میکانېزم دې هغه وخت پلې شي چې دولت یې وړتیا ووینې. ځکه د بیو د کنټرول په اړه اسلامي قوانین ځانگړي محدودیتونه لري.

همدارنگه د عرضه کوونکو د یو ځای والي، درواغو او دوکې په صورت کې حکومت د مداخلې حق لري چې له قانون څخه سرغړونکي ونیسي او قانوني اجراات پرې پلي کړي. په ټوله کې ویلای شو چې اسلامي حکومت په ځانگړو حالاتو په بازار کې د مداخلې حق لري، په داسې ډول که سرغړونکی موجود هم وي باید د محکمې د حکم پر بنسټ قانوني چلند ورسره وشي. د حکومت له خوا د بیو دا ډول کنټرول لنډمهاله وي، تر هغه چې د بازار حالت عادي کېږي. کله چې نبي کرم (ص) د حساب (د بازار کنټرولوونکي) انسټیټیوټ بنسټ کېښود، هغه قانوني لارښوونې دې انسټیټیوټ ته وسپارې. یو څوک کولای شي د دې تطبیق په اړه په اسانۍ سره وپوښتي چې ایا د سوداگریزو اړخونو تر څنگ دوی د تولید کوونکو او مصرفوونکو تر منځ برابري راوسته. پر دې باید ټینگار وشي چې له دومره جامع قانوني چوکاټ سره بیا هم نبي کریم (ص) د بیو د کنټرول کوم اصول وړاندې نه کړل. محمد (ص) د بیو کنټرول نامناسب باله، هغه په خپله زمانه کې د سوداگرۍ له پاره پولې او محدودیتونه وضعه کړل چې د بې عدالتۍ مخه ونیسي. د ښکاره قوانینو په رڼا کې د ازاد بازار له پاره غوره ماډل کېدای شي.

## ۳.۴. سره زر، پولي واحد او مرکزي بانکداري

له اسلام نه مخکې په عربو کې، د بیزانسي[۱] سرو زرو دینار، د فارس سپینو زرو درهم او د مسو فلوس ( fulus) د سکې په توگه کارول کېدل. پرته له فلوسو، د دینارو او درهمو ارزښت به هم په دې سکو کې د کارول شوو توکو پر بنسټ ټاکل کېده.

۱. Byzantine

سکې به د حکومت له لوري نه وېشل کېدې او جوړېدل يې د شخصي کسانو له خوا ترسره کېدل. د وزن او کيفيت په اړه پوښتنې او اقتصادي موثريت يې تر پوښتنې لاندې راووست خو بيا به يې هم د پېرودونکو تر منځ سيالۍ جوړې کړې وې. د اسلامي خلافت په لومړيو کې مسلمانانو بيزانسي سکې کارولې خو د وخت په تېرېدو سره يې بندې او د خلکو د استفادې له پاره يې دينار او درهم مروج کړل. د اسلامي خلافت له لويوالي سره د دينارو راکړه ورکړه هم ډېره شوه. پر هغه مهال د سرو زرو ډېرى توليدي خونې مرکزي وې ترڅو له سکو سره د نورو مواد په ګډولو د هغو کيفيت تر پوښتنې لاندې رانه شي. د اروپا له پراختيا سره سم په نولسمه پېړۍ کې کاغذي پيسې جوړې شوې.

مشهور اسلامي عالم او اروپوه ابو حميد محمد ابن محمد غزالي (ومړ، ۵۰۵ هـ ق / ۱۱۱۱م) چې په امام غزالي مشهور دی د پيسو د بې ارزښته کولو موضع يې څېړلې ده. د هغه په زمانه کې به سکې تراشل کېدې او يا به يې له شاوخوا سره او سپين زر کمېدل. د غزالي له پاره د زرو سکو تر غلا د يوې سکې کمېدل ډېر خواشينوونکي وو، خو بل لور ته د حکومت له خوا د ګډو فلزاتو د سکو توليد قانوني بلل کېده.

مارک توماس د مصري تاريخپوه المقريزي (ومړ، ۸۴۵ هـ ق / ۱۴۴۲) د کتاب «د ژور خپګان د څېړنې په واسطه له حکومت سره مرسته» ژباړه او لرليد په يوه مقاله کې خپور کړى او د استراليايي امريکايي اقتصاد پوه جوسيف سکمپټر فرضيه «لوى واټن» يې تر پوښتنې لاندې راوستی.[۱] د توماس د لرليد يوه برخه: محمد بن علي د الظاهر برکوک د سلطنت پر مهال د هغه د مالي برخې مسؤل وټاکل شو.

۱. عبدالعظيم اصلاحي، «د پيسو او سود په اړه د غزالي د فکر تحليلي مطالعه» ۱, accessed November ۲۰,۲۰۱۹,https://mpra.ub.uni-muenchen.de/٤١٤٣٨/.

د ګټې او او ډېرې شتمنۍ په اړه د هغه لرلید د ډېرو فلوسو د راټولولو سبب وګرځېد. له اروپا به يې سره مس واردول او په قاهره کې به يې پيسې ترې جوړولې. همدارنګه يې دغه لړۍ اسکندريې ته هم وغزوله، په دې سره د فلوسو استعمال خورا زيات او په ټول هېواد کې عام وګرځېد.[۱]

د المقروزي د نظر په تائيد، ابن تيميه د ګريشمن د قانون پر بنسټ ښودلې وه چې د بېلابېلو سکو د جوړېدو په صورت کې به بدې پيسې ښې پيسې له منځه يوسي.[۲]

ابن تيميه د پيسو د استعمال دوه اساسي موخې په ګوته کړې، يوه يې د ارزښت ذخيره او بله يې راکړه او ورکړه ده.[۳]

هغه د اقتصادي ښېګڼې له پاره د ډېرو پيسو جوړولو او ارزښت کمولو خلاف و. د هغه دا نظر کلونه وروسته د استراليا د اقتصاد ښوونځي تائيد کړ او زياته يې کړه چې پولي واحدونه دې سره زر او پوشتوانه دې سل فيصده وتاکل شي.[٤] د يوې ترسره شوې سروې له مخې ۵۷ سلنه معاصر اسلامي علماء د حکومت په واسطه چاپ شوې کاغذې پيسې د پولي واحد په توګه مني چې پکې ۱۱.۵ سلنه مخالف او پاتې نورو يې نظر نه درلود.

د دې سروې د پايلې له مخې سايمن جعفر، ادم عبدالله او احمد کامل ليکي: «زمونږ ډېرى علماو د پيسو د جوړښت په اړه ناخبره او په دې نه پوهېږي چې د مرکزي بانک اهميت په ځانګړې توګه د اسلامي او غير اسلامي بانکدارۍ په اړه څه دى».[۵]

---

۱. مارک توماس،« د المقرضي کتاب، د ژور خفګان په واسطه له حکومت سره مرسته» د اقتصادي ټولنې تاريخ له کنفراس څخه د جوزيف مقاله. Laurence S. Moss, Perspectives on the History of Economic Thought (London: Routledge, ۱۹۹٦), ۱۱۰–۵٤, https://doi.org/۱۰,٤۳۲٤/۹۷۸۰۲۰۳٤۳۵۹۷۷.

۲. همدرانګه،۳۴.

۳. همدارنګه،۵٦.

٤. سايمن جعفر، ادم عبدالله او احمدکامل ميدان ميرا، « پولي پيسي: د معاصره علماو له لرليد څخه،» Humanomics ۳۳, no. ۳ (August ۱٤, ۲۰۱۷): ۲۷٤–۹٦, https://doi.org/۱۰,۱۱۰۸/H-۰۱-۲۰۱۷-۰۰۱۳.

مالیزیایي اسلم حنیف او عماد رفیق د پېژندل شوي عالم مفتي تقي عثماني د نظر پر بنسټ لیکي چې کاغذي پیسې قانوني دي.[۱] هغه وايي په اوس مهال کې يې په طلا یا مسو بدلول کومه مانا نه لري. همدارنګه تقي عثماني په دې نظر دی چې کاغذي پیسې له فلوسو سره ورته دي او سوداګري يې روا ده. خو بل لور ته ځینې علماء کاغذي پیسو ته د شک په سترګه ګوري. یوسف لیکي: «له پشتوانې پرته د هر ډول پولي واحدونو چاپ د عامو وګړو له باور څخه ناوړه ګټه اخیستنه ده».[۲] نور بیا پر دې باور دي، پرته له دې چې هر دولت ځان ته پولي واحدونه ولري؛ د طلا د پشتوانې په توګه د یوه نړیوال پولي واحد له پاره د طلا جوړېدل اړین دي.

محمد اسلم حنیف او عماد رفیق برکت دوه پېژندل شوي څېړونکي د کاغذي پیسو په اړه د اسلامي علماوو د نظریو په نچوړ کې دوه بېلابېل نظرونه وړاندې کوي.[۳] دوی د نبي کریم (ص) په زمانه کې له طلا او سپینو زرو د راکړې ورکړې د یادونې تر څنګ وايي، د کاغذي پیسو د نه استعمال په اړه ځانګړې دلایل شته دي. د کاغذي پیسو په اړه لیکي، له طلا او سپینو زرو څخه په عملي ډول د پولي واحد په توګه ګټه اخیستل ستونزمن دي.[٤] دوی زیاتوي په معاصر وخت کې تقریبا د نړۍ ټولو مسلمانانو د پیسو په توګه کاغذي پولي واحدونه منلي.[٥] د بېلابېلو ارزښت لرونکو سکو جوړول او د مرکزي بانک له خوا د بېلابېلو بانکنوټونو چاپول یو ډول دي.[٦]

۱. حنیف او برکت،« یا پیسي باید یواځې سروزور او مسو ته محدودې شي؟»
۲. یوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت، ۵۱.
۳. حنیف او برکت،« یا پیسي باید یواځې سروزور او مسو ته محدودې شي؟»
٤. حنیف او برکت،« یا پیسي باید یوازې سرو زور او مسو ته محدودې شي؟»
۵. د حافظ رب د خبرې پر بنسټ. په اسلام کې اقتصادي عدالت: له ربا خلاصون او پولي برابري. (Kuala Lumpur, Malaysia: Noordeen,
۲۰۰٦), ۱۸۰.
٦. رب، په اسلام کې اقتصادي ازادي، ۱۸۰.

د دوو اساسي اسلامي قوانينو په رڼا کې کاغذي پيسې په دوه بېلابېلو دلايلو د ناکامېدو وړ دي: د وزن (ميزان) او مقدار برابرښت، ځکه چې د کاغذي پيسو ارزښت د وخت په تېرېدو بدلېږي. امام غزالي ليکي: «يوازې ظالمان دي چې د کيفيت له اړخه بېلابېلې سکې جوړوي.»

هغه همدارنګه زياتوي: «د جعلي پيسو بازار ته را ويستل نابرابري او د خلکو له خوا يې قبلول حرام دي». د پيسو د پړسوب په چاپېريال کې چې کله مرکزي بانک نورې پيسې چاپ کړي، نو د پيسو پړسوب نور هم ورسره زياتېږي او د خلکو د اخيستلو قدرت را محدودوي، دې حالت ته امام غزالي ظلم ويلی دی. معاصر عالم حافظ الرب د ورته نظر په لرلو سره د کاغذي پيسو په اړه کاږي: «د پيسو ثبات د عدالت يو له اصلي برخو څخه دی چې خلکو ته واک ورکوي د راکړې ورکړې له پاره غوره معيار وټاکي». د لا روښانتيا له پاره اړينه ده ووايو، ډېری چاپ شوې پيسې د مرکزي بانک له لوري نه بلکې د سوداګريزو بانکونو له خوا د پور په بڼه ورکول کېږي. پر دې بنسټ هغه څوک چې اضافي شتمني لري قرض ته يې لاسرسی اسانه دی. د هغه چا په نسبت چې شتمني نه لري. له دې سره ويلای شو چې فياټ (کاغذي) پيسې نابرابري رامنځ ته کوي. په يوه واقعي اسلامي اقتصادي سېستم کې به د بانک واک ډېر محدود وي. د اوسنيو بانکونو په څېر به چې د لږې پشتوانې په درلودو سره پيسې چاپوي پيسې نه شي چاپوی. بلکې لکه څنګه چې د «اسلامي اقتصاد» پوهان ميراخور عسکري، ضمير اقبال او عباس ميراخور ويلي: «مالي انسټيټونونه به د درېيم ګړي په څېر د سپما کوونکي او پانګوال تر منځ فعاليت کوي په داسې توګه چې هېڅ ډول قرضه، ليوريج او له مخکې ټاکل شوی سود به پکې نه وي.[1]

1. همدارنګه،۵۵.

دوی دغه پروپوزل د شيکاګو له پلان سره پرتله کوي چې په ۱۹۹۱ م کال د شيکاګو پوهنتون د پروفيسرانو له خوا جوړ شو. په معاصره نړۍ کې دا ډول نظريې کمې خو د پام وړ ملاتړي لري. يو له دې څخه په اسلام مشرف شوی هسپانوي عالم شيخ عمر واديلو دی چې اوس پاکستان کې مېشت دی. په ۱۹۹۱ م کال واديلو د کاغذي پيسو په اړه فتوا ورکړه او زياته يې کړه چې کاغذي پيسې د سود زېږنده دي او زکات ورکول پرې جايز نه دي.يو کال وروسته په هسپانيه کې د واديلو ټولنې د اسلام د دوهم خليفه عمر بن خطاب ستندرډ سره سم د سرو زرو د سکو په جوړولو پيل وکړ. له عثماني خلافت را وروسته دا لومړی ځل و چې د سرو زور سکې جوړې شي. هم هاله، واديلو د سکو د جوړولو نړيوال اسلامي مرکز، د سوداګرۍ نړيوال اسلامي سازمان او د سرو زرو پرليکه پرداخت «اليکترونيک دنيار» بنسټ کېښود او په دې سره يې حلالې پيسې او سوداګري دود کړه.[1] د دوی هڅه کېدای شي خيالي وي، خو د کاغذي پيسو په اړه يو اسلامي لرليد وړاندې کوي. دا لرليد او ستونزې کلاسيکو اسلامي فقهاوو ته ور ګرځي چې د پولي واحدونو د ارزښت د کمولو په اړه په اندېښنه کې و. په تاريخي توګه د پولي واحد د ارزښت کموالي دوی ته اقتصادي زيانونه رسولي وو او دوی حکومت پړ ګانه. معاصر اقتصادي لرليد هم په همدې نظر دی. نړۍ د سرو زرو سېستم په له منځه وړلو پولي واحدونه بې ارزښته کړل، خو اوس هم په کوچنيو اقتصادونو کې د سرو زرو په پشتوانې سره پولي سېستم رامنځ ته کېدای شي. د سرو زرو پشتوانې په درلودو سره د کاغذي پيسو د شتون په اړه اسلامي لرليد ښکاره کول ستونزمن دي، خو يو څيز چې ښکاره دي هغه دا چې باثباته پولي واحدونه ځانګړې ارزښت لري. دا ښکاره ده چې د مرکزي بانک يا دولتونو پشتوانه د هغوی په سياسي کړنو پورې اړه لري چې کېدای شي د پولي واحدونو ارزښت کم او د شتمنۍ د له منځه تلو سبب وګرځي.

۱. همدارنګه،۳۱.

نن ډالر ښه ارزښت لري سبا کېدای شي یوان باارزښته وي. یو باثباته دولت د پولي واحد بیه باثباته کوي، خو په حکومت کې سیاسي بدلونونه بې ثباتي راوړي. پر همدې بنسټ، د پولي واحد د ارزښت ټاکلو له پاره یو بیروني معیار چې کېدای شي سره زر یا هم بل څه وي اړین او د غوره اقتصادي تګلارې په مانا دی. د واقعي اقتصادي وضعیت د ارزولو پر مهال دغه ارزول باید ځینې فکتورونه د بېلګې په توګه د تولید مقدار او حالت په نظر کې ونیسي.

## ۳.۵. سود او د هغه اسلامي بدیل

د اړوندو پوهانو له نظره یوه تر ټولو ډېره د پاملرنې وړ موضوع په «اسلامي اقتصاد» کې په پور د سود اخیستل دي چې دا کار اسلام منعه کړی او په دې اړه قرانکریم فرمایي: الَّذِينَ يَأْكُلُونَ الرِّبَا لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ الَّذِي يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطَانُ مِنَ الْمَسِّ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوا إِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبَا ۗ وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا ۚ فَمَن جَاءَهُ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِ فَانتَهَىٰ فَلَهُ مَا سَلَفَ وَأَمْرُهُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ. (۲:۲۷۵)

ژباړه: سود خوړونکی به له قبر څخه په قیامت کې داسې را پورته کېږي، لکه لیونی او هغه څوک چې حواس یې خراب شوي وي او دا حالت به د دې له امله وي چې ده حلال او حرام سره ګډول او دا یې ځکه کول چې په دغو دواړو کې یې ګټه مقصوده وه او دواړه یې حلال ګڼل، حال دا چې د «بیعې» او «رباه» په منځ کې ډېر فرق شته، «بیع» د الله تعالی له خوا حلاله او «رباه» حرامه ده. ټول علماء په دې نظر دي چې په پور د سود اخیستل په داسې توګه چې پور ورکړل شوې پیسې به بېرته پوره تر لاسه کوي حرام بلل کېږي.

خو د ربا د ځانګړي تعریف په اړه واحد نظر نشته او په اوسني مالي سیستم کې د ربا عملي کول لا تر اوسه واضح نه دي. ځینې معاصر علماء ربا یوازې تر بانکي سوده ځانګړې کوي، خو له دې نظر سره نور همغږي نه لري. دغه برخه د ربا په اړه د پېژندل شوو علماوو او اقتصاد پوهانو؛ عباس میراخور، جاوید احمد غامدي، محمد اکرم خان، عمران احسن خان نیازي او فضل الرحمن نظرونو ته ځانګړې شوې ده. د «اسلامي اقتصاد» معاصر پوهان عسکري، اقبال، او میراخور رباه ته د «ټاکلي مقدار» په توګه ګوري چې باید د پور اخیستونکي له خوا پور ورکوونکي ته له اصلي مقدار سره سم تادیه شي.[1]

دوی د ربا د تعریف له پاره څلور ځانګړتیاوې په ګوته کړې دي:

۱. مخکې له مخکې مثبته او ټاکل شوې ده.

۲. په یوه ځانګړي وخت او د پور په مقدار پورې تړلې ده.

۳. پرته له دې چې پور اخیستونکي پیسې د کومې موخې له پاره اخیستې دي د ربا د ټاکل ش و پیسو ورکړه حتمي ده.

٤. محدودیتونه یې حکومت ټاکلي او ترلاسه کول یې د قانون له مخې ترسره کېږي.[2]

زما په فکر څلورمه ځانګړتیا ضروري نه ده ځکه چې رباه اخیستنه د دوه کسانو د قرارداد په پایله کې ترسره کېږي او د حکومت مداخله پکې اړینه نه وي. جاوید احمد غامدي په خپل کتاب میزان کې ربا داسې تعریفوي: «ربا د پور ورکوونکي له خوا له پور اخیستونکي یوه ټاکلې اندازه ده».[3]

۱. عسکري، اقبال، او میراخور، د اسلامي اقتصاد پېژندنه، ۸۱.
۲. عسکري، اقبال، او میراخور، د اسلامي اقتصاد پېژندنه، ۸۱-۸۲.
۳. غامدي، اسلام، ۴۷۴.

د علماوو له خوا د ربا د حرام والي بنسټیز او عقلي دلیل دا دی چې د پېر او پلور لومړی موخه د خطر شریکول دي، خو د پیسو د پور ورکولو په صورت کې د ټاکلي اضافي مقدار اخیستل د خطر د شریکولو اصل له منځه وړي او ټول خطر د پور اخیستونکي په غاړه کېږي.[1] که څه هم په قانوني توګه اسلام د سوداګرۍ او مصرف له پاره د پور اخیستل نه منعه کوي. الله تعالی د بقرې سورت په ۲۸۲ ایت کې د پور اخیستو په اړه وایي، د شاهدانو په شتون کې په لیکلې بڼه پور اخیستل مناسبه لار ده. همدارنګه په ۲۸۳ ایت کې په ژبې سره د پور اخیستلو په اړه یادوي چې په بدل کې دې ثبوت ورکړل شي په داسې توګه چې پور به په سود او د بېرته ورکولو ټاکلې موده نه لري.

معاصر لبناني عالم ایمن ردا د سوداګرۍ او سود په اړه کاږي چې سوداګري یعنې څیزونه په پیسو یا بل شي بدلول دي، اما سود د یوه شي په عین اضافه بل شي بدلول دي.[2] پېژندل شوي پاکستاني فقهي عالم عمران احسان خان نیازي په خپله مقاله د منعه کړل شوې رباه په وضاحت کې کاږي په اصولي توګه په اسلامي قانون کې چې حسنه پور نه وي باطل دی.[3] د هغه په اند یوازې نقدي پیسې په سود ورکول منعه نه دي، بلکې په بانک کې د ځانګړې مودې له پاره د پیسو ایښودل په داسې توګه چې د استفادې حق یې نه لري (time deposits in banks) او یا هم بله مالي معامله داسې چې پیسې به یې وروسته ورکول کېږي.[4] نیازی د اسلامي بانکدارۍ په اړه وایي، د دوی له خوا د خدماتي پیسو اخیستل جایز نه دي، هغه همدارنګه زیاتوي چې د اسلامي بانکدارۍ جوړښت په قانوني توګه د منلو وړ نه دی.

۱. د یادونې وړ ده چې په سود د پیسو پور ورکول هم له ځان سره د پیسو د بیرته ترلاسه کولو ګواښ لري. خو موږ داسې یو حالت په نظر کې نیسو چې پور د ظمانت په بدل کې خوندي وي.
۲. ایمن ردا، «اسلام او بازارونه» د ټولنیز اقتصاد بیا کتنه ۷۱، نمبر.۱ (March ۱, ۲۰۱۳): ۲۹, https://doi.org/۱۰۸۰,۱۰/۲۰۱۲,۰۰۳٤٦٧٦٤.
۳. ردا، «اسلام او بازارونه»،۲۹. ٤. عمران احسان خان نیازی، د منع کړل شوي ربا وضاحت، د اسلامي بانکدارۍ لړۍ ۱ (Islamabad, Pakistan: Advanced Legal Studies Institute, ۲۰۰۹). ۷٦۱۷٥۲.

محمد اکرم خان متقاعد پاکستاني لیکوال په خپل کتاب کې (د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟) د معاصرو او پخوانیو علماوو نظرونو ته په کتو د رباه په اړه یو بل بحث پرانیزي او زیاتوي چې په اسلامي اقتصاد او اسلامي مالي سیستم کې ستونزه دا ده چې هر ډول سود غیر قانوني ګڼي.[١] هغه رباه داسې تعریفوي: «د پور پر پیسو هر ډول زیاتوالی رباه بلل کېږي».[٢] د هغه نظر دا دی چې رباه باید یوازې د پور تر پیسو محدوده شي. د پیسو د انتقال او یا هم په پانګونې سود باید په رباه کې شامل نه شي.[٣] خان د پور او مالي انتقالاتو (financing) په توپیر کې د بېلګو په یادولو سره کاري چې په پور هر ډول زیاتوالي رباه بلل کېږي اما ټول مالي انتقالات رباه نه دي. د بېلګې په توګه پانګونه (share certificates)، په پور د یو څیز پلورل (credit sale ) د خدماتو ترسره کول (د څیزونو انتقال، د کور یا ساختمان په کرایه ورکول)، د پروژې مالي تمویل، د مخکې اداینې ترلاسه کول او همداسې نور.[٤]

د نیازي په څیر، خان په دې اند دی چې معاصر بانکوالي سیستم په تېرو درې سوو کلونو کې ډېر بدلون کړی او داسې بانکوالي د محمد (ص) پر مهال نه وه. هغه وایي که بانکونه پور نه بلکې مالي انتقالات (financing) ترسره کوي نو ترلاسه شوی سود په رباه کې نه شمېرل کېږي. همدارنګه خلک په بانک کې پیسې د بېرته تر لاسه کولو او خوندي ساتلو له پاره ږدي نو د رباه مسله نه ذکر کېږي. یا په بل عبارت معاصره اسلامي بانکوالي روا او قانوني ده. فضل الرحمن (مړ. ۱۹۸۸) د تېرې پېړۍ یو مډرنیست اسلامي مفکر په خپله مقاله «ربا او سود، Ribā and Interest» کې د دواړو تر منځ توپیر کاري.[٥]

١. خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟، ٢٢٦
٢. محمد اکرم خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟: د حکومت د اوسني حالت تحلیل او د راتلونکي اجنډا معلومول، Studies in Islamic FinanceAccounting and Governance (Cheltenham, UK: Edward Elgar, ٢٠١٣)
٣. خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟، ٢۴٢
٤. خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟، xvi.
٥. فضل الرحمن، « رباه او سود،» اسلامي مطالعات٣، نمبر.١ (March ١٩٦٤): ١–٤٣, www.jstor.org/stable/٢٠٨٣٢٧٢٤.

هغه وايي په قران کې سود او صدقه يو له بل سره په تضاد کې دي. هغه صدقه د همکارۍ په مانا تفسيروي او زياتوي مخکې له دې چې سودي بانکوالي سېتسم له منځه يوړل شي، بايد په خلکو کې د همکارۍ جذبه وهڅول شي.[1] د ۲۰۰۲ م کال د عربو د بانکونو ټولنې، د پوښتنې په ځواب کې د مصر الزهر پوهنتون له خوا شيخ الازهر ډاکټر محمد سيد تنطاوي (ومړ. ۲۰۱۰) فتوا ورکړه چې په بانک کې د اېښودل شوو پيسو په بدل کې ټاکل شوې اندازه ګټه روا او تر لاسه کولای شئ. د دې فتوا لنډيز په لاندې ډول دی: هغو کسانو چې د بانکونو او يا نورو مالي انسټيټيوټونو له خوا پر خپلو پيسو پانګونه کړې قانوني اجازه لري چې ګټه مخکې له مخکې وټاکي. دغه معاملات د نورو اعمالو په څېر نه دي، په دې کې کموالی او زياتوالی منع شوی، بلکې دا د ګټو په هغې برخو کې راځي چې په ښکاره توګه نه قانوني او نه هم غير قانوني ګڼل شوي.[2] د الازهر پوهنتون فتوا استدلال کوي چې د بانک او په بانک کې د پيسو اېښودنکي تر منځ اړيکه د پانګوال او پانګه اچوونکي ده، پر دې بنسټ دا قانوني ده چې د يو چا په پانګه اچونې ګټه ترلاسه کړي. خو له نورو پانګونو سره يې يو ښکاره توپير دا دی چې په هغه پانګونه کې ګټه او تاوان دواړه شته خو په دې حالت کې د تاوان چانس نشته. بانک ته د پيسو په ورکولو کې يوازينۍ ستونزه په پانګې د عايد بيه ده چې کېدای شي مثبته او يا هم منفي وي. اوس مهال غامدي په دې اند دی چې له استثنا پرته د بانک له خوا د نغدو پيسو پور تر ډېره کم شوی، سره له دې چې هغه رباه حرامه بولي خو وايي چې د بانک ټولې کړنې غير اسلامي نه دي.

۱. الرحمان، «ربا او سود،» ۳۲.
۲. شيخ الازهر ډاکټر محمد سيد تنطاوي، «دالازهر پوهنتون فتوا له بانک څخه د ټاکلي اندازې سود د ورکړل شوو پيسو په بدل کې جايز بولي،» lamic Finance Foundation/Sukuk.com (website), March ۲۰, ۲۰۱٤, https://www.sukuk.com/education/al-azhar-university-fatwa-interest-۲۷۱-bank-deposits/.

په داسې حال کې چې ځينې پوهان له اسلامي پلوه د بانکونو له خوا اخيستل شوې پيسې روا بولي، خو ځينې دا فکر ردوي او وايي، دا هغه پيسې دي چې قرانکريم رباه ګڼلې او حرامې دي.[1]

د اسلامي مالياتو (Islamic finance) موخه د يوه داسې سېستم جوړېدل دي چې د پور ورکوونکي او پور اخيستونکي تر منځ ګټه او تاوان دواړه ووېشل شي، په داسې توګه چې کېداى شي پور اخيستونکی پانګوال او يا هم عادي وګړى وي. دا د سودي بانکدارۍ د بديل له پاره د خطر د شريکولو ماډل دی. خو خان، په دې اند دی چې په اسلامي مالي سېستم کې د ګټې او تاوان د شريکولو ماډل له ډېرو ستونزو سره مخ دی او په نړيواله سطحه يې پلي کول د منلو وړ نه دي.[2] همدارنګه په اسلامي مالي سېستم کې يوه بله موضوع د يو مقدار ملاتړ يا پشتوانې ساتنه او د خيالي شتمنۍ جوړښت دی. په داسې حال چې په اسلامي اقتصاد کې بانکونه بايد سل سلنه پشتوانه ولري.[3]

په حقيقي توګه د بانکونو شتمني بايد سل سلنه د سرو زرو پشتوانه ولري چې د پيسو د ارزښت ثبات ټينګ کړي. رب په خپل کتاب «په اسلام کې اقتصادي برابري» کې د امام ابو يوسف (ومړ.۱۸۰ ق/۷۹۸م) د امام ابو حنيفه يو له پېژندل شوو پېروانو د واک په اړه کاږي، د هغه وخت په اسلامي خلافت کې دوه پولي واحدونه د طلا دينار او د مسو فلوس رواج وو.

---

۱. مايکل او ساليوان د شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د عثماني امپراطورۍ په ځينو برخو لکه هند او بوسنيا کې «د مسلمانانو بانکونه» په اړه په خپله مقاله «سود، رباه او له «اسلامه»، «اسلامي بانک» ته بدلون» ۱۹۰۸–۱۹۵۸.“ International Journal of Middle East Studies ۵۲ (۲۰۲۰): ۲۶۱–۲۸۷, doi.org ://https/۱۰۱۷,۱۰/S۰۰۲۰۷٤۳۸۲۰۰۰۰۲۳۹. کې وايي چې دې بانکونو به لکه د عادي بانکونو په څېر سود اخيست. اسلامي چارواکي د دې خبرې په تاييد وايي (په پورتنيو بانکونو کې د پور راکړه، ورکړه) او د سود له لارې ترلاسه شوې پيسې روا او قانوني دي.»

۲. خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟، ۲۳۷-۳۸.

۳. ۳.۴.۳، بحث وګورئ، «سره زر، پولي واحد او مرکزي بانک».

په حقیقي توګه د بانکونو شتمني باید سل سلنه د سرو زرو پشتوانه ولري چې د پیسو د ارزښت ثبات ټینګ کړي. رب په خپل کتاب «په اسلام کې اقتصادي برابري» کې د امام ابو یوسف (وم. ۱۸۰ ق/ ۷۹۸م) د امام ابو حنیفه یو له پېژندل شوو پیروانو د واک په اړه کاږي، د هغه وخت په اسلامي خلافت کې دوه پولي واحدونه د طلا دینار او د مسو فلوس رواج وو. اما ابو یوسف په دې باور و چې په فلوسو هر ډول پور باید د طلا د ارزښت معادل شي او د بېرته ورکړې پر مهال باید د طلا د ارزښت په اندازه فلوس ورکړي.[1]

د سود نرخ د پولي تګلارې په توګه په پور تاکل شوی د سود نرخ یو له بل سره ورته خو بېلابېلې ماناوې لري. له شک پرته چې اسلام په پور د اضافي پیسو ترلاسه کول حرام کړي، خو د اسلامي اقتصاد پوهانو تر منځ د معاصره سوداګریزو بانکونو له خوا د کمې پشتوانې په شتون کې د پیسو جوړښت دی چې پکې قانوني او عملي څېړنو ته اړتیا ده. موږ باید ومنو چې بانکونه د وخت په تېرېدو تکامل کړي، خو ماډلونه یې له نیمګړتیاوو خالي نه دي.

د دې تکامل یوه برخه د سود د کچې راکمول او ان صفر ته راښکته کول دي. په اسلامي اقتصاد کې بانکونه لکه څنګه چې اوس دي، کولای شي پانګونه او سوداګري وکړي، له خلکو پیسې ترلاسه او مالي انتقالات وکړي. نو د داسې خدمتونو د وړاندې کولو له پاره لګښت ته اړتیا ده چې دا لګښت به قرارداد ته په کتو فیس، سود او یا هم د ګټې او تاوان شراکت وي. پر دې بنسټ موږ یوې بېلې «اسلامي بانکدارۍ» ته اړتیا نه لرو بلکې معاصره بانکداري کولای شي له پور پرته د سود له ورکړې څخه چې حرامه ده، پورته خدمتونه وکړي.

۱. رب، په اسلام کې اقتصادي برابري، ۲۰۶

## ۳.٦. اسلامي ماليې تګلاره

په معاصره حکومتولۍ معمولاً ډيموکراتيکو ټولنو کې د ماليې د وضعه کولو واک له حکومت سره وي. په داسې توګه چې د ماليات‌و اړوند موضع لومړۍ ولسي جرګې ته ځي، هلته له تائيد وروسته په قانون بدلېږي او د اجراء وړ ګرځي. اسلامي ټولنې او هېوادونه دې ته ورته پروسه پلې کوي. په اقتصاد او سياست کې د حکومت د محدوديتونو په اړه تل بحث کېږي. په سياسي توګه په ډيموکراتيکو ټولنو کې اصلي مرجع يې فردي حقوق دي. اقتصادي خپلواکي د دولت له واک سره تړلې ده، په تيوريکي توګه د دولت د واک په کمېدو، اقتصادي خپلواکي زياتېږي، نو پر دې بنسټ دغه کتاب د اقتصادي په ځان بساينې له پاره د دولت د واک کمېدل اړين بولي. په اقتصادي او سياسي توګه د دولت او خلکو تر منځ د واک وېش د مالياتو په وېش پورې تړلی دی. هغه ادارې چې دولتونه يې د قانون د پلي کولو له پاره جوړوي (پوليس، قضا او نور) د وګړو په ماليه چلېږي.

د زياتې پوهېدنې له پاره دوه حالتونه وړاندې کېږي: لومړی له صفر سلنه ماليې او دوهم له سل سلنه ماليې سره په نظر کې نيسو. په هغه ټولنه کې چې ماليه صفر وي دولت هېڅ واک نه لري او نظام به ملک الطوايفي وي. خو بل لور ته که دولت سل سلنه ماليه وضع کړي نو هرڅه به دولتي وي، په داسې توګه چې ازاد او شخصي مالکيت به شتون نه لري .لکه څنګه چې الله تعالی په قرانکريم کې د ذکات او لمانځه نومونه يو ډول ياد کړي او د اسلام له پنځو بنسټونو شمېرل کېږي، نو مسلمانان د خپل مال د ذکات له ورکړې ښه خبر دي او هر کال په ټاکلې اندازه د ذکات په توګه ورکوي. دغه اندازه په اصل کې داسې تعريف شوې وه:

۱. شتمني: ۶۴۲ ګرامه سپين زر.

۲. توليد: ٦٥۳ کيلوګرامه خرما.

۳. څاروي: ۵ اوښان، ۳۰ غواګانې، ۴۰ وزې.

په ۲۰۱۹م کال، اندازه (نصاب) ۳۸۴۹ امريکايي ډالره وټاکل شوه.

ذکات په کلنۍ توګه په هر ډول توليداتو، څارويو او شتمنۍ حسابېږي او غامدي يې بيې په لاندې توګه واضح کړې دي:

۱) شتمني: ۲.۵ سلنه په کلني ډول

۲) توليد:

• ۵ سلنه په ټولو توکو باندې چې د کار او پانګې په پايله کې توليد شوې وي.

• ۱۰ سلنه پر هغو توکو چې داسې توليد شوي وي، د دوی په توليد کې بنسټيز عامل يا کار وي، يا سرمايه.

• ۲۰ سلنه پر هغو توکو چې د پانګې د لګښت او کار په پايله کې نه وي ترلاسه شوي بلکې د الله تعالی له لوري ډالۍ وي.

۳) څاروي: بېلابېلې بيې.[۱]

له راټولو شوو ماليو سره به دولت څه کوي؟ قرانکريم په دې اړه په ۹:۶۰ ايت کې فرمايي: إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۖ فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ. ۹:۶۰

۱) لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ (غريب او مسکين)؛

۲) وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا (د دولت د ټولو کارکوونکو معاش)؛

۳) وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ (د اسلام او مسلمانانو په ګټه سياسي لګښتونه)؛

۴) وَفِي الرِّقَابِ (د غلامانو د خپلواکۍ)؛

---

۱. غامدي، اسلام، ۳۳۰.

۵) الْغَارِمِينَ (له هغو خلکو سره مرسته چې اقتصادي ستونزې لري او يا هم پوروړي وي)؛

۶) وَفِي سَبِيلِ (د خلکو د گټې او اسلام له پاره)؛

۷) وَابْنِ السَّبِيلِ (د مسافرو د مرستې، سړکونو، پلونو او مسافرخونو له پاره)؛

همدارنگه، اسلامي قانون په لاندې توکو ذکات نه دی وضع کړی:

۱) د توليد او سوداگرۍ وسايل؛

۲) د ورځنۍ کارونې شخصي توکي؛ او

۳) هغه مقدار چې د ذکات له اندازې لږ وي.

له تاريخي پلوه، اسلامي هېوادونه يوازې په ذکات پورې تړلي نه وو، بلکې دوی له هغه غير مسلمانانو جزيه اخيسته چې په اسلامي خاوره کې به اوسېدل او جهاد به يې نه کاوه. همدارنگه يې له هغو ځمکو خراج اخيست چې مسلمانانو به فتحه کړې وې، خو ځمکې به يې له اصلي څښتنانو سره وې. همدارنگه د اسلام د دوهم خليفه حضرت عمر (رض) د خلافت پر مهال پر هغو سوداگرو لس سلنه ماليه وضعه شوه چې د مسلمانانو په خاوره کې به يې سوداگري کوله. پر دې سربېره په معدنونو او سمندري توکو هم شل سلنه ماليه وضع کېده.

محمد (ص) چې د مسلمانانو پيغمبر و عادي ژوند يې درلود او د جنگ شل سلنه غنيمت ور رسېده. هغه خپل حق په پنځو برخو وېشه، څلور برخې به يې د وگړو (امت) د مرستې او يوه برخه به يې ځان ته پرېښوده. يا په بل عبارت نوموړي به د خپل عايد اتيا سلنه برخه نورو ته ورکوله په داسې حال کې چې د ذکات اندازه له ۲.۵ څخه تر ۱۰ سلنې پورې وه.

په دې اړه د معاصر سعودي عالم شيخ محمد الح المنجدي فتوا وايي، ذکات له ماليې سره په توپير تل د يوه ديني فرض په توګه پېژندل کېږي.[1] همدارنګه دغه فتوا پرته له ځينو ځانګړو حالاتو چې حکومت له مالي ستونزو سره مخ وي د دولت له خوا هر ډول ماليه حرامه ګڼي. خو د يادونې وړ ده چې دا د ماليې اخيستلو له پاره دروازه پرانيزي، دولت به د هر ډول اړتيا د بېلګې په توګه د سوداګريزې پروژې له پاره هم پر خلکو ماليه وضع کوي.

ذکات د لمانځه او روژې په څېر يوازې د ځان له پاره نه اداء کېږي، بلکې الله تعالی په مسلمانانو ذکات فرض کړی چې د ځان تر څنګ د ټولنې ګټه هم پکې خوندي شي. د ذکات د دغې ټولنيزې ګټې په نظر کې نيولو سره په سوداګريزو بانکونو او سوډان کې د ديوان ذکات تر منځ د ۲۰۰ ميليونه پونډه د خونديتابه شراکت «security portfolio» جوړ شوی. دغه پروګرام په دوهم قدم کې د سوداګريزو بانکونو مراجعينو ته د توان په صورت کې د بيمې اسانتياوې برابروي. د يادونې وړ ده چې په لومړي قدم کې د تاوان جبران د پېرودونکي په غاړه وي.[2] دا بحث مورږ ته راښيي چې ذکات بايد د رسم او رواج په توګه نه بلکې د معاملاتو برخه وګرځي.[3] اکرم خان په دې اند دی، د پخوانيو علماوو يوه تېروتنه دا وه چې ذکات يې د عبادت برخه ګڼله، په کار خو دا وه چې ذکات يې د معاملاتو برخه ګڼلې وای.

۱. محمد صالح المنجدي، «د ذکات او ماليي تر منځ توپير څه دی او ايا د ماليي وضع کول جايز دي؟ ايا ورکول يې اړين دي؟،» Islam Question & Answer (website), September ۳۰, ۲۰۱۳, https://islamqa.info/en/answers /۱۳۰۹۲۰/the-difference-between-zak aah-and-taxes-and-the-conditions-of-imposing-taxes.

۲. عبدالله او ټول.، اسلامي اقتصاد،۷۱۲.

۳. اسلام قانون په عباداتو او معاملاتو وېشل شوي.

هغه زياتوي د ذکات د بيې، اندازې او محدوديتونو د بيا تعريف په اړه بېلابېلو علماوو نظرونه ورکړي. خان د ذکات د وېش نا برابرۍ ته په اشارې کارې، پخوانيو علماوو له سوداګرۍ، معاشاتو او نورو لارو د عايد ترلاسه کول له ذکات معاف کړي.[1] غامدي په دې اند دی چې الله تعالی دولت ته د ماليې ټاکلو واک نه دی ورکړی. هغه وايي، اسلام يوازې دوه ډوله ماليه لري يو يې ذکات او بل يې په څمکو ماليه ده. هغه د ذکات په اړه قران او د څمکې د ماليې په اړه د محمد (ص) او لومړيو خليفه ګانو کړنې د مرجع په توګه يادوي. نوموړی ذکات په ټوله شتمنۍ تر ۲،۵ سلنه نه محدودوي، بلکې هغه په بېلابېلو بيو سره ذکات د عايد نورو برخو ته هم پراخوي.[2]

د دولت د مالياتو د محدودولو په اړه د غامدي نظريه څواکمنه ده، دغه نظريه د يو بحث په توګه په ټولو ټولنو کې د دولت د واک د محدوديت له پاره استفاده کېدای شي. د يادونې وړ ده چې ترکي الاصله امريکايي اقتصاد پوه په خپله وروستۍ مقاله کې ورته نظر لري، [3] هغه زياتوي چې: د محمد (ص) تر مشرۍ لاندې اسلامي حکومت کوی شوای ماليې لوړې کړي، خو يوه مناسبه اندازه، له مخکې ټاکل شوې سلنې مالياتي سېستم يې د ذکات په نامه د ځانګړو موخو له پاره جوړ کړ. [4] د دې بحث د را ټولولو له پاره، ذکات د سرچينو په نظر کې نيولو پرته، په عايد او شتمنۍ وضع کېږي چې په شتمنۍ لس سلنه او که انساني هڅه په کې شامله وي نو پنځه سلنه وضع کېږي، دغه پروسه په سوداګرۍ، معاشاتو او مسلکي کارونو د پلي کېدو وړ ده. د يوه قانوني کس په توګه چې ټول اسلامي قوانين پلي کوي د ذکات او ماليې دواړو ورکړه مناسب نه ده.

---

۱. خان، د اسلامي اقتصاد ستونزې څه دي؟، ۴۱۷.

۲. غامدي، اسلام،۳۳۲.

۳. تيمور کوران، « ذکات: د اسلام پاتې شوی فرصت د ماليې د سېستم د محدودولو له پاره،» .SSRN Scholarly Paper, Economic Research Initiatives at Duke (ERID) Working Paper No ۲۸٤ Rochester, NY: Social Science Research Network, April) ۸, ۲۰۱۹), ۱-۳۲, https://dx.doi. org/۱۰,۲۱۳۹/ ssrn.۳۳٦۸۲۹۲.

٤. کوران،« ذکات،« ۲۴.

د حل اسانه لاره يې دا ده چې حکومت له معاشاتو د ماليې پر ځای ذکات کم کړي، د مالېزيا حکومت له همدې ماډل ګټه اخلي او پر عايداتو له ماليې څخه ذکات وضع کوي. اصلي پيغام دا دی چې شريعت د اقتصادي چوکاټ په اډانه کې د عامه بوديجې د مديريت له پاره بديلې لارې لري. د ذکات ټيټه بيه سوداګرو او پانګوالو ته د ډېر عايد لرلو فرصت ورکوي څو هغه پرې لګښت او يا هم پانګونه وکړي. همدارنګه د حکومت له خوا د ماليې ټيټه بيه او د نصاب (nisab) په عملي کولو د ټولنې غريبو ته فرصت ورکول دي چې ډېره سپما او لګښت ولري. هغه دولت به چې شتمني يې د ذکات له ۲،۵ څخه تر ۲۰ سلنه او د ځمکې پر ماليې پورې تړلي وي، له شک پرته ډېر محدود وي. يو اسلامي حکومت د خپلو خلکو له رضا پرته له هغوی ماليه نشي غوښتی، ځکه چې په اسلام کې حکومت د الله تعالی تر حکومتونو پورې محدود دی او د معاصر حکومت له خوا په يوه او بل نوم له خلکو د ماليې اخيستل پکې محدود شوي دي. دا په ديني توګه د يوه محدود شوي حکومت معيار دی. د يوه حکومت اندازه بايد په حد اعظمي توګه د ۲۰ سلنه ذکات په اندازه وي چې له خلکو يې ترلاسه کوي.

په ۱۸۷۹م کال امريکايي اقتصاد پوه هنري جورج وويل، ماليه بايد د هغې ځمکې په اندازه چې ابادي پکې نه وي شوې وضع شي. له دې ويلای شو چې دا له اسلامي تګلارې سره يو ډول ده. په حقيقت کې د جورج غوښتنه دا وه چې د ډېرو ماليو پر ځای يوازې يوه د ځمکې ماليه ولرو. له دغه تيوري په ګټې اخيستنې، د ۵ سلنه ماليې په نظر کې نيولو سره داسې انګېرل کېده چې په ۲۰۰۹ م کال به په امريکا کې کلنۍ ماليه ۲،۵ ټرېليونه ډالره وي چې د حکومت د ټولو لګښتونو ۴۰ سلنه يې جوړوله. له دې ښکاري چې که د دولت واک محدود وي، نو لګښتونه يې په تقريبي ډول يوازې د ځمکې ماليه پوره کوي. د امريکا حکومت ډېر لوی شوی او د اندازې له مخې د غير خالصو داخلي توليداتو ۴۰ سلنه جوړوي.

يو حکومت چې له ۲۰ سلنه غيرخالصو داخلي توليداتو څخه جوړ کړي د ځمکې د ماليې په واسطه تمويل کېداى شي.[۱] د مالوماتو پر بنسټ په ۲۰۰۴ م کال په ماليزيا کې د ذکات اندازه ۲۷،۵۸۶ بيليون رنګيټ ( ۷،۲۵۹ بيليونه امريکايي ډالره) تخمين شوې وه، په داسې حال کې چې په همدې کال د ماليزيا حکومت ۷۵،۵۲ بيليونه رنګيټ ماليه را ټوله کړې وه. پر دې بنسټ که ذکات د حکومت له خوا را ټول شي نو د ټولې ماليې يو په دريمه برخه جوړوي. په پايله کې ويل شوي چې ذکات د يوې مناسبې ماليې تر څنګ د ډېرو ټولنيزو ستونزو حل هم دى چې له مخې به يې اسلامي مالي تګلاره او د عامه مالي مديريت ډېر شفاف، باثباته او ساده وي. په ساده شکل کې به دغه تګلاره په عايد، شتمنۍ او ځمکې ماليه وضع کړي چې د عشر له بيې سره سم به تر لس سلنې زياته نه وي. همدارنګه ټول عامه خدمتونه به د ځمکې له ماليې او ټولنيز خدمتونه به د ذکات او وقف له لارې تمويلېږي.

## ۳.۷. وقف ـــ د خلکو له خوا د خلکو ټولنيز خونديتوب

وقف په اختياري او دايمي ډول د الله تعالى د رضا د حاصلولو له پاره د خپل مال او شتمنۍ يوه برخه ورکول دي. په يهودي ټولنه کې دا خيريه کړنې ترسره کېدې، نبي کريم (ص) د ځانګړو موخو د ترسره کولو له پاره د اوږد مهالي سرچينې په پار د يهودي ټولنې له خيريه کړنو څخه په ليدنې د يوه اسلامي ماډل چې وقف نومېږي بنسټ کېښود. نبي کريم (ص) فرمايي: کله چې يو څوک مړ کېږي له درې عملونو پرته نور ټول ترې پاتې کېږي: خيريه کړنې، داسې علم چې نور ګټه ترې واخلي او نېک عمله اولاد چې دعا ورته وکړي. (الترمزي، حديث نمبر. ۱۳۷۶) [۲]

۱. پايري ليمکس، «د ځمکې ماليه: د هنري جورج راتګ،» د ازادي او اقتصاد کتابتون. accessed March ۲۵, ۲۰۲۰, https:// www.econlib.org/land-taxes-the-return-of-henry-george/.

۲. التزميزي، جامعه تزميزي،« د وقف اړوند مسايل،» accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/tirmidhi/۱۵/۵۷.

د اسلامي تمدن د طلايي دورې له اتمې څخه تر دیارلسمې پېړۍ پورې، وقف په اسلامي ټولنو کې عام دود وګرځېد، په داسې توګه چې د حکومت واک پکې محدود و. په دې اړه مالېزيايي عالم او د سياسي چارو کارپوه ماسزلي مالک [1] په خپله مقاله «د حکومت له واکه وړاندې خيريه کړنې، 'احسان' ټولنيزې خيريه کړنې» کې ليکي چې «وقف د مدني ټولنيزو بنسټونو په توګه په لومړيو کې د حکومت د واک د محدودولو له پاره د مسلمانانو له خوا جوړ شو.» د هغه په اند، «وقف د اسلامي اخلاقو د ساتنې، د شخصي مالکيت او ټولنيزو دندو تر منځ د توازن له پاره يو غوره بنسټ دی». کويهلر په خپل پېژندل شوي کتاب «د اسلام لومړي وختونه او د کپيټلېزم زېږون» کې وايي چې وقف د نبي کريم (ص) له وخته پيل شوی. [2]

نبي کريم (ص) د خيبر په فتحه کې لاسته راغلې ځمکه د يوې ځانګړې موخې له پاره وقف کړه او عمر بن خطاب يې ورته ساتونکی وټاکه. هغه وايي، د نبي کريم (ص) په څېر د مسلمانانو خليفه حضرت ابوبکر صديق د خپلې کورنۍ له پاره يو کورنی بنسټ جوړ کړ چې عايد به يې د ده له مال څخه ورته ټاکل کېده. همدارنګه حضرت ابوبکر صديق او حضرت عمر فاروق د خپل ملکيت عايد د بيت المال له پاره وقف کړ چې ټول مسلمانان ګټه ترې واخلي. حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت پر مهال د غنيمتونو شل سلنه برخه د عامه ګټو له پاره وقف کړه. [3]

۱. ماسزلي مالک (Maszlee Malik)، «د حکومت له واکه وړاندې خيريه کړنې: ،احسان، ټولنيزې خيريه کړنې،» in Islamic Foundations of a Free Society, ed. Nouh El Harmouzi and Linda Whetstone, Hobart Paper ۱۸۳ (London: Institute of Economic Affairs, ۲۰۱٦), ٦٣, https://iea.org.uk/wp-uploads/content/۲۰۱٦/۱۰/Islamic-Foundations-of-a-Free-Society.pdf.

۲. مالک، «د حکومت له واکه وړاندې خيريه کړنې» ۶۴.

۳. کويهلر، «د اسلام لومړي وختونه او د کپيټلېزم زېږون» څوارلسم فصل.

تاریخ ښیي چې ذکات او وقف د اسلامي ټولنې په اقتصادي پایښت کې رغنده رول درلودلی او وقف د مسجدونو، ښوونځیو، پلونو، د یتیمانو له پاره د اوسېدو ځایونو او بې رسوني عامه پروژو، خوراکي توکو او پوروړو د خلاصون په برخه کې ډېر ګټور تمام شوی. د یادونې وړ ده چې د مسلمانانو له وقف څخه هغو غیر مسلمانانو چې په جګړه کې دخیل نه وو هم ګټه اخیسته. د وقف سیستم له دولت پرته د ټولنې په جوړښت کې رغنده رول لوبولی. د معاصر بنګلدېشي عالم محمد توحید الاسلام په وینا، «وقف د اسلامي ټولنې په جوړښت کې ارزښت لرونکی رول درلودلی.[1]» هغه لیکي، د نولسمې پېړۍ په منځنیو لسیزو کې د الجزایر تر نیمایي ډېرې کرنیزې ځمکې وقف شوې، یو په درېیمه برخه په تونس، درې پر څلور برخې د عثماني خلافت پر مهال په ترکیه او یو په اوومه برخه په مصر او ایران کې وقف شوې وې.[2] د استعمار په وختونو کې د ډېری اسلامي هېوادونو وقف شوي ملکیتونه دولت ونیول، دغې لړۍ د هغو هېوادونو تر خپلواکۍ وروسته هم دوام وموند او د وقف اقتصادي او ټولنیز تاثیر یې اغېزمن کړ.[3]

وقف د استفاده کوونکو له مخې په لاندې برخو وېشل کېدای شي: دیني وقف چې د مسجد، ښوونځي، مدرسې او ورته ملکیتونو له پاره ورکول کېږي؛ بشري وقف چې له غریبو او مسکینانو سره کېږي؛ کورنی وقف چې د یو کس له خوا کورنۍ ته ځانګړی کېږي؛ فزیکي وقف، معمولاً د ځمکې، کور او یا هم جایداد په ډول او همدارنګه د پیسو وقف د نغدو پیسو په ډول وي.[4]

---

۱. محمد توحید الاسلام، په بنګلدېش کې د وقف تاریخي پراختیا: د ازاد بازار پر وړاندې ستونزې او فرصتونه، ed. Ali Salman and Husnul Amin (Islamabad, Pakistan: IRD ,۲۰۱۹), ۳۱۰.

۲. اسلام، د وقف تاریخي پراختیا، ۳۱۵.

۳. اسلام، د وقف تاریخي پراختیا، ۳۱٦.

٤. اسلام، د وقف تاریخي پراختیا، ۷۱۴.

## ۳.۸. د میراث قانون

قرانکریم د اقتصادي تګلارې په اړه د پراخو اصولو تر څنګ د میراث د وېش په اړه ځانګړی فارمول وړاندې کړی. د دې په اړه الهي دلیل دا دی چې د میراث موضوع له فردي احساساتو ډکه ده او کېدای شي د وېش پر مهال د فکرونو د اختلاف او ان شخړې سبب وګرځي.

په قرانکریم کې د میراث د وېش په اړه وايي:

۱. که وفات شوی پر خپل نامه پور ولري، نو لومړی باید هغه اداء کړل شي؛ تر هغه وروسته که هغه وصیت کړی وي، نو وصیت یې باید پوره شي او پاتې برخه دې د هغه پر کورنۍ ووېشل شي.

۲. وفات شوی خپلې ځانګړې ورثې ته وصیت نشي کوی، خو له ځانګړو حالاتو پرته، همدارنګه د کړنو او خبرو پر بنسټ کسان چې د وفات شوي ملګری وي په میراث کې برخه نه لري.

۳. له پلار، مور او ښځې وروسته اولادونه د میراث خاوندان دي. که یوازې ده لورګانې ترې پاتې وي او زوی ونه لري نو لورګانې، دوه په درېیمه برخه د میراث حق لري او که یوازې یوه لور ترې پاتې وي نو نیمایي برخه حق لري. خو که یوازې زامن ولري نو ټوله شتمني یې د زامنو تر منځ وېشل کېږي. همدارنګه که زامن او لورګانې دواړه ترې پاتې وي نو دوه لورګاني د یوه زوی حق لري.

٤. د اولادونو په نشتوالي کې د میراث مال له مور، پلار او ښځې وروسته د وفات شوي کس د ورونو او خویندو تر منځ وېشل کېږي، د دوی تر منځ وېش د زامنو او لورګانو د وېش په څېر دی.

۵. کـه وفـات شـوی کـس اولادونـه ولـري او يـا يـې ونـه لـري خـو ورونـه او خوينـدې ولـري، نـو د مـور او پـلار بـه يوپـه شـپږمه برخـه وړي او کـه هغـه ورونـه او خوينـدې هـم ونـه لـري، يـوازې مـور او پـلار يـې پاتـې وي، نـو يوپـه دريمـه د مـور او دوه پـر شـپږمه د پـلار برخـه کېـږي.

٦. کـه وفـات شـوی کـس نارينـه وي او ښـځه او اولادونـه تـرې پاتـې وي، نـو يـو پـر اتمـه د ښـځې حـق کېـږي او کـه اولادونـه نـه وي تـرې پاتـې نـو يوپـر څلورمـه د ښـځې حـق کېـږي.

٧. کـه وفـات شـوی ورثـه ونـه لـري، کـولای شي، خپـل حـق بـل هـر چـا تـه ورکـړي. کـه وړونکـی شـخص يـوه خـور او يـا يـو ورور ولـري نـو يوپـه شـپږمه برخـه دې هغـوی او پاتـې يوپـه پنځمـه د ده برخـه کېـږي او کـه لـه يـوه ډېـرې خوينـدې او ورونـه ولـري نـو يـو پـه دريمـه د خوينـدو او پاتـې دوه پـه دريمـه يـې خپلـه برخـه کېـږي.[۱]

پـه اسـلام کـې دولـت پـه ميـراث د ماليـې وضـع کولـو او يـا هـم د ميـراث اخيسـتلو حـق نـه لـري، يـوازې پـه هغـه صـورت کـې چـې وفـات شـوی کـس هېڅـوک ونـه لـري نـو شـتمني يـې د ملـت خزانـې تـه ځـي. پـه قرانکريـم کـې د ميـراث د وېـش پـه اړه يادونـه د لارښـوونې پـه موخـه ده چـې ميـراث اختيـاري نـه بلکـې لازمـي دی.[۲]

۱. غامدي، اسلام، ۴۸۵-۸۶.
۲. د ميراث او شتمنۍ د وېش په اړه د زياتو مالوماتو له پاره ۲.۳. برخه «د شتمنۍ دوران» وګورئ.

# څلورم څپرکی

## اسلامي اقتصادي چوکاټ

### تاریخي مینه او که عملي نسخه؟

ان که څوک دلته له وړاندې شوو اصولو او اداري جوړښت سره همغږی هم وي، د ځواب له پاره یوه کلیدي او اړوندې نورې پوښتنې شته: ایا د اقتصادي خپلواکۍ په اړه اسلامي لیدلوری یو فکري رومانتیېزم (romanticization) دی، یا هغه څه چې نن ورځ عملي کېدای شي؟

ایا اسلامي اصول په نننۍ نړۍ کې بې شمېره اقتصادي ستونزې حل کوی شي؟

ایا ننګونې لکه بېکاري، نابرابري او پرلپسې پرمختیا په ګوته کوی شي؟

ایا دا بنسټونه په هغو ټولنو کې وده کوی شي چې فساد، استبداد او تاوتریخوالی پکې حاکم وي؟

دا ستونزمنې پوښتنې دي چې په دې کتاب کې یوازې ابتدایي کتنه ورته کېږي. مسلمانان باید په یاد ولري چې حضرت محمد (ص) انقلابي کس نه و چې له پیل څخه یې نظام جوړ کړ، بلکې یو ټولنیز اصلاح کوونکی و. هغه کوم نوی سوداګریز قانون یا اقتصادي تګلاره جوړه نه کړه. بلکې، د الهي لارښوونو پر بنسټ یې هغه اقدامات معرفي کړل چې د یوې عادلانه ټولنې د پراختیا توان یې درلود. هغه د بیې کنټرول منع کړ ځکه هغه له خپلې تجربې پوهېده چې دا د سوداګرو له پاره غیر عادلانه وه. د اسلامي لښکرو له خوا د فتحه شوې ځمکې په اړه د هغه د بېلابېلو انتخابونو وړاندې کول د راتلونکو نسلونو په اړه فکرمن کېږي او د خپلې ټولنې له پاره یې انتخابونه جوړول. هغه د عادلانه ټولنې یو مهم اصل د پیاوړتیا له پاره په غیر قانوني توګه د مسلمانانو له خوا د نورو خلکو د شتمنیو له نیولو منع وکړه. په پور د سود اخیستو د منع کولو په مرسته یې د وخت د اقتصادي بې ثباتۍ او نابرابرۍ مخه ونیوه.

نو، په دې چوکاټ کې وړاندې شوي بنسټونه کومه لویه پروژه نه بلکې یوه مخ پر وده تګلاره وړاندې کوي. د دغې تګلارې بنسټیز پیغامونه:

۱. د محدودیتونو په رڼا کې اسلام د شخصي ملکیت حقونه له حرمت څخه برخمن کړي. په پېر او پلور کې د اخلاقي محدودیتونو تر څنګ، کلنۍ مالیه او وروسته له مرګه میراث شامل دي.

۲. ځمکه او طبیعي سرچینې عامه ملکیت دی، شخصي بنسټونه یې له محدودیتونو او اصولو سره سم استفاده کوی شي.

۳. د بیو کنټرول ته اړتیا نشته، پرته له دې چې په عامه توګه بېړني او طبیعي ناورینونه نه وي. بیې به د بازار د ګډونوالو له خوا ټاکل کېږي.

٤. په سوداګریزه برخه کې فریب، چل، یا جبر د زغملو نه دی او د بازار د تنظیم له پاره باید یو اغېزمن میکانېزم شته وي.

۵. د ذکات له ماډل په ګټه اخیستنې د مالیو بیې باید له ټیټو او برابرو جوړې وي.

٦. د توکو د ازادې سوداګرۍ له پاره باید د تعرفو بیې ښکته وي.

۷. د پیسو د چاپ له پاره د مرکزي بانک واک باید د یوې شتمنۍ د ملاتړ له لارې محدود شي، ترڅو د طلا د پشتوانې په درلودلو سره پیسې چاپ کړي.

۸. مالي بنسټونه له سود پرته د هر ډول خدمتونو د ترسره کولو جواز لري.

۹. حکومت د ټولنیز خوندیتوب له پاره رضاکارانه بنسټونه د وقف په شکل هڅولی شي خو د ضبط واک یې نه لري . د وقف ټول بنسټونه باید شخصي ملکیت وي.

ډېرى دا ټکي بـه د پراخـې پالیسـۍ او لاربښـووني پـه توگـه کارول کېږي. دا پــه دې مانــا ده چــې ځینــې بنســټونه بایــد لــه منځــه لاړ شي. ډېــرى هېوادونــه بیــې کنټرولــوي، دا کړنــې بایــد پــه هغــه صــورت کــې تــرسره نــه شي چــې مــصرف کوونکــي خونــدي او ســوداگري مناســبه وي. د بېلگــې پـه توگـه ډېرى شته قوانیـن او بنسټونه بایـد لـه سره و ارزول شي. د بېلگــې پـه توگـه د شـخصي پانگونـې د خوندیتـوب لـه پـاره د طبیعـي سرچینـو د سـاتلو قانـون ارزونـه. پـه ورتـه ډول، د خصـوصي سـکتور لـه خـوا د تېلـو پـه راویسـتلو کـې پانگونـه پـه امنیـت او گټـې پـورې تړلـې، پـر دې بنسـټ بایـد د اوږد مهـال قـرارداد برخـه وگرځـول شي. د ځمکـې د ملکیـت پـه اړه، ډېـرى هېوادونـه د عادلانـه خسـارې پـه بـدل کـې شـخصي ملکیتونـه پـه عامـه ملکیتونـو بدلـوي. د عامـه مـالي چـارو پـه اړه، یـوازې د عشر، ذکات او ځمکــې د مالیــو لــه لارې د حکومتونــو مــالي چــارې مختــه وړل بــه تــر ټولـو سـتونزمن کار وي. کـه بلـه سرچینـه ونـه لـري ایـا دولـت کـولای شي خپلـې اړتیـاوې پـوره کـړي؟

پـه داسـې حـال کـې چـې د ذکات انـدازه بـه نظر عایـد او شـتمنۍ تـه لـه ۲،۵ سـلنې څخـه تـر ۲۰ سـلنې پـورې وي. د ښـاري او کلیوالـو سـیمو د پراختیـا پـه صـورت کـې اضـافي مالیـه اخیسـتل کېـدای شي. د ښـاري او لـرې پرتـو سـیمو د پرمختـگ ترڅنـگ پـه ځمکـې اضـافي مالیـه هـم وضعـه کېـدای شي، خـو بایـد پـه یـاد ولـرئ چـې د ښـکته او مناسـبې مالیـې شـتون د حکومـت د واک د محدودیـت لـه پـاره دي، ترڅـو یـې عایـد کـم او پـه دې سره واک هـم کـم شي. پـه هغـو هېوادونـو کـې چـې اکثریـت یـې مسـلمانان دي د پورتـه اصولـو د پـلي کولـو لـه پـاره یـې مناسـب وخـت دی، پـه حقیقـت کـې هـر هغـه اسـلامي او غیـر اسـلامي هېوادونـه چـې پـه برابـرۍ او خپلواکـۍ ولاړ اقتصـادي سېسـتم غـواړي بایـد پورتـه اصـول پـلي کـړي. کـه ځینـې غیـر اسـلامي هېوادونـه لـه نـورو مخکـې دا کړنـې تـرسره کـړي نـو د نـورو هېوادونـو لـه پـاره بـه یـوه بېلگـه وي. پـه پـای کـې د یادولـو وړ ده چـې اسـلامي اقتصـادي چوکاټ، د عادلانـه نظـم لـه خرابولـو پرتـه د اقتصـادي ژونـد لـه پـاره اعظمـي خپلواکـي ورکـوي. پـه حقیقـت کـې، د اسـلام لـه پـاره خپلواکـي اړینـه ده.

# لومړۍ ضمیمه

## د اسلامي اقتصاد بدلون

دغـه کتنـه د اقتصـادي خپلواکـۍ لـه پـاره د اسـلام د لومړنیـو مالوماتـو پـر بنسـټ او د هغـه توضیـح پـه اړه چـې ما اسـلامي اقتصـادي چـوکاټ نومولی یـو اسـلامي حالـت وړانـدې کـوي.[1] لکـه څنگـه مـې پورتـه ورتـه اشـاره وکـړه، دغـه ماډل «اسـلامي اقتصـاد» چـې د شـلمې پیـړۍ پـه منځنیـو لسـیزو کـې د علـماوو پـه واسـطه جـوړ شـو پورتـه ذکـر شـوې اقتصـادي خپلواکـي نـه تاییـدوي. دا برخـه د (اسـلامي اقتصـاد) د ادبیاتـو منځتـه راتـگ واضـح کـوي او تـر څنـگ یـې استـدلال کـوي چـې ولـې دا د اقتصـاد لـه پخوانیـو اصولـو سره ورتـه والـی نـه لـري.

پـه پیـل کـې غـواړم یـو ټکـی روښـانه کـړم چـې: د «اسـلامي اقتصـاد» تـر منـځ د اړیکـو پـه اړه اوسـنی نړیـوال بحـث تـر ډېـره د معـاصرو لیکوالـو لـه خـوا چـې دینـي او ټولنیـز شـالید لـري اغېزمـن شـوی. هـر کلـه چـې د اسـلام لـه خـوا د را منـځ تـه شـوي اقتصـادي چوکاټ پـه اړه بحـث کیـږي، ډېـری وخـت یـې ماخذونـه د شـلمې پیـړۍ لیکـوال وي. خـو بـل لـور تـه، لکـه څنگـه چـې مـا د بیـو د کنټـرول پـه بحـث کـې ورتـه یادونـه وکـړه، د اقتصـادي تـگلارو پـه برخـه کـې د کلاسـیکو اسـلامي فکرونـو پـه اړه لـږ کار تـرسره شـوی دی. د «اسـلامي اقتصـاد» د یـوې بېلـې برخـې پـه توگـه تـر ټولـو لومـړي پلویـان عراقـي عـالم محمـد باقـر الصـدر (ومـړ. ۱۹۸۰) او پېژنـدل شـوی پاکسـتاني عـالم ابـو العـلي مـودودي (ومـړ. ۱۹۷۹) و چـې د اسـلامي اقتصـاد پـه اړه یـې لـه ۱۹۳۰ میـلادي کال څخـه لیکنـې کولـې، کپیټلېـزم د یـو اقتصـادي نظـام پـه توگـه او مارکسـېزم د ټولنـې د بـې خـدای لرلیـد پـه توگـه وننگـول.

«اسلامي اقتصاد» د ۱۹۷۶م کال د مکې په نړیوال کنفرانس کې د یوه اکادمیک ډیسپلین په توګه پېژندلو له پاره پنځوس کاله وخت ونیو.[۱] د «اسلامي اقتصاد» بنسټیزه مفکوره د قران، سنتو او احادیثو په رڼا کې د یوه اسلامي اقتصادي چوکاټ وړاندې کول دي. د دغه چوکاټ په اړه اسلامي اقتصاد پوهان وایي چې له کپیټلېزم او سوسیالېزم سره په بنسټیزه توګه توپیر لري. دا ښیي چې «اسلامي اقتصاد» باید د اقتصاد په څېر د ټولنیز علم په توګه وپېژندل شي او باید خپل میتودولوژیکي او اپیستېمولوژیکي چوکاټ ولري.

## ایا اسلامي اقتصاد د پلان او که د بازار پر بنسټ دی؟

د «اسلامي اقتصاد» په اړه معاصر بحث د اقتصادي خپلواکۍ او ټولنیزې برابرۍ په فکري اختلاف کې شکېل دی. دا فکري توپیر په لاندې پوښتنې سره عمومي کېدای شي چې: ایا اسلامي اقتصاد د پلان پر بنسټ دی، د بازار پر بنسټ دی او که د دواړو تګلارو مجموعه ده؟

لاندې برخه په تېرو پنځوسو کلونو کې د معاصر اسلامي اقتصاد پوهانو فکرونو ته بیا کتنه کوي. د اسلامي اقتصاد په اړه تر ټولو پخوانی لیکوال محمد عبدالمنان (بې، ۱۹۳۸) کې د لنډیز په توګه لیکي چې: «په اسلامي اقتصاد کې اصلي ستونزه د بازار له خوا د بیو ټاکل نه بلکې د عاید نا برابره وېش دی».[۲]

---

۱. خورشید احمد، اې ډي.، د اسلامي اقتصاد مطالعه: د ۱۹۷۶م کال دفبروري له ۲۱-۲۶ پورې د شاه عبدالعزیز پوهنتون له خوا په مکه معظمه کې د اسلامي اقتصاد په لومړي کنفرانس کې د مقالو ټولګه (Ṣafar ۲۱–۲٦, ۱۳۹٦ H.) (جده، سعودي عربستان: د شاه عبدالعزیز پوهنتون د اسلامي مطالعاتو څېړنیز مرکز؛ Leicester, UK: Islamic Foundation, ۱۹۸۰). د ګډون والو او مقالو د لېست له پاره د دغه کنفرانس پروګرام د اسلامي اقتصاد په انستیټیوت کې وګورئ، https://iei.kau.edu.sa/Pages-E ListConference۱-.aspx.

۲. محمد عبدالمنان، د اسلامي اقتصاد پولې، IAD Religio-Philosophy (Original) Series ۱۳ (Delhi, India: Idarah-iAdabiyat-i Delli, ۱۹۸٤), ۱٤۰, https://archive.org/details/frontiers mann۰۰۰۰ofislam.

دا د اقتصادي خپلواکۍ او ټولنیزې برابرۍ تر منځ توپیر ښیي چېرې چې بیې اقتصادي خپلواکي او د عاید نابرابري ټولنیز عدالت په گوته کوي. د شتمنۍ تر جوړښت پورې د هغه پر وېش ډېر تاکید کوي. د معاصر اسلامي اقتصاد پوهانو له انده ښکاري چې شریعت د یو پلان شوي اقتصاد تر څنګ د عاید د نابرابرۍ کمول غواړي. د شلمې پېړۍ کلاسیک اقتصاد پوهان له دې فکر سره مخالف دي، په دې اړه ابن اشور وایي: «د تولید او توکو د وېش اسانول د شریعت له بنسټیزو موخو څخه دي». [1] د بېلګې په توګه پاکستاني اقتصاد پوه سید نواب حیدر نقوي چې یو بشپړ اخلاقي اسلامي اقتصاد یې په گوته کړی ځرګندوي چې د دغه ډول اقتصاد جوړونې چوکاټ له پاره لاندې ټکي اړین دي: [2]

۱. د تولید کچه او لګښت به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د اسلامي ټولنې او دولت تر کنټرول لاندې وي.

۲. ټولو وګړو ته به پرته له دې چې دوی د عاید لاسته راوړلو وړتیا لري او کنه، یو مناسب مقدار پیسې ورکول کېږي.

۳. د عاید او شتمنۍ د وېش له پاره به د بیې اندازه په مناسبه توګه ټاکل کېږي.

٤. عاید به مساوي وي.

---

۱. د محمد لوال احمد بشار په قول، «په اسلامي اقتصاد کې د بیو کنټرول،» Journal of King Abdulaziz University: Islamic Economics ,۹ .no ۱ (۱۹۹۷): ٤۰.

۲. سید نواب حیدر نقوي، اقتصاد او اخلاق: یو اسلامي ترکیب. اسلامي اقتصاد دوهم ټوک (Leicester, UK: Islamic Foundation, ۱۹۸۱).

۵. د شتمنۍ وېش به مساوي وي.

۶. ناوړه ګټه اخيستنه کمه او «د کارګر مزد به د صنعت د مجموعي توليد تابع وي».

۷. د شخصي ملکيتونو واک به محدود وي.

۸. شرکتونه به د دولت تر واک لاندې وي.[1]

دا به ډېره په زړه پورې وي چې دې کمونېستي منشور ته د اسلامي چوکاټ نوم ورکړو، ځکه چې نقوي، توليد، مصرف، د عايد او شتمنۍ برابري او د شخصي ملکيت له منځه وړل د دې اسلامي چوکاټ بنسټيز ټکي وبلل. داسې ښکاري چې دا فکر د کمونېزم او کپيټلېزم تر منځ د شخړې پيداوار دی چې په شلمه پېړۍ کې راغی او د شريعت له اصولو سره يې برابرښت ډېر ستونزمن دی. د عايد برابرښت او د شخصي ملکيت له منځه وړل په ښکاره توګه د شريعت له اصولو سره په ټکر کې دي.

۱. نقوي، اقتصاد او اخلاق، د کتاب صفحې ( ۱۰۲، ۹۶، ۱۴۹، ۶۴).

## ایا د ټولنیز وېشونکي عدالت لپاره، بازار ځواب ویونکی کېدی شي؟

د «اسلامي اقتصاد» پلویان ټولنیز وېشونکی عدالت د اقتصادي تګلارې بنسټ بولي. دغه اقتصاد پوهان د سېکولر سوسیالېستانو په ډول بازار د فقر او نابرابرۍ اصلي عامل ګڼي. د دې فکر د وضاحت له پاره ما د احمد حسن مقاله چې په اسلام کې د ټولنیزې برابرۍ په اړه ده، د بېلګې په توګه را اخیستې.[1]

حسن د خپلې ټولنیزې برابرۍ نظریې له پاره د امام الغزالي په قول تکیه کوي. الغزالي وایي، هر وګړی په ټولنه کې پنځه بنسټیز حقونه لري چې عبارت دي له: د دین، ژوند، فکر، راتلونکې او شتمنۍ خوندیتوبونه.[2] که څه هم دا د وېش پر ځای د خوندیتوب تګلاره ده، خو د برېتانوي فیلسوف او سیاسي کارپوه بیرلین (ومړ. ۱۹۷۹)[3] د نظر پر بنسټ د مثبتې او منفي خپلواکۍ تر منځ توپیر دا دی چې منفي خپلواکي له محدودیتونو سرغړونه ده، خو بل لور ته مثبته خپلواکي یعنې، له خوښې سره سم د کار کولو توانایي لرل دي. که څه هم امام الغزالي د منفي خپلواکۍ په فکر دی، خو حسن په دې اند وایي: «قران په اسلامي ټولنو کې ټولو اوسېدونکو ته د لومړنیو اړتیاوو د ورکړې تاکید کړی».[4] خو د دې اړتیاوو د نومونو په اړه په قرانکریم کې څه نه دي راغلي. حسن کېدای شي د کمونېزم د اوج پر مهال یو تندلاری سوسیالېست اسلامي لیکوال وګڼل شي، په اقتصادي تګلاره کې د عدالت فکر هغوی هم اغېزمن کړل چې د خپلواکې سوداګرۍ په باور و.[5]

---

۱. احمد حسن، «په اسلام کې ټولنیزه برابري،» Islamic Studies ۱۰, no. ۳ (۱۹۷۱): ۲۰۹–۱۹, https:// www.jstor.org/stable/۲۰۸۳۳۰۳٤.

۲. حسن، «په اسلام کې ټولنیزه برابري،» ۲۱۱.

۳. عسایه برلین، د خپلواکۍ دوه فکره: د اکتوبر ۳۱ مه ۱۹۵۸ م کال له اکسفورډ پوهنتون څخه مخکې د پیل لیکچر (Oxford: Clarendon Press, ۱۹۵۸).

٤. حسن، «په اسلام کې ټولنیزه برابري،» ۲۱۲. Islamic Studies ۱۰, no. ۳ (۱۹۷۱): ۲۰۹–۱۹, https:// www.jstor.org/stable/۲۰۸۳۳۰۳٤.

۵. کمالي، اسانه مقصد الشریعه.۲۶.

د همدې ليکوال يادښت ته پام وکړئ: برابري د اسلام له بنسټيزو ستنو څخه ده، نه يوازې په قضايي برخو کې، بلکې د دولت په نورو برخو د بېلګې په توګه، د وېش برابري، د ګټو مساوات او ټولنيز خونديتوب کې هم ده.[1]

همدارنګه يو بل پېژندل شوی پاکستانی عالم، عمران احسان خان نيازی وايي: «د اقتصادي سېستم او (اسلامي اقتصاد) اصلي ستونزه د يوه نظام په توګه دا ده، د موخو په رڼا کې وښيي چې اسلام د کوم ډول توضيعي عدالت ملاتړی دی».[2]

د کمالي توضيعي عدالت بيا د قصاص له عدالت سره په ټکر کې دی او په دې اړه دا پوښتنه را ولاړوي چې: يو سېستم څه ډول د «تعادل او ګټو» په رڼا کې د سوداګرۍ خپلواکي تضمينوي؟

خپلواکي د ګټو نابرابري راوړي او اقتصادي نابرابري په اسلامي اقتصاد کې منل شوی اصل دی. د ابن خلدون په وينا د عدالت شتون د برابرۍ په معنا نه بلکې د خپلواکۍ په معنی دی: څوک چې د چا شتمني په زور ترې واخلي، ګټه ترې اخلي، يا پرې غير عادلانه فشار راوړي، يا داسې دنده ور سپاري چې له قانون سره په ټکر کې وي، دا کس بې عدالتي کوي. بايد پوه شئ چې نبي کريم (ص) د بې عدالتۍ د منعه کولو پر مهال همدا فکر په ذهن کې درلود.[3] «د بازار بيې به ټولو مصرف کوونکو او توليدوونکو ته اجازه ورنه کړي چې بازار ته د ننه شي».[4] که څه هم د هغه دا نظر له حقيقت لېرې نه دی، خو بيې د لومړيتوب تابع دي.

---

١. کمالي، اسانه مقصد الشريعه.

٢. عمران خان نيازي، اسلامي فقه: اصول الفقه. درېيم ټوک،

٣. عبدالرحمن بن محمد ابن خلدون، مقدمه. (Islamabad, Pakistan: International Institute of Islamic Thought/Islamic Research Institute, ٢٠٠٠), ٣٨١. Accessed March ٢٦, ٢٠٢٠, https:// asadullahali. files.wordpress.com/٢٠١٢/١٠/chapter, ibn_khaldun-al_muqaddimah.pdf, ٣, sec. ٤١.

٤. منان، د اسلامي اقتصاد پولې،١٣٦.

همدارنګه هغه د نورو اقتصاد پوهانو له نظر سره سم، د خپلواکۍ او وړتیا تر منځ د فکري ټکر شتون نه ردوي. د جبر نشتوالی د خپلواکۍ پر معنا دی، په ځانګړې توګه چې د قانون او نورو خلکو له خوا جبر نه وي. که یو څوک بازار ته د ننوتلو وړتیا نه لري، دا د جبر په معنی نه دی. لکه څنګه چې ابن خلدون ورته اشاره وکړه د جبر نشتوالی د خپلواکۍ پیلامه ده. داسې نه ده چې ټولو[1] اسلامي اقتصاد پوهانو د بازار د خپلواکۍ په اړه محافظه کاري ښودلې. د اسلامي اقتصاد د بنسټونو په اړه سید محمد یوسف وایي: «لومړی- د توکو احتکار به نه وي، دویم- د سرو او سپینو زرو احتکار به نه وي، درېیم- د بیو کنټرول به نه وي، څلورم- په سوداګرۍ به محدودیتونه نه وي،[2] پنځم- د سرو زرو سټنډرډ به معلوم وي».[3] د اسلامي اقتصاد په اړه د یوسف فکر منفي دی، هغه په بازار د لږو محدودیتونو پلوی دی. خو د معاصرو او کلاسیکو نظرونو پرتله ییز شکل ښیي چې دودپاله مفکرینو د بازار ملاتړې رویه درلوده. دا ښکاره خبره ده چې د پایلو برابري ناشوني ده، پر دې بنسټ مونږ ټول د مساوي فرصتونو غوښتونکي یو. د مساوي فرصتونو ورکړه د هر چا غوښتنه ده، خو د یوې ټګلارۍ په ډول یې عملي کول ستونزمن دي. ان په یوه کورنۍ کې د پلار او مور له خوا د اولادونو پر تعلیم برابر لګښت د هغوی د پاملرنې، زحمت، شوق او وړتیا ته په کتو یو ډول پایلې نه لري. نو حکومت نشي کولای ټولو ته په مساوي توګه د روغتیا، تعلیم او زیربناوو په برخه کې یو ډول فرصتونه برابر کړي، خو د حد اقل فرصتونو برابرولو زمینه باید برابره کړي. د دې تر څنګ حکومت باید د هر ډول تعصب مخنیوی وکړي.

۱. امرتیا سن د خپلواکۍ او وړتیا په برخه کې دغه فکر راووړ (Oxford: Oxford University Press, ۱۹۹۹). هغه په دې اند و چې که یو څوک غریب وي خپلواک نه دی. زما په فکر هغه صحي نه دی، ځکه خپلواکي بهرنۍ پدیده ده. کله چې ټولنه او حکومت زموږ په پرمختګ محدودیت وضع کوي، زموږ خپلواکي کمېږي. که غریب زیږېدلي یو هم خپلواک یو تر هغو چې له بهره په موږ محدودیت وضع نه شي.
۲. کاله مې چې دا څېړنه کوله، د نبي کریم (ص) په زمانه کې له دښمن سره د خپلواکې سوداګرۍ په اړه شواهد مخته راغلل (البته هغه دښمن چې وسله به ورسره نه وه).
۳. یوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت، ۴۰.

## د فردي اخلاقو جوړول، د اسلامي اقتصاد وضعيت

په معاصره نړۍ کې محمد نجات الله صديقي (ومړ. ۱۹۳۱) د اسلامي اقتصاد يوه تر ټولو پېژندل شوې څېره ده. هغې د اسلامي اقتصاد ځينې فرضيې تر پوښتنې لاندې راوړې، د بېلګې په توګه انساني چلند: هغه پر دې باور دی چې د انساني چلند نړيوال توب، د بېلګې په توګه د ګوابښ نه منل، غربي فکر دی.[1] د صديقي په دې اند، دا فکر د بانک د سود له پاره يو منطقي دليل دی. پر دې بنسټ «اسلامي اقتصاد» د فردي رويې د بدلون له مخې رامنځ ته شوی.[2] د فردي رويې په اړه بحث د اسلامي اقتصاد پوهانو د پاملرنې وړ ګرځېدلی، دوی وايي، د اسلامي اقتصاد جوړېدل مخکې له دې چې فردي فکر بدلون ونه مومي ستونزمنه ده. همدارنګه، د بېلګې په توګه يو بل پېژندل شوي اسلامي اقتصاد پوه محمد عمر چاپړا (ب.۱۹۳۳) چې د بازار په موثريت باور لري وايي: «انسانان بايد په اغېزمنه توګه اصلاح شي.»[3]

دغه ليدلوري مغرورانه دي او د اسلامي اقتصاد پوهانو له پاره ستونزې جوړوي: د يوه غوره اسلامي اقتصاد جوړونې له پاره د انساني رويې بدلون په بهرنيو ټولنيزو عواملو پورې اړه لري. پر دې بنسټ اسلامي اقتصاد پوهانو «اسلامي اقتصاد» بنسټونه د ځانګړو اصولو او ميتودونو پر ځای د انساني رويې له مخې جوړ کړي. ايا دا تېښته ده؟

۱. حمد نجات الله صديقي، اقتصاد: يوه اسلامي تګلاره (اسلام اباد، پاکستان: د پاليسي مطالعاتو انستيتيوت/ اسلامي بنسټ، ۲۰۰۱)، ٦١.
۲. صديقي، اقتصاد، ٦١. وران، احمد. «د بازار د مقرراتو په اړه د اسلامي ټولنيزو او اقتصادي ګټو نظريه.» د اسلامي اقتصاد بيا کتنه ١٤، ګڼه. ۱ (جنوري ۱، ۲۰۱۰): ۱۲۵-٤٦.
۳. م. عمر چاپرا، اسلام او اقتصادي پراختيا، د اسلام کول پوهه ١٤ (اسلام اباد، پاکستان: د اسلامی نړيوال انستيتيوت افکار/ د اسلامي څېړنو انستيټيوټ، ۱۹۹۳، ۱۲۷. نيازی، عمران احسن خان. اسلامي فقه: اصول فقه. د اسلامي قانون او فقهي درېيمه لړۍ. اسلام اباد، پاکستان: د اسلامي فکر نړيوال انستيتيوت/ د اسلامي څېړنو انستيټيوټ، ۲۰۰۰.

معاصر لبناني عالم ایمن ریدا د (اسلام او بازارونه) د اړیکو د مطالعې په اړه وایي: «د اسلام او بازارونه تر منځ اړیکو په اړه د متضادې فرضیې یا نه ورته والي پر بنسټ ډېرې څېړنې شوې دي».[١] دې لرلید د بازار او اسلام تر منځ ستونزه جوړه کړې.[٢]

محمد اسلم خان د اسلامي اقتصاد له منتقدینو په خپل کتاب (د اسلامي اقتصاد ستونزه څه ده؟) کې وایي: د اسلامي اقتصاد ډېری کړنې د قران او سنتو په رڼا کې د دودیز اقتصاد[٣] کاپي دي.[٤] خان پر دې باور دی چې ډېری اسلامي اقتصاد پوهان د نننۍ ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو پرته د پخوانیو ټولنو بریالی او خوږې کیسې را نقلوي.[٥] خان د «اسلامي اقتصاد» پر ځای د «اسلامي اقتصاد تدریس» وړاندیز کوي او وایي چې د اقتصاد د بدلون پر ځای یې باید خلک زده کړي.[٦] د بېلګې په توګه که دودیز اقتصاد د شتمنۍ د جوړښت او وېش په اړه خبرې کوي، نو د اسلامي اقتصاد تدریس کولای شي اخلاقي او دیني ارزښت ور زیات کړي. خان په پای کې زیاتوي چې «اسلامي اقتصاد» د دیني برخې په زیاتوالي سره د کپيټلېزم یو ډول دی.[٧] د اسلامي اقتصاد په یوه بله مهمه ارزونه کې، مالیزیایي ټولنپوه سید فرید الطاس وایي: د یوه مضمون په توګه «اسلامي اقتصاد» په لویدیځو معاصرو بحثونو کې واضح شوی، خو سیاسي اقتصادي تګلاره یې پیاوړې نه ده او یوازې له اخلاقي لیدلوري اقتصادي انسټیټیوټ نه مطالعه کوي.

١. ایمن ریدا، «اسلام او بازارونه،» د ټولنیز اقتصاد بیاکتنه ۷۱، نه. ۱ (۲۰۱۳): ۲۰–۴۳، https://doi.org/ ۱۰۸۰/۱۰,۷۶۱۷۵۲,۲۰۱۲,۰۰۳۴۶۷۶٤.

٢. ریدا، «اسلام او بازارونه،» ۲۰-٤۳.https://islamqa.info/en/answers/۱۳۰۹۲۰/ the-difference-between-zakaah-and-taxes-and-the-conditions-of -imposing-taxes.

٣. خان، په اسلامي اقتصاد کې څه غلط دي؟, xv.https:// www.econlib.org/land-taxes-the-return-of-henry-george/. .

٤. خان، په اسلامي اقتصاد کې څه غلط دي؟، ۲۰.https://dx.doi.org/ ۱۰,۲۱۳۹/ssrn.۳۳۶۸۲۹۲.

٥. خان، په اسلامي اقتصاد کې څه غلط دي؟، xv، ۳۷، ٤۹، ۵۲، ۵۷.

٦. خان، په اسلامي اقتصاد کې څه غلط دي؟, xv.

٧. سید فرید الطاس، «اسلام او د اقتصاد ساینس» د معاصر اسلامي فکر ملګری، ایډ. ابراهیم ایم ابو ربي، (اکسفورډ: بلیک ویل، ۲۰۰۶)، ۵۸۷-۶۰۶.

## ایا زموږ عصریتوب شاته ګرځي؟

په ټوله کې اسلامي فقهې، په ځانګړې توګه پر دې بنسټ جوړو شوو اقتصادي تګلارو تل د اغېزمن او ازاد بازار چې پکې د دولت لاسوهنه محدوده وي پلوي کړې. که څه هم ما مخکې ورته اشاره وکړه په دې اړه د بېلابېلو مذهبونو تر منځ فکري توپیر شته، خو زه په دې فکر یم چې دودیز اسلامي فقهاء له معاصرو هغو څخه د یوې تاریخي پېښې «استعمار» په واسطه بېل شوي. د «اسلامي اقتصاد» پدیده د شلمې پېړۍ زېږنده ده، څه وخت چې ډېری اسلامي هېوادونو خپلواکي واخیسته او یا یې هم د غرب په واسطه ماتې وخوړه. پر دې بنسټ ډېری اسلامي اقتصاد پوهان ورته بېلابېل غبرګونونه ښیي او دا غبرګونونه د اسلامي سوسیالېزم او اسلامي کپیټلېزم د رامنځ ته کېدو سبب ګرځېدلي، په داسې حال کې چې په دودیزو اسلامي فقهاوو کې داسې اصطلاحات نه وو. پر دې بنسټ موږ ته مهمه ده، هغه اقتصاد وپېژنو چې پخوا پېژندل شوی و، ترڅو په تاریخي توګه د هغو پراختیاوو په اړه پوه شو چې د عامه تګلارې سرچینه یې دین وي. د پاکستان په څېر هېواد کې چې اساسي قانون یې د شریعت په محدوده کې ترتیب شوی، پورته تحلیل خورا مهم ګڼل کېږي.

د شریعت په رڼا کې د ټولو اقتصادي تګلارو د بازار په اړه ښودل شوي تحلیلونه په بازار کې په نه مداخلې راڅرخېږي، دوی بازار ازاد ګڼي او د حکومت لاسوهنه په کې محدوده بولي. له شک پرته چې اسلام د مهربانۍ او شفقت دین دی، خو دغه مهرباني او شفقت رضاکارانه او اخلاقي بعد لري؛ کنه د نبي کریم (ص) له مکې څخه مدینې ته د هجرت پر مهال د هغه ځای خلکو د اسلامي ورورولۍ پر بنسټ مهاجرینو ته د خپلو نیمایي کورونو او مرستو ورکړه به قانوني ګرځېدلې وه او دې قانون به داسې ویل چې هر اضافي څیز باید خپل مسلمان ورور ته ورکړل شي.

پـر دې بنسـټ دا وروروليي جـبري نـه بلکـې رضاکارانـه ده.[1] لکـه څنگـه چـې مخکـې د شـتمنۍ جوړښـت تـه اشـاره وشـوه، پـه قـران کریـم کـې د اقتصـادي معاملاتـو بنسـټیز اصـول رضاکارانـه کړنـې او سـپما دي: يَـا أَيُّهَـا الَّذِيـنَ آمَنُـوا لَا تَأْكُلُـوا أَمْوَالَكُـم بَيْنَكُـم بِالْبَاطِـلِ إِلَّا أَن تَكُـونَ تِجَـارَةً عَـن تَـرَاضٍ مِّنكُـمْ ۚ وَلَا تَقْتُلُـوا أَنفُسَـكُمْ ۚ إِنَّ اللَّـهَ كَانَ بِكُـمْ رَحِيـمًا (۴:۲۹)

ژبـاړه: اې هغـو کسـانو چـې ایـمان مـو راوړی (یعنـې اې مومنانـو!) مـه خـورئ تاسـې مالونـه د یـو او بـل پـه خپلـو منځـو کـې پـه نـاروا سره! خو (خـورئ یـې) پـه خوښـۍ سره کـه وي دا مالونـه د سـوداگرۍ.

قـران کریـم فرمایـي هـر هغـه څـه چـې څـوک لاسـته راوړي یـا بـه یـې د خپلـې هڅـې پایلـه وي او یـا هـم د الله تعالـی فضـل، پـه دې اړه قرانکریـم فرمایـي: وَأَن لَّيْـسَ لِلْإِنسَـٰنِ إِلَّا مَـا سَـعَىٰ

ژباړه: او بلـه دا چـې نشـته هیـڅ انسـان لـره خـو (جـزا د هغـه شي) چـې فعـل یې کـړی.

همدارنگـه اللـه تعالـی فرمایـي: لِيَجْزِيَهُـمُ ٱللَّـهُ أَحْسَـنَ مَـا عَمِلُـوا۟ وَيَزِيدَهُـم مِّـن فَضْلِـهِۦ ۗ وَٱللَّـهُ يَـرْزُقُ مَـن يَشَـآءُ بِغَـيْرِ حِسَـابٍۢ (۲۴:۳۸)

ژبـاړه: لـه پـاره د دې چـې جـزا ورکـړي دوی تـه الله (ج) ډېـره غـوره جـزا، د هغـو عملونـو چـې کـړي دي دوی او زیـات بـه کـړي اللـه تعالـی دوی تـه لـه فضلـه خپـل او اللـه تعالـی رزق ورکـوي هـر چاتـه چـې اراده وفرمایـي (د رزق ورکولـو) بـې لـه حسـابه (ډېـره).[2]

۱. لاندې بحث وگورئ. ۲،۲، «د شتمنۍ جوړول.»
۲. قران، ۳۲:۱۶.

## اقتصادي خپلواکي، ټولنيز عدالت تضمينوي

مـوږ د اقتصـادي خپلواکـۍ او ټولنيـز عدالـت تـر منـځ فکـري اختـلاف پـه دوه برخـو کـې تشريـح کـړ: د بيـو د کنټـرول پـه برخـه کـې لومـړی پـه عمومـي توګـه او دوهـم پـه ځانګـړې توګـه. د اسـلامي سرچينـو پـه رڼـا کـې شريعـت د يـوې وړ سـيالۍ او اخيسـتونکي د سـاتنې پلـوی دی، خـو ښـکاري چـې د معـاصر «اسـلامي اقتصـاد» تـګلاره پـر بـل لـور ده. لـه يـو شـو مخالفـو نظرونـو پرتـه د «اسـلامي اقتصـاد» تمرکـز پـر دې دی چـې د شـتمنۍ جوړونـې پـر ځـای، غربـت راکـم کـړي، د بيـو پـر ځـای د عايـد سرچينـې ډېـرې کـړي، د بـازار پـر ځـای د حکومـت رول مشـخص کـړي. اللـه تعالـی پـه قرانکريـم کـې فرمايـي، پـه اسـلام کـې زور زياتـی نشـته او مـوږ پورتـه يادونـه وکـړه چـې اسـلام لـه سياسـت او اقتصـاد څخـه نـه بېلېدونکـی دی، ويـلای شـو چـې: «پـه سـياسي بيعـت کـې اجبـار نشـته او همدارنګـه پـه سـوداګريزو راکـړو ورکـړو کـې اجبـار نشـته».

دواړه انګېرنـې لـه پخـوا د مسـلمانانوپه منـځ کـې وې. کلـه چـې عبـاسي کورنـۍ نسـکوره او امويـان واکمـن شـول، غوښـتل يـې بيعـت تـر لاسـه کـړي، خـو ډېـری مسـلمانانو او علـماوو پـر دې ورسره مخالفـت وکـړ چـې پـه اسـلام کـې پـه جبر او زور سره بيعـت نـاروا دی. همدارنګـه د علـماوو عمومـي حکـم دا دی چـې هرکلـه يـو څـوک د مـال پـه خرڅولـو مجبـور شـو، د قانـون لـه مخـې دا پلـورل باطـل دي. خـو د يادولـو وړ ده چـې اسـلام پـه ځينـو حالاتـو کـې مسـلمانان اړ کـړي دي. د اسـلام لومـړي خليفـه حـضرت ابوبکـر صديـق (رض) د هغـو مسـلمانانو پـر وړانـدې د جهـاد امـر وکـړ چـې ذکات پـرې فـرض و، خـو نـه يـې ورکاوه. دا د هغـو عهدونـو پـر نسـبت چـې مسـلمانانو د نبـي کريـم (ص) د ژونـد پـر مهـال ورسره کـړي وو يـو اسـتثنايي حالـت دی. د يادولـو وړ ده چـې د محمـدي اخلاقـو ځانګړتيـا د جبر او زور پـر ځـای ښـه خـبره او نرمـي وه. ځکـه د هغـه اصـلي موخـه د انسـانانو ابـدي ژغورنـه وه، نـو دا يـوه بريالـۍ تـګلاره وه. پـه دې اړه د هغـه د ژونـد پـه دوران کـې بېلابېلـې بېلګـې شـته. پـه بـازار کـې د بيـو پـه اړه د هغـه پـه نظـر مخکـې لـه مخکـې پوهېـږو چـې فرمايـلي يـې دي:

«زه هیله لرم په داسې وخت کې د الله تعالی دربار ته لاړ شم چې هیڅ یو له تاسې را باندې د وینې او شتمنۍ د بې عدالتۍ پور ونلرئ» (ترمذي، حدیث شمېره. ۱۳۱۴).[1]

همدارنګه اسلامي اقتصاد د یوه خیالي «مسلمان کس» د فرضیې پر بنسټ چې هڅې یې تر عادي وګړو توپیر لري جوړ دی. دغه اثر داسې یو سېستم وړاندې کوي چې د بازار او پلان له مخې اقتصاد ته دیني حل لاره لري. د اقتصادي خپلواکۍ او ټولنیز عدالت تر منځ فکري توپیر د یو منځلاري بازار محوره او معاصر متحوله فکر په واسطه بدل شو. هېڅوک باید هېر نه کړي چې اسلام د داسې یو پیغمبر په واسطه راغلی چې د ژوند شل کاله یې په سوداګرۍ کې تېر کړل او د عاید له هرو لسو سرچینو څخه یې نهه له سوداګرۍ څخه وې. شریعت اقتصادي او ټولنیز عدالت ته ژمن دی. اسلام د خیریه کړنو امر د جبر په نشتون، د خپلواکۍ او انتخاب په حق پورې تړلی. داسې خیریه کړنې حکومت نه، بلکې له بریالیو او په ځان بسیا افرادو څخه چې د نورو ښېګڼه غواړي لاس ته راځي.

۱. البخاري، محمد ب. اسماعیل ته، صحیح البخاري (دمشق او بیروت: دار ابن کثیر، ۲۰۰۲، ۳۵۸.

## دوهمه ضمیمه

## اسلام او کپیټلېزم، د مودودي لرلید ته بیا کتنه

د اسلام او اقتصاد په اړه د اسلامي اقتصاد پوهانو نظر دا دی چې اسلام د دوه بېلابېلو نظرونو کپیټلېزم چې د شخصي پانګونې له مخې ولاړ دی او سوسیالېزم چې د شخصي پانګونې خلاف دی تر منځ منځنۍ لاره غوره کړې. په دې اړه دواړه دودیز او معاصر اقتصاد پوهان همغږي دي. هغوی چې د «اسلامي سوسیالېزم» او «اسلامي کپیټلېزم» غبرګ پورته کوي ډېر محدود دي. سربېره پر دې، موږ ولیدل چې د عاید د نابرابرۍ او مرکزي پلان نیونې پر ځای د بیو خپلواکي، د ملکیت حقوق او تیټه مالیه د اسلامي اقتصاد د خبرو سرټکي ګرځېدلي. دا لومړیتوب د کپیټلېزم په اړه د ناپوهۍ له امله دی.

د «اسلامي اقتصاد» په اړه خبرې اترې د پېژندل شوي پاکستاني عالم، د جمعیت اسلامي بنسټګر او د اسلامي اقتصاد په اړه مشهور لیکوال سید ابوالعلي مودودي (ومړ. ۱۹۷۹) له وخت را په دېخوا ډېر تاوده شول. د نړۍ تر سلو ډېرو پوهنتونونو کې د اسلامي اقتصاد نننۍ بحث اتیا کاله مخکې د لومړي ځل له پاره مودودي معرفي کړ. د هغه په کور پاکستان کې د تعلیمي نظام، سیاست، اساسي قانون او تر یو څه اندازې د اقتصاد اسلامي کول مولانا مودودي ته منسوب دي.

مودودي په ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰مو کلونو کې د شخصي ملکیت، سود او ځمکې د اصلاح په اړه بې شمېره لیکنې وکړې. د نوموړي لیکنې په اردو ژبه خپرېدونکې مجله (معیشت اسلام) کې خپرېدې چې بیا د ۲۰۰۸م کال له نړیوال مالي کړکېچ وروسته په انګلیسي ژبه «د اسلامي اقتصاد لومړني اصول» تر عنوان لاندې خپرې شوې.[1]

---

۱. په دې اړه اخځلیکونه او وړاندیز وګورئ.

خو پېژندل شوي اقتصاد پوه خورشید احمد بیا مودودي له ادم سمیت او کارل مارکس سره پرتله کوي او وايي چې دغه دواړه فکري نابغه ګان اقتصاد پوهان نه وو.[1]

سربېره پر دې، د نوموړي د لرلید پر بنسټ هغه د «اسلامي اقتصاد» له مهمو بنسټګرو څخه دی، نو موږ باید د هغه نظر ته بیا کتنه وکړو. موږ به د مودودي د ځمکې د اصلاحاتو، سود او یا هم ذکات موضوع ګانو په اړه خبرې ونه کړو، بلکې د کپیټلېزم په اړه به د هغه لرلید ته اشاره وکړو. د هغه د کتاب «د اسلامي اقتصاد لومړني اصول» په درېیم فصل کې د کپیټلېزم او اسلام تر منځ توپیر کې وايي، باید اجازه ورنه کړل شي چې شتمني دې ټوله شي. نوموړی لیکي: «په لویه پیمانه سپما او د بیا پانګونې له پاره له همدې سپما استفاده کول د کپیټلېزم بنسټ جوړوي»[2] هغه په دې ټینګار کوي چې شتمني باید د را ټولولو پر ځای ولګول شي. هغه زیاتوي چې د اسلام او کپیټلېزم تګلاره یو له بل سره ډېر توپیر لري: «کپیټلېسټ فکر کوي، د پیسو په لګښت به یې پانګه کمه شي، خو په همدې ساتلو هغه شتمن کېږي» (٦٨). د هغه استدلال دا دی چې «شتمني په لګولو کمېږي نه بکلې زیاتېږي. سود د ګټې پر ځای د زیات توان سبب ګرځي»(٧٠). پر دې بنسټ د یو بل څه وړاندیز کوي چې دی یې «بیخي نوې تیوري» بولي. له دې وروسته مودودي ذکات ته اشاره کوي چې هر کال له ټاکلې اندازې سره سم د مسلمانانو له شتمنۍ ورکول کېږي. هغه لیکي: «اسلام او کپیټلېزم له یو بل سره په یو نازک تقابل کې قرار لري» داسې چې کپیټلېزم وايي، پیسې باید وساتل شي، خو اسلام د پیسو د عادي جریان امر کوي. «په کپیټلېزم کې د شتمني بدلېدل منعه دي، خو په اسلام کې منعه نه دي».(٧٥). هغه د دې پوښتنې په ځواب کې هېڅ نه وايي چې که ځینې خلک «خپل سطلونه مفت ډکوي» ولې کار وکړي؟

---

١. ادم سمیت (ومړ. ١٧٩٠) یو سکاټلنډی فیلسوف و چې د خپلو پېژندل شوو لیکنو د طبیعت په اړه پلټنه او د ملتونو د شتمنۍ لاملونه (١٧٧٦) له امله د اقتصا د پلار په نامه یادېږي. کارل مارکس (ومړ.١٨٨٣) یو جرمني ټولنپوه او فیلسوف و چې په ١٨٤٨ م کال یې د (کمونېست ګوند منشور) او درې ټوکه ( شتمني: د سیاسي اقتصاد یو نقد؛ ١٨٩٥،١٨٨٥،١٨٦٧) لیکلي.
٢. مودودي، د اسلامي اقتصاد لومړي اصول،٦٧.

او ولې هغه خلک چې کار ترسره کوي شتمني یې ترې واخیستل شي؟همدارنګه، مودودي د اسلامي اقتصادي سېستم د اخلاقي اصولو او قوانینو یو لېست خپور کړی (٦١). تر ټولو مهم یې د ژوند کولو له پاره د حلالو او حرامو تر منځ توپیر دی، ځکه چې اسلام خپلو پیروانو ته عاید ګټلو او اقتصادي کړنو ترسره کولو له پاره محدودیت ټاکلی او له خپلې خوښې سره سم کړنې نشي ترسره کوی. د مودودي له خبرو سره سم حرامې کړنې، رشوت، اختلاس، په امانت کې خیانت، له یتیمانو سره ناوړه چلند، په معامله کې درغلي، جنسي سوداګري، فحشا، الکولي مشروبات، قمار، شرط، د بتانو سوداګري او سود شامل دي (٦٣-٦۴). بله برخه یې د میراث قانون، غنیمت، د عاید وېش او اقتصادي برابری ته ځانګړې شوې چې دلته پرې له بحث تېرېږو. د کپیټلېزم په اړه د مودودي نقد په لاندې توګه تشرېح کېدی شي: کپیټلېزم په سېما ولاړ یو اقتصادي سېستم دی چې د همدې سېما په پایله کې پانګونه کوي او شتمني ترلاسه کوي، په دې پروسه کې سود رغنده ارزښت لري.

دغه کړنې په ترسره کولو شتمني د محدودو کسانو لاسونو ته ورځي او د نابرابرۍ او بې عدالتۍ لامل ګرځي. مودودي د اقتصادي سازمانونو په اسلامي اصولو کې د شتمنۍ د ترلاسه کولو یوازینۍ لار ذکات بولي. که یې ډېر ساده کړو، مودودي کپیټلېزم د شتمنۍ له راغونډولو او «اسلامي اقتصاد» د شتمنۍ وېش سره برابر کړی، خو په دواړو حالاتو کې مودودي یوه مهمه پوښتنه بې ځوابه پرېښې هغه داسې چې: شتمني څنګه ترلاسه کېږي؟ په معاصر وخت کې په سېما ولاړه د شتمنۍ راټولولو تیوري د توماس پکیټي په کتاب (په یوویشتمه پېړۍ کې شتمني) کې واضح شوې ده.[1] د پکیټي څېړنه عیني پایله ښيي: د اقتصادي پرمختګ په نسبت د شتمنۍ د مالکینو د پرمختګ سرعت ډېر دی چې د نابرابرۍ سبب ګرځېدلی دی، خو د پکیټي دغه تیوري د شتمنۍ/ عاید د راټولولو د سلنې په اړه د هغه د مبالغې پر بنسټ له ننګونو سره مخ دی.

١. توماس پکیټي، په یوه شتمنه پېړۍ کې شتمني، Arthur Goldhammer (Cambridge, MA: Belknap Press of Harvard University Press, ٢٠١٤).

لـه اسـلام او کپیټلیـزم څخـه د مـودودي پـه تفسـیر کـې خـورا زیاتـې سـتونزې دي. ډېـرو تـه بـه ښـکاره وي چـې شـتمني یـوازې لـه سـپما او پانګـه اچونـې لاسـته نـه راځـي. پـه حقیقـت کـې ښـکاري چـې مـودودي د برېتانـوي اقتصـاد پـوه جـان مینـارد کینـز لـه لیکنـو متاثـر شـوی دی. پـه ټولـه کـې سـپما مهمـه ده، خـو د شـتمن کېـدو لـه پـاره کـه هغـه پـه فـردي توګـه وي او یـا هـم د ملـت پـه کچـه وي کافي نـه ده.[۱]

کـه غـرب د پرمختـګ نمانځنـه کـوي، د مسـلمانانو غبرګونونـه پـه لویـه کچـه ورتـه پـه یـوه او بلـه بڼـه د دودونـو نمانځل دي. پـر دې بنسـټ، اسلامي علـماوو او پوهانـو د راکـړې ورکـړې د پـلي کېـدو پـه اړه د پوهـې او لارښـووني لـه پـاره شـاته وخـت تـه ور ګرځـي ترڅـو یـې لـه غـرب سره تاریـخ وګـوري او لـه اسـلامي قانـون سره یـې چلنـد لـه منځـه یـوسي. د مـودودي پـه انـد، معـاصر فقهـاء د معاملاتـو د تاییـد او حـل لـه پـاره پـه کلاسـیکه فقـه کـې د اختلافاتـو لـه کبلـه لـه تلفیـق، تتبع رخـص او حیـال څخـه ګټـه اخـلي.

کـه څـه هـم پـه دې اړه تاریخـي غبرګونونـه شـته، خـو ډېـری همـدا فقهـاء، د نـوو فقهـاوو لـه پـاره روا نـه بـولي چـې لـه پورتـه لارو ګټـه واخیسـتل شي، دوی یـې د نـوو فقهـاوو لـه پـاره جایـز نـه ګڼـي ځکـه دوی بـه « عجیبـه پرېکـړې » وکـړي، کومـې چـې قـران منعـه کـړې دي.[۲] کـه څـه هـم ډېـری علـماء پـه اسـلامي اقتصـادي او مـالي چـارو کـې د اوسـنیو سـتونزو لـه پـاره لـه دې «انطباقـي فقهـي» ګټـه اخـلي، لـړو یـې جـرات کـړی داسـې شرایـط برابـر کـړي چـې پـه کـې یـو فـرض شـوی (اسـلامي) اقتصـادی سیسـتم وده وکـړي، داسـې یـو نظـم چـې بنسـټ یـې د بـاور وړ پـولي واحـد وي.

---

۱. مـصری اقتصـاد پـوه محمـود اې. الجـمال معـاصر پـه خپـل کتـاب اسـلامي مـالي چـارې: قانـون، اقتصـاد او عمـل کـې اسـلامي اقتصـاد د «شـکل» او «منـع محـوره» پـه توګـه توصیفـوي. islamic Finance: Law, Economics, and Practice (Cam-bridge: Cambridge University Press, ۲۰۰٦).

۲. د تلقیـق، تتبـع رخـص او حیـال پـه توګـه د بېلابېلـو نظرونـو لـه پـاره محمـد امنـو البوطـابي وګـورئ، «المقبـول والمـردود مـن تطابـوی الرخـاص و التلفیـق بینـا. المذاهـب» [بـه عربـی]، مجلـل المذهـب المالکـی (۲۰۰٦): ٦۱-۱۰۳.

مودودي د اقتصادي ودې له پاره نوښت ته پاملرنه نه ده کړې، هغه په دې اند و چې دا د شتمنۍ د تر لاسه کولو له پاره بنسټیزه لار نه ده. اسلامي تاریخ د نبي کریم (ص) د وخت بېلابېلې بېلګې بیانوي چې صحابه وو بریالۍ سوداګري ښنګه کوله، په داسې توګه چې دوی له یوې تونټې غالۍ پیل کړی و.

یوه غوره بېلګه یې عبدالرحمن بن عوف دی چې مدینې ته تر هجرت ښو کاله وروسته یې د اوو سوو اوښانو کاروان درلود. په دې اړه حدیث فرمایي: صادق او رښتیا ویونکی سوداګر به له محمد (ص)، رښتیا ویونکو او شهیدانو سره یو ځای را پورته کېږي، (الترمذي، حدیث نمبر.۱۲۰۹) [1] ریښتیا ویونکی سوداګر د اسلام له پاره د پیغمبر په څېر د اهمیت وړ دی.

---

۱. الترمذي، جامعه الترمذي، د سوداګرۍ کتاب، accessed on March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah. ۱٤/com/tirmidhi (This hadith is considered daif (weak in terms of authenticity).

## غامدي: د محدود حکومت له پاره دیني څېړنه

په بېلابېلو حالاتو کې جاوید احمد غامدي له مولانا مودودي سره خلاف دی. د پاکستان په پنجاب کې زیږېدلی، غامدي یو دودپاله اسلامي عالم دی چې لومړی زدکړې یې له مودودي کړې دي او ویل کېږي چې په ځوانۍ کې دوهم مودودي بلل کېده، ترڅو چې له مودودي سره د فکري اختلافاتو له امله له جمیعت اسلامي و ویستل شو.

غامدي له خپل دوهم استاد پېژندل شوي عالم او د تدبر قران تفسیر لیکونکي امین احسان اصلاحي (ومړ. ۱۹۹۷) څخه په زده کړې په ۱۹۷۰ کال د قرانکریم د تفسیر له پاره بېله تګلاره غوره کړه.[۱] غامدي د خپلې فکري ودې له پاره په لاهور کې د الموارد په نوم انسټیټیوټ لري چې پکې ډېری څېړونکي د هغه د فکر په زده کړې بوخت دي.[۲] هغه په یوه دودیزه اردو ویونکې پاکستانۍ ټولنه کې پېژندل شویویناوال او اسلامي عالم دی. په ۲۰۰۸م کال غامدي د طالبانو له وېرې د پاکستان پرېښودو ته اړ شو، ځکه دی په دې اند و چې جهاد هغه وخت جایز دی چې د یو رسمي حکومت تر ارادې او واک لاندې وي. له دې وروسته هغه نهه کاله په مالیزیا کې د خپل فکر د ودې له پاره په لیکلو تېر کړل او په ۲۰۱۸ م کال امریکا ته لاړ چې اوس هم هلته مېشت دی. د غامدي ډېری مخالفین دودیز علماء دي.[۳] د غامدي (ب. ۱۹۵۱) په اند اسلامي اقتصادي ماډل پنځه بنسټیز عناصر لري: د شخصي ملکیت حقونه، د غصب کنټرول، په طبیعي شتمنۍ ملي کنټرول او د میراث په اړه د اسنادو او شواهدو د شتون تر څنګ د هغه وېش.[٤]

۱. امین احسان اصلاحي، تدبر قران: په قران کې فرک کول. محمد سلیم کیاني، دوهم ټوک (Kuala Lumpur, Malaysia: Islamic Book Trust, ۲۰۰٦–.) په اردو ژبه د ژباړې له پاره اخځلیک وګورئ.

۲. د الموارد په اړه د زیاتو مالوماتو له پاره وګورئ، http://www.al-mawrid.org/.

۳. د جاوید احمد غامدي په اړه د نورو مالوماتو له پاره وګورئ، https://www.javedahmedghamidi.org/.

٤. جاوید احمد غامدي، اسلام: یوه پراخه پېژندنه [an English rendering of Mizan; citations in Arabic], trans. Shehzad Saleem (Lahore, Pakistan: Al-Mawrid, ۲۰۱۰), ٤٦٥–٦٦.

د هغه استدلال دا دی چې د اسلامي اقتصاد یاد شوي عناصر له قرانکریم څخه را اخیستل شوي. خو زه په دې اند یم چې یو اقتصادي سیستم باید دې درې بنسټیزو پوښتنو ته ځواب ولري:

څوک د څه شي مالک دی؟

شتمني څنګه جوړېږي؟

شتمني څنګهووېشل شي؟

ما د اقتصادي چوکاټ د تعریف له پاره پورته پوښتنې په نظر کې نیولې دي.

د اقتصادي تګلارې بنسټیزه پوښتنه دا ده چې څوک د څه شي مالکیت لري. په هغه ټولنه کې چې هرڅه د حکومت په واک کې وي د خلکو له پاره د شتمنۍ جوړښت له ستونزو ډک وي، ځکه دوی واک نه لري. همدارنګه که هرڅه شخصي ملکیت شي، په ټولنه کې به د حکومت ارزښت او د واک دایره محدوده وي. اسلامي فقه د مالکیت دوه اصله بښیي: شخصي ملکیت او عامه ملکیت. عامه ملکیت یې بیا په دوه نورو برخو د حکومت او د ټولنې په ملکیت وېشلی دی. د اسلامي اقتصاد په بحثونو کې یو له ډېرو تکراري موضوعاتو د طبیعي زېرمو مالکیت دی چې د شتمنۍ د جوړولو له پاره لومړنۍ سرچینې بلل کېږي او په ټولنه کې د زېربناوو د پراختیا لامل ګرځي. په نړیوال اقتصادي نظم، نړیوالو کړکېچونو او جیوپولیټکس کې که څه هم تېلو ته تر نورو طبیعي زېرمو ډېر لومړیتوب ورکول کېږي، خو نورې طبیعي زېرمې لکه اوبه هم بنسټیزې زېرمې دي. د «اسلامي اقتصاد» په اړه د اس. ام. یوسف (ب.۱۹۱۶) علمي مقالې په اسلام کې د اقتصادي برابرۍ پر بنسټ د یوه اقتصادي سیستم تر ټولو بنسټیزه برخه د شتمنۍ جوړښت دی.[۱]

۱. یوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت، (New Delhi: Kitab Bhavan,۱۹۸۸)، ۵.

هغـه زیاتـوي اسـلام لـه کـوم محدودیـت پرتـه ټولـو تـه لـه طبیعـي زېرمـو د اسـتفادې واک ورکـړی او پـه دې اړه اسـلامي علـماء یـو واحـد نظـر لـري. لـه طبیعـي زېرمو د اسـتفادې پـه اړه قرانکریـم فرمایـي: اللـه تعالـی هغـه ذات دی چې پیـدا کـړي یـې دي اسـمانونه او ځمکـه، نازلـې کـړې یـې دي لـه اسـمانه اوبـه، را ویسـتلي یـې پـه دې اوبـو سره هـر قسـمه مېـوو څخـه رزق تاسـې تـه او تابـع کـړي یـې دي تاسـې تـه بېـړۍ لـه پـاره د دې چـې گرځـئ پـه سـیند کـې د اللـه تعالـی پـه حکـم او گرځـولي یـې دي تاسـې تـه ویالـې او مسـخر کـړي یـې دي تاسـې تـه لمـر او سـپوږمۍ پـه داسـې توگـه چـې گرځېدونکـي دي لـه دسـتور سره برابـر او مسـخر کـړي یـې دي تاسـې تـه شـپه او ورځ او درکـړي یـې دي تاسـې تـه ځینـې لـه هـر شي چـې سـوال کـړی تاسـې، نـو کـه وشـمېرئ نعمتونـه د اللـه تعالـی؛ نـو وبـه نـه شـئ شـمېرلی دا نعمتونـه د اللـه (تـر اخـره پـورې)، بېشـکه انسـان لـوی ظـالم او ناشـکره دی. ۱۴:۳۲-۳۴ د یوسـف لـه پورتـه ذکـر شـوې خـبرې سره ټـول علـماء پـه یـوه نظـر دي چـې لـه طبیعـي زېرمـو اسـتفاده لـه کـوم محدودیـت پرتـه د ټولـو انسـانانو حق او پـه دې اړه لانـدې حدیـث مصـداق گرځـوي. مسـلمانان پـه دریـو څیزونـو کـې گـډ حق لـري: وابـه، اوبـه او اور (سـنن ابي داود، د اسـتحقاق کتـاب، حدیـث نمـبر.۳۴۷۷) [1] همدرانگـه مولانـا مـودودي وایـي، هـره طبیعـي ډالـۍ (هـوا، روښـنایي، گرمـي، اوبـه او معدنیـات) د ټولـو حـق دی تـر هغـه چـې شـخصي ملکیـت نـه وي. [2] یوسـف زیاتـوي چـې ټولـې طبیعـي زېرمـې کـه هغـه د ځمکـې پـه سر یـا یـې لـه تـل څخـه را ویسـتل کېـږي عامـه ملکیـت بلـل کېـږي. [3] خـو بـل لـور تـه پـه دې اړه د نظرونـو اختـلاف هـم موجـود دی، محمـد هاشـم کـمالي (ب. ۱۹۴۴) پـه دې نظـر دی، هـر هغـه طبیعـي زېرمـې چـې پـه شـخصي ملکیـت کـې پیـدا کېـږي عـام ملکیـت نـه شـمېرل کېـږي بلکـې د هغـه شـخص بلـل کېـږي. [4]

۱. ذکـر شـوی حدیـث پـه ډېـرو حالاتـو کـې لـه www.Sunnah.com وېبپاڼـې اخیسـتل شـوي چـې ډېـره بـاوري او غـوره وېبپاڼـه بلـل کېـږي.
۲. مولانا مودودي ، د اسلامي اقتصاد لومړي اصول (Leicester: Islamic Foundation, ۲۰۱۱), ۸۳.
۳. یوسف، په اسلام کې اقتصادي عدالت، ۳۰.
٤. محمـد هاشـم کـمالي، اسـانه مقصـد الشریعـه، پرلیکـه مقالـې ۱۳ (London: International Institute of Islamic Thought, ۲۰۰۸), https://doi.org/۱۰,۲۳۰۷/j.ctvkc۶۷vz.

د طبیعي زېرمو د مالکیت د بدلون په اړه په حدیثونو کې ډېرې په زړه پورې واقعي راغلې دي. عبید د الله ج رسول (ص) ته ورغی او د مالګې د کان غوښتنه یې ترې وکړه (پر دې مهال روایت کوونکی ابن المتوکل په معارب کې و) او نبي کریم (ص) هغه د کان د مشر په توګه وګماره، خو په مجلس کې یو چا له نبي کریم (ص) پوښتنه وکړه: «ایا ته پوهېږي، هغه ته دې څه ورکړل؟ تا هغه ته د کلونو د پسرلي اوبو واک ورکړ. نو نبي کریم (ص) بېرته ترې واخیست». (ابوداود، کتاب الخراج، د حدیث نمبر. ۳۰۶۴) دغه حدیث د دوو ټکو ښکارندویي کوي: لومړی د طبیعي زېرمو شخصي ملکیت اجازه او بل لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه (واښه، اوبه او اور) د چا شخصي ملکیت نه شي کېدی. الأرض په قرانکریم کې ۴۵۸ ځلې یاد شوی خو په اړه یې اسلامي اقتصاد پوه اس.ام. حسن الزمان (ب. ۱۹۳۲) وایي چې د شخصي ملکیت په توګه نه دی راغلی. حسن الزمان زیاتوي، طبیعي زېرمې (د بېلګې په توګه.، الأرض( او شتمني (مال) یو له بل سره یو ډول دي. همدارنګه وایي چې طبیعي زېرمې د انساني هڅو په پایله کې په شتمنۍ بدلېږي نو کله چې انساني هڅې پکې شاملې شي، طبیعي زېرمې شتمني کېږي. نو د پورتني دلیل په رڼا کې داسې ښکاري چې اسلام شتمني شخصي ملکیت ګرځولې او ځمکه هم یو خدایي ملکیت دی. د نبی کریم (ص) کړنو د اسلامي نړۍ واکمن د ځمکې او د هغه د طبیعي زېرمو مالکان ګرځولي چې په اړه یې لاندې حدیث په تفصیل سره مالومات ورکوي.[1]

دا ځمکه د الله تعالی ده او عبادت کوونکي د الله تعالی عبادت کوونکي دي. که څوک بې ثمره ځمکه په حاصل لرونکې بدله کړي، د هغه واک او اختیار پرې ډېرېږي. (سنن ابوداود، حدیث نمبر. ۳۰۷۶) پورتنی حدیث پر ځمکه د الله تعالی د واک او انساني هڅو یادونه کوي.

۱. Hasan-uz-Zaman, Economic Functions of an Islamic State، ۳۱.

انساني هڅې له الله تعالی د ځمکې واک خپل ځان ته را اړولی شي. د ځمکې د واک په اړه قرانکریم فرمایلي دي: وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (۴۱).

ژباړه: او پوه شئ (اې مسلمانانو!) بېشکه هر هغه شی چې په غنیمت واخیست تاسې (له کفارو په غلبې سره) له یوه شي نه؛ نو بېشکه الله لره دی (حکم کول) په خمس د هغه کې او دغه خمس ثابت دی له پاره د رسوالله او له پاره د خپلوانو د (رسول الله او له پاره د یتیمانو او له پاره د مسکینانو، محتاجانو او له پاره د مسافرانو (او پاتې څلور برخې دي له پاره د غازیانو او صبر وکړئ پر دغه وېش، که ایمان لرئ په الله تعالی او پر هغو ایتونو چې نازل کړي دي مونږ پر بنده خپل په ورځ د پرېکړې (له حق او باطل څخه چې د بدر ورځ وه)، هغه ورځ چې سره مخامخ شولې دواړه ډلې، او الله (ج) پر هر شي ښه قادر دی. (۸:۴۱)[۱].

غامدي د ټول منلي اصل له پاره په پورتني ایت تفسیر کاږي: «هغه ځمکه او شتمني چې شخصي ملکیت نه وي او یا یې امکان نه وي چې د هغو ملکیت دې شخصي شي باید د حکومت په واک کې وي، ترڅو له یوه اړخه د حکومت اړتیاوې او له بله اړخه هغه ټولنې چې له دې شتمنۍ لیرې دي خپلې اړتیاوې پرې پوره کړي».[۲] د محمد (ص) د ژوند ځینې بېلګې هم بصیرت لري. د غامدي د میزان له مخې معلومېږي چې حضرت محمد (ص) په خپل وخت کې، د خیبر ځمکې د شریکو فصلونو له پاره ورکړې، ځینې ځمکې یې په دایمي ډول هغو کسانو ته ورکړې چې په نظر کې ورته نیول شوې وې.

۱. سنن ابو داود، شلم ټوک، حدیث نمبر .۳۰۷٦، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/abudawud/۲۰/۱٤۹.

۲. غامدي، اسلام، ٤٦٦

ځینې ځایونه یې د هیما (د څړ ځایونو) په توګه پرېښودل، ځینې ځیزونه یې ټولو ته د مساوي برخې اخیستو په توګه پرېښودل او د ویالو او پسرلي اوبو د ګټې اخیستنې له پاره یې د «نږدې نږدې ته» اصول وټاکل.[1] پر دې سربېره حضرت عمر (رض) چې کله د خپل خلافت پر مهال سوریه او عراق فتحه کړل نو د ځمکې په پخوانیو مالکانو یې یوه ځانګړې مالیه (خراج) وضعه کړل په داسې توګه چې ځمکې له پخوانیو خاوندانو سره پاتې شوې.[2] نبي کریم (ص) د فتحه شوو ځمکو د وېش له پاره د وخت او مکان په کتلو سره پنځه بېلابېل مېتودونه کارول.

د یادونې وړ ده چې طبیعت او ډالۍ یې تر هغه عامه ملکیت بللې چې له انساني هڅو لرې وي، کله چې له انساني هڅې وروسته په شتمۍ بدلېږي هغه عامه ملکیت نه شمېرل کېږي. د بېلګې په توګه اوبه وړیا دي، خو د لاسته راوړلو له پاره انساني هڅې ته اړتیا ده چې را ویې باسي، پاکې او تصفیه یې کړي او د استفادې له پاره یې تیارې کړي. د دې بحث د لا پراختیا له پاره باید د پاکو اوبو تصفیه کوونکې کمپنۍ د اوبو د پلور له پاره بیه وټاکي، ځکه په پاکولو یې لګښت راځي، نو پر دې بنسټ د نبي کریم (ص) هغه مصداق چې اوبه وړیا دي دلته نه پلې کېږي ځکه چې لګښت پرې راځي او د اوبو بیه هم همدې لګښت ته په کتو ټاکل کېږي. ځینې فقهاء د اقتا ( iqta) کلمه داسې بیانوي چې حکومت یوه ټوټه ځمکه د اجارې په ډول شخصي ملکیت ګرځوي، او په بدل کې یې ۲۰ سلنه د مالکیت حق ترې اخلي. دا کړنې پرته له دې چې د طبیعي زېرمو ملکیت ترلاسه شي د اوږد مهال سوداګرۍ له پاره لاره پرانیزي. یورتنیو بېلګو ته په کتو دا ډېره غوره ده چې د نبي کریم (ص) حدیث «اوبه، واښه او اور «عامه ملکیت ته اشاره وکړو.[3]

---

۱. غامدي، اسلام، ۴۷۰
۲. غامدي، اسلام، ۴۷۰
۳. د استرام د کار په اړه د نورو مالوماتو له پاره، د نوبل جایزې وېبپاڼه وګورئ، https:// www. ./ostrom/facts/۲۰۰۹/nobelprize.org/prizes/economic-sciences

همدارنګه په یاد ولرئ چې مالکیت ټولنې ته منسوب شوی چې باید د دولت په نامه ونه نومول شي. لکه څنګه چې موږ د چاپیریال ساتنې اقتصاد په اړه له معاصر بحث څخه، په ځانګړې توګه، د عامه شتمنۍ د مدیریت په اړه د نوبل جایزې له ګټونکې ایلنر استرم څخه پوهېږو چې له خصوصي او دولتي مالکیت څخه پرته یو اغېزناک ټولنیز مالکیت هم شته چې دا په اسلام کې د طبیعي زېرمو له مالکیت سره یو ډول دی.

بل لور ته، تر هغو چې شتمني له حلالې لارې لاس ته راځي شریعت دواړو ورل کېدونکي او ثابت شخصي ملکیت ته د ګټې اخیستنې حقوق ټاکلي. د شتمنۍ حقوق په بېلابېلو برخو لکه ځمکه، د اوسېدو ځای، پانګه، وسایلو او نورو وېشل شوي. پېژندل شوي عالم مصطفی الزرقا ملکیت داسې تعریفوي: د شریعت په رڼا کې مالک ته د خپلې شتمنۍ د ګټې اخیستنې واک تر هغو چې پرې قانوني محدودیتونه نه وي.[1] هاشم کمالي په دې باور دی چې په دې تعریف کې موخه او د مالکیت حقوق واضح شوي هغه زیاتوی ټولنیز مالکیت په درې ډوله دی: لومړی یې د بېلګې په توګه عامه مکتبونه، سړکونه، سیندونه او روغتونونه دي چې شخصي ملکیت نه شي ګرځېدی. دوهم هغه یې ځنګلونه، خاره ځمکه او په اسانه ګټې اخیستونکې طبیعي زېرمې دي.[2] او دریم هغه یې د فتوحاتو په پایله کې د ځمکې نیونه که څه هم عمر بن خطاب (ډي. اې ایچ ۲۳/ اې ډي ۶۴۴) تر مالیې وروسته د هغه واک بېرته اصلي مالک ته سپارلی.[3] اسلام د شرعي اصولو پر بنسټ د شخصي شتمنۍ ساتنه کوي. د دې خوندیتوب غوره بېلګه ان تر استعماري دورې پورې د وقف (خیریه بنسټونو) موجودیت و.

۱. کامالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، کولالامپور مالېزیا: د اسلامي مطالعاتو نړیوال انسټیټیوټ؛ Petaling Jaya, Malaysia: Ilmiah Publishers, ۲۰۱۳, ۲۵۹.
۲. کامالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت،۲۳.
۳. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۶۷-۶۸.

دغه بنسټونه شخصي ملکیت و خو تر خپلواکۍ وروسته په عامه ملکیت بدل شول او یوازې د دیني کړنو او تدریس له پاره یې ګټه ترې واخیسته. پر دې بنسټ د اسلامي ټولنې په ټولنیزه او اقتصادي بیارغونه کې شخصي ملکیت په ملي هغه بدل شو.

د شخصي ملکیت په عامه هغه بدلېدو په اړه نامتو علماء د بېلګې په توګه هاشم کمالي وایي، نبي کریم (ص) په مدینه منوره کې یو شخصي ملکیت د اسونو په څر ځای بدل کړ او همدارنګه حضرت عمر (رض) د جهاد د هغو اسونو له پاره چې شخصي ملکیت و دوه څر ځایونه وټاکل.[1] په ټولنه کې د اقتصادي برابرۍ او ټولنیز عدالت د رامنځ ته کېدو له پاره په ۱۹۶۴م کال د کایرو الازهر اسلامي څېړنیزې اکاډمۍ هم ملي کول یو غوره اصل وګاڼه.[2] خو د یادونې وړ ده چې هره شخصي شتنمي عامه ملکیت نه شي ګڼل کېدی تر هغې یې چې د قانون خلاف کړنې نه وي ترسره کړې. په شلمه پېړۍ کې د ملي کولو پروسې چې اسلامي نړۍ یې ولکه کړه په حقیقت کې د خلکو د شخصي شتمنیو د محرومیت هغه حقوق چې اسلام ورکړي وو تر پښو لاندې کړل. په معاصر وخت کې یوه مهمه موضوع د ځمکې ساتنه ده، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې، هغه دا چې ځمکه تر اخیستل کېدو وروسته د پراختیا له کوم پلان پرته هغه د یوې مودې له پاره ساتل کېږي. له پورتنیو بحثونو ښکاري چې اسلام د ځمکې د ساتلو خلاف و په ځانګړي ډول چې ځمکه به تر اخیستل کېدو وروسته د بیو د پورته کېدو له پاره ساتل کېده. همدارنګه به حکومت ته واک ورکول کېده، له شاړو ځمکو ګټه واخلي او مالیه پرې وټاکي. د مالکیت بحث مو دې پایلې ته رسوي چې د اسلامي نظریې له مخې مالکیت په بېلابېلو برخو وېشل شوی. طبیعي زېرمې عامه ملکیت دی، د پراختیا له پاره یې حکومت شخصي ملکیتونو (شرکتونو، کمپنیو) ته د شرطونو په رڼا کې د یوه ټاکلي وخت له پاره ورکولای شي.

---

۱. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۸۹-۹۰.
۲. کمالي، په اسلام کې د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت، ۲۸۸-۹۰.

د شخصي او عامه ملکیت په اړه بحث کې د شتمنۍ جوړښت چې د انساني هڅو په پایله کې لاسته راځي یو بله اړینه موضوع ده. همدارنګه، شریعت د قانوني کړنو په رڼا کې له کوم محدودیت پرته د شتمنۍ پراختیا هڅوي.[1] د بازار په بیو کې تل د پلورونکو له پاره مناسبه اندازه ګټه وي، دغه د سوداګرۍ له پاره ښه لاره پرانیزي. د یادونې وړ ده چې د ګواښ اندازه له ګټې سره مساوي متناسبه ده. په دې ډول چې څومره د ګواښ اندازه ډېرېږي د ګټې اندازه هم ډېرېږي. نبي کریم (ص) د ګټې لوړه اندازه نه ده ټاکلې خو په راکړه ورکړه کې یې له عدل او اخلاقو د ګټې اخیستنې سپارښتنه کړې ده: ګټه د مسؤلیت تابع ده. (سنن ابو داود، د استحقاق کتاب، حدیث نمبر. ۳۵۱۰)[2] نامتو اسلامي تاریخ لیکونکي او ریاضي پوه ابن خلدون (ومړ. ایچ اې ۸۰۸/ آې ډي ۱۴۰۶) د ګټې په اړه داسې وایي: باید ښکاره شي چې سوداګري یعنې د ګټې د تر لاسه کولو له پاره د یو شي په ټیټه بیه پېرل او په لوړه بیه پلورل دي. د ګټې د تر لاسه کولو له پاره کېدای شي یو شی په ټیټه بیه وپېرل شي او تر یو څه ځنډ ساتلو وروسته په لوړه بیه وپلورل شي او یا هم سوداګر له یوه ځایه بل ځای ته خپل مالونه ولېږدوي او هلته یې په لوړه بیه وپلوري. زه یې ساده وایم: «ارزانه یې وپېره او ګران یې وپلوره» همدا سوداګري ده.[3]

د «اسلامي اقتصاد» په چوکاټ کې د شتمنۍ د جوړښت له پاره د معاصرو علماوو هڅې د ستایلو وړ دي، خو د یادونې وړ ده چې قانوني او ټولنیز چاپېریال یې باید پراخ شي ترڅو د شتمنۍ د جوړښت پر وړاندې ستونزې اوارې شي. موږ به وړاندې پر دې هم خبرې وکړو چې د شتمنۍ د جوړښت په اړه د اسلامي اقتصادي چوکاټ نړیوال اصول د ډېرى اسلامي هېوادونو له قانون سره په ټکر کې دي چې دوی اوس ګټه ترې اخلي.

۱. کمالي، د ژوند حق، خوندیتوب، محرمیت او مالکیت په اسلام کې، ۲۴۵.
۲. سنت، accessed March ۲۲, ۲۰۲۰, https://sunnah.com/abudawud/۲۴.
۳. حفاس فرقاني، «په اسلام کې د توضیعي برابرۍ تیوري» (په اسلام او خپلواکۍ جوړ شوي شپږم نړیوال کنفرانس اسلام اباد، پاکستان، ۲۰۱۸)، https://islamandlibertynetwork.org/blog/۲۰۱۸/۱۲/۳۰/hafas۶/.

## ۵. د شتمنۍ د دوران اصول

د اقتصادي ننګونو یوه خورا مهمه ننګونه په عاید او شتمنۍ کې د لوړو او ټیټو عاید لرونکو کورنیو د نابرابرۍ کچه ده. اسلامي اصل په دې اند دی چې رهبري باید لوړ عاید لرونکي کسان دې ته راضي کړي چې پر مالیې سربېره ټولنې د اقتصادي ستونزو د حل له پاره ډېره ونډه واخلي. د هجرت پر مهال چې کله نبي کریم (ص) له خپلو ملګرو سره له مکې مدینې ته لاړ، د مدینې خلکو چې اقتصادي وضعیت یې ښه و د مکې غریب مسلمانان قبول او په ځینو حالاتو کې یې ورسره خپله شتمني ووېشله. دا کړنه باید قانوني بڼه ونه لري اما د ورورولۍ پر بنسټ باید ونه درول شي او جریان ولري. په اداري کچه دا فکر باید لوړ عاید لرونکي کسان وهڅوي چې د وقف یا خیریه بنسټونه له لارې خپل سخاوت وښيي. د شتمنۍ د ساتلو له پاره اسلام دوه ډوله محدودیتونه وړاندې کړي. لومړی هغه یې مالیه ده چې مخکې ورته اشاره وشوه. د شتمنۍ وېش او دوران په اسلام کې د ذکات په مرسته کېږي (۲،۵ سلنه اړینې کلنۍ پیسې دي چې په شتمنۍ باندې ورکول کېږي) عشر (د کرنیزو محصولاتو ۱۰ سلنه د یو کال په موده کې) او همدارنګه د رضاکارانه لګښت (صدقه) ده. دوهم هغه یې میراث دی چې د اسلامي اصولو په رڼا کې د کورنۍ غړو ته وېشل کېږي.[۱]

غامدي د خپلې فکري ودې له پاره د الهام په توګه د علامه محمد اقبال (ومړ.۱۹۳۸) له افکارو ګټه اخلي.[۲] د غامدي کړنې د اسلام د لومړنیو سرچینو په محدوده کې د شریعت معقوله بیارغونه ده.

---

۱. ابوداود سلیمان ب. الشاعة السجستاني، سنن ابوداود [په عربي کې]، ۷ ټوک، نسخه. ایس ارناوت، ایم کی بالالی، او ایس ایم الشیاب (دمشق، سوریه: دارالرساله العالمیه، ۲۰۰۹)، ۳:۹۷ (لیکوال ژباړه). د فارسي عالم ابوداوود (متوفی ۸۸۹/۲۷۵) را ټول شوی حدیث (د رسول الله صلی الله علیه وسلم) په سنن ابو داوود کې شامل دی چې په پراخه توګه د شپږو اساسي مجموعو د حدیث (کتب السطة) څخه ګڼل کېږي. د پرلیکه او په بېلابېلو ژبو د ډیټابېس له پاره وګورئ، Sunnah.com at https://sunnah.com/.

۲. سر محمد اقبال، د دیني فکر د بیارغونې په اړه شپږ درسونه (Lahore, Pakistan: Kapur Art Printing Works, ۱۹۳۰).

لـه مـودودي سره د غامـدي د فکـر یـو اسـاسي اختـلاف دا دی چـې غامـدي د یـوه اسـلامي دولـت جوړېدنـه دینـي اړتیـا نـه بـولي. د هغـه بـاور دا دی چـې مدینـه د یـوه طبیعـي ټولنیـز بدلـون پایلـه ده چـې محمـد (ص) د یـو حاکـم (چلوونکـي) پـه توګـه کړنـې پـه کـې تـرسره کـړې دي، خـو د یادونـې وړ ده چـې مـوږ بایـد د هغـه دینـي لرلیـد او ژبنـي حکمونـه سره بېل کـړو. د اقتصـاد پـه اړه غامـدي وایـي: «اقتصـادي شریعـت پـه محمـد (ص) بانـدې د الله تعالـی لـه لـوري د حکومـت د اقتصـادي کړنـو او اصـلاح لـه پـاره نـازل شـوی». [1] د دې فلسـفې د پیدایښـت پـه اړه غامـدي کاږي چـې «الله تعالـی دا نـړۍ د ازموینـې لـه پـاره پیـدا کـړې، پـر دې بنسـټ د ژونـد کولـو لـه پـاره ټـول یـو بـل تـه اړتیـا لـري». دا ځکـه چـې «الله تعالـی هـر چـا تـه بېلابېـل مهارتونـه، هوښـیارتیاوې، پوهـه او سرچینـې ورکـړې دي». [2] غامـدي د دې خـبرې د ثبـوت لـه پـاره لانـدې قـراني ایـت تـه اشـاره کـوي: اَهُـمْ یَقْسِـمُوْنَ رَحْمَـتَ رَبِّـكَ ۚ نَحْـنُ قَسَـمْنَا بَیْنَهُـمْ مَّعِیْشَـتَهُمْ فِی الْحَیٰـوةِ الدُّنْیَـا ۙ وَرَفَعْنَـا بَعْضَهُـمْ فَـوْقَ بَعْـضٍ دَرَجٰـتٍ لِّیَتَّخِـذَ بَعْضُهُـمْ بَعْضًـا سُـخْرِیًّا ۗ وَرَحْمَـتُ رَبِّـكَ خَـیْرٌ مِّـمَّا یَجْمَعُـوْنَ (۴۳:۳۲)

ژبـاړه: ایـا دوی وېـشي رحمـت (نبـوت) د رب سـتا (لکـه چـې دوی وایـي)؟. نـه ده داسـې، بلکـې پـه خپلـه مـوږ وېشـلی پـه منـځ د دوی کـې معیشـت د دوی پـه دغـه ژونـدون لـږ کـې او پورتـه کـړي مـو دي ځینـې د دوی لـه پاسـه پـه ځینـو نـورو مرتبـو کـې د دې لـه پـاره چـې ونیسـي ځینـې د دوی (چـې غنیـان دي) ځینـې نـور (چـې فقیـران دي) تابـع کار کوونکـي.

د شریعـت پـه اقتصـادي چـوکاټ کـې چـې غامـدي یـې (اقتصـادي شریعـت) بـولي وایـي: ذکات د اسـلامي حکومـت لـه پـاره د مالیـې یوازینۍ سرچینـه ده. [3]

---

۱. غامدي، اسلام، ۴۶۶-۶۷.

۲. غامدي، اسلام،۴۶۷.

۳. جاوید احمد غامدي، له لیکوال سره شخصي خبرې، اګسټ ۲۷، ۲۰۱۸.

لکه څنګه مې چې مخکې ذکات ته اشاره وکړه،[۱] غامدي د ذکات په اړه بېل تعریف لري، هغه ټول مسلکونه د ذکات د را ټولولو سرچینې ګڼي. هغه زیاتوي پر ذکات سربېره مالیه د معاصرې غلامۍ یو ډول دی، دا چې انسان د غلامۍ له دور راوتی، خو د مالیې شکل اوس هم شته دی.[۲]

پر دې بنسټ ځکه الله تعالی له حکومت څخه د مالیې د وضع کولو واک اخیستی. له نورې مالیې پرته به په ټاکلې بیه د ذکات ټولونه د دولت واک او محدوده راکمه کړي چې دغه ته موږ د محدود حکومت له پاره دیني څېړنه ویلای شو.

که څه هم هغه داسې اصطلاحات نه دي کارولي خو د «اقتصادي شریعت» په اړه د غامدي لرلید د اقتصادي خپلواکۍ بنسټیزو اصولو ته خورا نږدې دی، یعنې محدود حکومت او داوطلبانه راکړه ورکړه. که څه هم هغه د خپل فکر پلویان هڅولي چې د ده دا فکر په نورو برخو کې هم پلی کړي، خو دی په کلکه له یوه دیني لیدلوري خبرې کوي، پر دې بنسټ به څوک د هغه په خبرو کې داسې جملې پیدا نه کړي چې هغه دې غیر مسلمانانو ته عادی وي. هغه په ډاګه کوي چې اسلام څنګه او ولې کولای شي، د ازاد بازار او محدود دولت پر بنسټ د اقتصاد اخلاقي لرلید ته وده ورکولای شي.

الله تر ټولو ښه پوهېږي.

۱. د ذکات په اړه یې د لومړیو بحثونو له پاره وګورئ، ۳.۶، « د اسلام مالي تګلاره: ښکته او مناسبه مالیه».

۲. جاوید احمد غامدي، له لیکوال سره شخصي خبرې، اګسټ ۲۷، ۲۰۱۸.

# سرچينې او اخځليکونه


۱. عبدالله، ادم او نور. اسلامي اقتصاد: اصول او تحليل. د معتز ابوجيب، محمد اسلم محمد حنيف او مصطفی عمر محمد له خوا ايډيټ شوی. کوالالمپور، ماليزيا: د اسلامي مالياتو له پاره د شرعي څېړنو نړيواله اکاډمي (ISRA)/Lorong University A, ۲۰۱۸.

۲. ابو داود سليمان بن اشعث السجستاني. سنن ابي داود. https://sunnah.com/abudawud.

۳. سنن ابي داود [په عربي ژبه]. د شعيب ارناوط او محمد کامل قره باليلي له خوا ايډيټ شوی. ۷م ټوک. بيروت: دارالرساله العالميه، ۲۰۰۹.

٤. ابو يوسف، يعقوب ابن ابراهيم الانصاري. کتاب الخراج. ژباړه نعمت الله صديقي. n.p.: n.p., n.d.

۵. کتاب الخراج (د مالياتو کتاب) [په عربي ژبه]. دمشق، ۱۷۳۲. https://www.wdl.org/en/item/۱۱۲۲۵/.

٦. احمد، خورشيد، ايډ. په اسلامي اقتصاد کې مطالعات: د مقالو ټولګه، د اسلامي اقتصاد په اړه لومړی نړيوال کنفرانس ته وړاندې شو چې په مکه کې د پاچا عبدالعزيز پوهنتون، جده، د فبروري، ۱۹۷٦ (د ۱۳۹٦ کال د فبروري ۲۱-۲٦) تر نظارت لاندې جوړ شوی و. جده، سعودي عربستان: په اسلامي اقتصاد کې د څېړنې نړيوال مرکز/ د پاچا عبدالعزيز پوهنتون؛ ليستر، انګلېستان: اسلامي بنسټ، ۱۹۸۰.

۷. الاتاس، سيد فريد. «اسلام او د اقتصاد ساينس». ۳۳م فصل، چپ ۳۳ په بليک ويل کمپينين معاصر اسلامي فکر کې، د ابراهيم محمد ابو ربيع له خوا ايډيټ شوی .اکسفورډ: بليک ويل، ۲۰۰٦.

۸. علي، عبدالله يوسف. د قران کريم عصري انګليسي ژباړه: معنی او تفسير. جده: د اسلامي ادبياتو له پاره د دار القبله کمپنی، ۱۹۹۸.

۹. عسکري، حسين، ضمير اقبال او عباس ميراخور. د اسلامي اقتصاد پېژندنه: نظريه او تطبيق. ولي فايننس. هوبوکن: ويلی او سنز، ۲۰۱۵.

۱۰. بيکر، ويليم ډبليو. نه ختمېدونکې پيسې: د سوسياليزم اخلاقي ګواښونه. هوبوکن، NJ: ويلی او سنز، ۲۰۱۰.

۱۱. بشار، محمد لعل احمد. «په اسلامي اقتصاد کې د بیو کنټرول». د شاه عبدالعزیز پوهنتون ژورنال: اسلامي اقتصاد ۹ ګڼه. شمېره.۱ (۱۹۹۷): ۲۹-۵۲.

۱۲. برګ، کریس او انډریو کیمپ. «د اسلام د ازاد بازار میراث.» د عامه چارو انستیتیوت بیا کتنه ۵۹، شمېره.۱ (۲۰۰۷):۱۱-۱۵.

۱۳. برلین، عیسی. د آزادۍ دوه مفکورې: له اکسفورډ پوهنتون څخه مخکې یو پرانیستی وړاندې شوی لیکچر اکتوبر ۳۱ ۱۹۵۸. اکسفورډ: کلینډن مطبوعات، ۱۹۵۸.

۱٤. البخاري، امام محمد. صحیح البخاري./https://sunnah. com .bukhari

۱۵. صحیح البخاري. بیروت: دار ابن کثیر، ۲۰۰۲.

۱٦. البطیبي، محمد امنو. «المقبل و المردود من تطبوبي الرخص و التلفیق بینا المذهب» (په عربي ژبه). مجله المذهب المالکي ،۲۰۰٦، ٦۱-۱۰۳.

۱۷. چپړا، محمد عمر. اسلام او اقتصادي پرمختګ. د پوهې اسلامي کول، ۱۴. اسلام آباد، پاکستان: د اسلامي افکارو/ د اسلامي څېړنو نړیوال انستیتیوټ، ۱۹۹۳. Institute of Islamic Thoughts/Islamic Research Institute, ۱۹۹۳. https:// benrafick.files.wordpress. com/۲۰۰۹/۱۲/islam-and-economic-development.pdf.

۱۸. داود، N. J.، ژباړه. قرآن کریم. پنځم بیا کتل شوی چاپ. پینګوین کلاسیک. لندن: د پینګوین کتابونه،۱۹۹۹.

۱۹. فرقاني، حفاص. «له اسلامي لرلیده د توضیعي عدالت نظریه: یو فکري سپړنه». دغه مقاله په اسلام اباد کې د نومبر ۱۵، ۲۰۱۸م کال د اسلام او ازادۍ په اړه په شپږم نړیوال کنفرانس کې وړاندې شوه. اسلام او د ازادۍ شبکه. / https://islamandlibertynetwork.org blog/۲۰۱۸/۱۲/۳۰/hafas٦/ .

۲۰. جمال، محمود. اسلامی مالیات: قانون، اقتصاد او عمل.کیمبرج: د کیمبرج پوهنتون مطبوعات،۲۰۰٦.

۲۱. غامدي، جاوېد احمد. اسلام: يوه پراخه پېژندنه (د ميزان په انګليسي بڼه: اخيستل شوې په عربي کې). د شهزاد سليم له خوا ژباړل شوي. لاهور، پاکستان: المورد، ۲۰۱۰. https:// www.javedahmedghamidi.org/#!/mizan. Digital copy also ۲۰٪avail¬able at http://muqweb.yolasite.com/resources/Islam ۲۰٪A ۲۰٪comprehensive ۲۰٪introduction٪-۲۰٪Javaid ۲۰٪Ahmed Ghamidi.pdf

۲۲. ميزان (په اردو ژبه). لاهور، پاکستان: المورد، ۲۰۰۸.. www. https://javedahmedghamidi.org/#!/Mizan. غضنفر، ايس ايم، ايډ. د منځنيو پېړيو اسلامي اقتصادي فکر: په اروپا اقتصاد کې د لويې تشې ډکول. لندن: ټيلر او فرانسيس کتابونه، ۲۰۰۳. https://doi. org/۱۰.٤۳۲٤/۹۷۸۰۲۰۳٦۳۳۷۰۰.

۲۳. په اسلام کې د ژوند، امنيت، محرميت او مالکيت حق. کوالالمپور: د پرمختللو اسلامي مطالعاتو نړيوال انستيتيوت ماليزيا؛ پيټالينګ جايا، ماليزيا: علميه خپرونکی، ۲۰۱۳. لومړی په ۲۰۰۷ م کې د بنسټيزو حقونو او آزاديو په لړۍ کې خپره شوه (کيمبرج).

۲٤. حنيف، محمد اسلم او عماد رفيق برکت. «بايد پيسې يوازې په سرو او سپينو پورې محدودې وي؟ د فقهي نظرياتو يوه سروې او اغېزې يې» د شاه عبدالعزيز پوهنتون ژورنال – اسلامي اقتصاد ۱۹مه شمېره.۱ (۲۰۰٦):۲۱-۳۵.

۲۵. حسن، احمد. «په اسلام کې ټولنيز عدالت» اسلامي مطالعات ۱۰، شمېره. ۳ (۱۹۷۱): ۲۰۹ – ۱۹. https://www.jstor.org/ stable/۲۰۸۳۳۰۳٤.

۲٦. ليميوکس، پيرد. «د ځمکې ماليه: د هنري جورج بېرته راستنېدل». لاسرسی د مارچ ۲۵، ۲۰۲۰. د اقتصاد او آزادۍ کتابتون. https:// www. econlib.org/land-taxes-the-return-of-henry-george/. .

۲۷. حسن الزمان، S.M. د اسلامي دولت اقتصادي دندې (لومړۍ تجربه) بيا کتل شوی چاپ. اسلامي اقتصادي لړۍ ۱۴. کراچۍ، پاکستان: اسلامي بنسټ، ۱۹۹۱.

۲۸. ابن حجر عسقلاني. بلوغ المرام. https://sunnah.com/bulugh

۲۹. ابن کثير. تفسير القرآن العظيم. بيروت: معاصة الکتب ثقفيه، ۱۹۹٦.

۳۰. ابن خلدون، عبدالرحمن بن محمد. مقدمه. د فرانز روزنتال له خوا ژباړل شوی. Accessed March ۲۶, ۲۰۲۰. https:// asadullahali.files. wordpress.com/۲۰۱۲/۱۰/ibn_khaldun-al_muqa¬ddimah.pdf.
۳۱. ابن ماجه القزوینی، امام محمد بن یزید. سنن ابن ماجه. https:// sunnah.com/ibnmajah.
۳۲. النسابوري، مسلم ب. الحجاج. صحیح مسلم. ریاض: دار طیبه، ۲۰۰٦.
۳۳. اقبال، سر محمد. د اسلامی فکري بیارغوني په اړه شپږ لیکچرونه. لاهور، پاکستان: د کپور چاپ خونه، ۱۹۳۰.
۳٤. اصلاحي، عبدالعظیم. «د پیسو او سود په اړه د الغزالي د فکر یوه تحلیلي مطالعه» لاسرسی نومبر په ۲۰، ۲۰۱۹. https://mpra. ub.uni-muenchen.de/٤١٤٣٨/.
۳۵. د ابن تیمیه اقتصادي مفکورې. د اسلامي اقتصاد لړۍ ۱۲. لیسټر، انګلیستان: اسلامي بنسټ،۱۹۸۸. https://archive.org/ details/EconomicConceptsOfIbnTaymiyyah.
۳٦. تدبر قرآن: په قرآن کې فکر کول. د محمد سلیم کیاني له خوا ژباړل شوی. دوهم ټوک. کولالامپور، مالیزیا: د اسلامي بوک ټرست،۲۰۰٦-. په اصل کې په اردو ژبه د (تددبر قران) په نامه خپور شوی. نهم ټوک. سلسله مطبوعات ۱-۹. لاهور، پاکستان: فاران بنسټ،۲۰۰٦. http://www.tadabbur-i-quran.org/.
۳۷. اسلام، محمد توحیدول. «په بنګلدېش کې د وقف د پرمختګ تاریخ: ننګوني او امکانات». د ازاد بازار له پاره د یو اسلامي لرلید جوړونه، د علي سلمان او حسن الامین له خوا ایډیټ شوی، اسلام آباد، پاکستان: IRD، ۲۰۱۹.
۳۸. جعفر، شمعون، ادم عبدالله او احمد کامل میدین میرا. «پولي واحدونه: د معاصره اسلامي پوهانو له لرلید څخه». بشري علوم۳۳، شمېره.۳ (اګسټ ۱٤، ۲۰۱۷): ۲۷٤-۹۹ .
۳۹. کمالي، محمد هاشم. مقطع الشریعه. وخت ناوخت خپرې شوې مقالې۱۳. لندن: د اسلامي فکر نړیوال انسټیټیوټ، ۲۰۰۸. https://doi. org/۱۰,۲۳۰۷/j.ctvkc٦٧vz. .
٤۰. په اسلام کې د ژوند، امنیت، محرمیت او مالکیت حق. کولالامپور: د پرمختللو اسلامي مطالعاتو نړیوال انستیتیوت مالیزیا؛ پیټالینګ جایا، مالیزیا: علمیه خپرونکی،۲۰۱۳. لومړی په۲۰۰۷م کې د بنسټیزو حقونو او آزادیو په لړۍ کې خپره شوه (کیمبرج).

٤١. خان، محمد اکرم د اسلامي اقتصاد ستونزه څه ده؟ د اوسني حالت او راتلونکي اجنډا تحليل. د اسلامي فايننس مطالعات، محاسبه او حکومتولي. چلتينهم، انګلستان: اډوارډ ايلګر، ۲۰۱۳.
٤٢. خان، محمد معين الدين او ايم ايچ سيد، سوداګرۍ او راکړه ورکړه په اسلام کې. د اسلامي اقتصاد انساکلوپيډيا دوهم ټوک. نوى ډيلى، هند: پنټاګون پريس، ۲۰۰۹.
٤٣. کويلر، بينيډيکټ. لومړنى اسلام او د پانګوالى زيږون. لانهم: ليکسينګټن کتابونه، ۲۰۱۴.
٤٤. «اقتصاد پوه محمد ابن عبدالله (٥٧٠-٦٣٢)». اقتصادي چارې ۳۱مه شمېره.۱ (۲۰۱۱): ۱۰۹-۱۱ .
٤٥. کران، تيمور. «ذکات: د ماليې د محدودولو له پاره د اسلام له ياده وتلى فرصت». د SSRN علمي پاڼه. په Duke د اقتصادي څېړنيزو نوښتونو مقاله شمېره. ۲۸۴.. روچيسټر، نيويارک: د ټولنيزو علومو د څېړني شبکه، د اپريل ۸، ۲۰۱۹ . https://dx.doi.org /۱۰,۲۱۳۹/ ۳۳٦۸۲۹۲.ssrn .
٤٦. ليميوکس، پيرد. «د ځمکې ماليه: د هنري جورج بېرته راستنېدل». لاسرسى د مارچ ۲۵، ۲۰۲۰. د اقتصاد او آزادۍ کتابتون. https:// www. econlib.org/land-taxes-the-return-of-henry-george/. .
٤٧. بيکر، ويليم ډبليو. نه ختميدونکې پيسې: د سوسياليزم اخلاقي خطرونه. هوبوکن، NJ: ويلى او سنز، ۲۰۱۰.
٤٨. بشار، محمد لعل احمد. «په اسلامي اقتصاد کې د بيو کنټرول». د شاه عبدالعزيز پوهنتون ژورنال: اسلامي اقتصاد ۹مه ګڼه. شمېره.۱ (۱۹۹۷): ۲۹-٥۲.
٤٩. ملک، مسزلي. «له دولت پرته خيريه کړنې: ‹احساني› ټولنيزې خيريه کړنې». د نوح او ايل هرموزي ليندا ويټسټون له خوا ايډيټ شوى، ٥۸-۷۳. هوبارټ مقاله ۱۸۳. لندن: د اقتصادي چارو انسټيټيوټ، ۲۰۱٦. https://iea.org. uk/wp-content/uploads/۲۰۱٦/۱۰/-Islamic Foundations-of-a-Free- Society.pdf.
٥۰. منان، محمد عبدل. د اسلامي اقتصاد پولې. IAD مذهبي فلسفه (اصلي) لړۍ ۱۳. ډيلي، هند: اداره ی ادبيات ډيلي، ۱۹۸۴. https:// archive.org/details/ frontiersofislam mann۰۰۰۰. .

٥١. مارکس، کارل او فریدریش انګلس. Das Kapital: Kritik der politischen Okonomie [in German]. ٣ vols. Hamburg: Meissner, ١٨٦٧, ١٨٨٥, ١٨٩٤. .
٥٢. اوګوز، اورهان او احمد تباک اوغلو. «د اسلامي بیو تګلارې ته یوه تاریخي کتنه: د عثماني خلافت د بیې د سیستم په اړه څېړنه او د هغې عملي کول. د شاه عبدالعزیز پوهنتون ژورنال: اسلامي اقتصاد ٣، ګڼه. ١ (١٩٩١): ٦٣-٧٩.
٥٣. Manifest der Kommunistichen Partei [in German]. London: Gedruckt in der Office der Bildings-Gesellschaft fur Arbeiter von J. C. Burghard, ١٨٤٨..
٥٤. «د کمونست ګوند منشور» (١٨٤٨). د کارل مارکس او فریډریک انګلز: په درېو ټوکونو کې غوره شوي اثار، د ریډریک انګلز په همکارۍ د سمویل مور په واسطه ژباړل شوي، ١:٩٨،١٨٨-١٣٧. مسکو: د پرمختګ خپرونکی، ١٩٦٩. https://www.marxists. org/archive/marx/works/download/pdf/Manifesto.pdf.
٥٥. فرقاني، حفاص. «له اسلامي لرلیده د توضیعي عدالت نظریه: یو فکري سپړنه». دغه مقاله په اسلام اباد کې د نومبر ١٥، ٢٠١٨م کال د اسلام او ازادۍ په اړه په شپږم نړیوال کنفرانس کې وړاندې شوه. اسلام او د ازادۍ شبکه. https://islamandlibertynetwork.org/blog/٢٠١٨/١٢/٣٠/hafas٦/ .
٥٦. مسعود، محمد خالد. نننی شریعت: په اسلامي ټولنو کې د اوسنیو ستونزو په اړه مقالې. د معاصر اسلامي فکر د مطالعې په اړه د IRD لړۍ. اسلام آباد، پاکستان: د کتاب ملي بنسټ/ د اقبال د نړیوالو څېړنو انستیتیوت، ٢٠١٣.

٥٧. مـودودي، سـيد ابوالاعلـی. د اسـلامي اقتصـاد لومـړني اصـول. د خورشـيد احمـد ايډيـټ. د احمـد امـام شـفق هاشـمي لـه خـوا ژبـاړه. مارکفيلـډ، انګلېسـتان: اسـلامي بنسـټ، ٢٠١١. پـه اصـل کـې د معيشـت الاسـلامي پـه نامـه خپـور شـوی [پـه اردو کـې]. د خورشـيد احمـد لـه خـوا ايډيـټ شـوی. (لاهـور، پاکسـتان: اسـلامک پبليکشـنز، ١٩٦٩).

٥٨. محمـد، نويـد. «د الازهـر پوهنتـون فتـوا پـه بانـک کـې پـه ايښـودل شـوو پيسـو د ثابـت سـود اخيسـتو اجـازه ورکـوي». اسـلامي مـالي بنسـټ. د ٢٠١٤ کال د مـارچ ٢٠مـه. https://www.sukuk.com/ education/ ٢٧١-al-azhar-university-fatwa-interest-bank-deposits/.

٥٩. المنجـد محمـد صالـح. «د ذکات او ماليـې تـر منـځ توپيـر څـه دی؟ ايـا د ماليـې وضعـه کـول جايـز دي؟ ايـا دا فـرض دي چـې ماليـه دې ورکـړل شـي»؟ د اسـلامي پوښـتنو او ځوابونـو (وېبپاڼـه). د ٢٠١٣ کال د سـپټمبر ٣٠مـه. https://islamqa.info/en/answers/١٣٠٩٢٠/ the-difference-between-zakaah-and-taxes-and-the-conditions-of -imposing-taxes.

٦٠. نقـوي، سـيد نـواب حيـدر. اخـلاق او اقتصـاد: يـو اسـلامي ترکيـب. دوهمـه اسـلامي اقتصـادي لـړۍ. ليسـټر، انګلېسـتان: اسـلامي بنسـټ، ١٩٨١.

٦١. النواوي، يحيی شرف. صحيح مسلم. بيروت: دارالفکر، ١٩٩٥.

٦٢. نژهـد، منصـور زرا. «د درهـم او دينـار ارزښـت معلومـول او پـه اسـلام کـې د پيسـو لنـډ تاريـخ». اسـلامي اقتصـاد تـه کتنـه، شـمېره ٢. (٢٠٠٤): ٥١-٦٦.

٦٣. النسـابوري، مسـلم ب. الحجـاج. صحيـح مسـلم. ريـاض: دار طيبـه، ٢٠٠٦.

٦٤. نيـازي، عمـران احسـن خـان. اسـلامي فقـه: اصـول فقـه. د اسـلامي قانـون او فقهـي درېيمـه لـړۍ. اسلام آبـاد، پاکسـتان: د اسـلامي فکـر نړيوال انسـتيتوت/ د اسـلامي څېړنـو انسـټيټيوټ، ٢٠٠٠.

٦٥. د سـود د حرامـوالي وضاحـت. د اسـلامي بانکـداری لومـړۍ لـړۍ. اسـلام آبـاد، پاکسـتان: د بيلابيلـو حقوقـي مطالعاتـو انسـټيټيوټ، ٢٠٠٩.

٦٦. اوگوز، اورهان او احمد تباک اوغلو. «د اسلامي بیو تګلارې ته یوه تاریخي کتنه: د عثماني خلافت د بیې د سېستم په اړه څېړنه او د هغې عملي کول. د شاه عبدالعزیز پوهنتون ژورنال: اسلامي اقتصاد ۳، گڼه. ۱ (۱۹۹۱): ۶۳-۷۹.

٦٧. اوران، احمد. «د بازار د مقرراتو په اړه د اسلامي ټولنیزو او اقتصادي ګټو نظریه.» د اسلامي اقتصاد بیا کتنه ١٤، ګڼه. ١ (جنوري ١، ٢٠١٠): ١٢٥-٤٦.

٦٨. او سلیوان، مایکل.«سود او له اسلام څخه تر اسلامي بانک پورې تګ، ١٩٠٨-١٩٥٨.» د منځني ختیځ د مطالعاتو نړیوال ژورنال ٥٢ (٢٠٢٠): ٢٦١-٢٨٧. https://doi.org/١٠,١٠١٧/S٠٠٢٠٧٤٣٨٢٠٠٠٠٢٣٩..

٦٩. پیکیټي، توماس. په یوویشتمه پېړۍ کې شتمني. د ارتور گولډ هامر ژباړه. کیمبرج، MA: د هارورډ پوهنتون چاپ خونه، ٢٠١٤.

٧٠. القزوینی، محمد ب. یزید. سنن ابن ماجه. قاهره: مطبعه دار احیاء الکتب العربیه، M.F.A. البقیع ګڼه.

٧١. رب، حفظور. په اسلام کې اقتصادي عدالت: پولي عدالت او له سود څخه د وتلو لاره. کولالامپور، مالیزیا: نورالدین، ٢٠٠٦.

٧٢. رحمان، فضل. «سود او ربا» اسلامي مطالعات ٣، ګڼه. ١ (مارچ ١٩٦٤): ١-٤٣. ww.jstor.org/stable/٢٠٨٣٢٧٢٤.

٧٣. رؤف، امام فیصل عبدل. د اسلامي دولت تعریف: د معاصرو اسلامي دولتونو اندازه او شاخص کول. لندن: پالګریو مکمیلان انګلیستان، ٢٠١٥. https://doi.org/١٠,١٠٥٧/٩٧٨١١٣٧٤٤٦٨٢٤.

٧٤. راولز، جان. د عدالت نظریه. کیمبرج، MA: د هارورډ پوهنتون پریس، ١٩٧١.

٧٥. ریدا، ایمن. «اسلام او بازار» د ټولنیز اقتصاد بیاکتنه ٧١، شمیره. ١ (٢٠١٣): ٢٠-٤٣. https://doi.org/١٠,١٠٨٠/٠٠٣٤٦٧٦٤,٢٠١٢,٧٦١٧٥٢

٧٦. السکندري، احمد ب. «عطاء الله. الحکم العطيه. دمشق: حسن السمهی سويدن، ١٩٩٧.

٧٧. سلمان، علي. «د اسلامي اقتصاد د آزادۍ ځانګړني». اقتصادي چارې ٣٣، لومړۍ ګڼه (٢٠١٣): ١٠٨-١١٨. https://doi.org/١٠,١١١١/ecaf.١٢٠٠٣.

٧٨. د توکو په بازار کې د دولت لاسوهنه: په اسلام کې د اقتصادي خپلواکۍ او ټولنيز عدالت تر منځ اختلاف. اسلام آباد، پاکستان: د پاکستان د اقتصادي ازادۍ شبکه٢٠١٢.

٧٩. سلمان، علي او حسن الامين. د ازاد بازار له پاره د اسلامي اقتصادي تګلارې جوړښت، اسلام آباد، پاکستان: IRD، ٢٠١٩.

٨٠. سين، امرتيا. د ازادۍ په توګه پرمختګ. اکسفورډ: اکسفورډ پوهنتون رسنۍ، ١٩٩٩.

٨١. شيرازي، نسيم شاه او محمد فواد بن امين. «د OIC-غړو هېوادونو کې د ذکات په مرسته د غربت ختمول» د اسلامي اقتصاد ژورنال، بانکوالي او مالي چارې ٦، نه. ٣ (٢٠١٠): ٥٥-٧٤.

٨٢. صديقي، محمد نجات الله. اقتصاد: يوه اسلامي تګلاره. اسلام آباد، پاکستان: د پاليسۍ د مطالعاتو انستيتيوت/اسلامي بنسټ،٢٠٠١.

٨٣. سميټ، ادم. د طبيعت په اړه پلټنه او د ملتونو د شتمنۍ لاملونه. دوهمه ګڼه. لندن: ستراهان او کيدل،١٧٧٦.

٨٤. د اخلاقي احساساتو تيوري، يا، د تحليل په اړه ليکنه چې پکې د اصولو له مخې نارينه په طبيعي ډول لومړۍ د دوی ګاونډيان د چلند په اړه او وروسته د ځان په اړه قضاوت کوي. لندن: د اندريو ميلر له پاره چاپ شوی، الکساندر کينکايډ او جې بيل، په اډينبورګ کې، ١٧٥٩,٨٥. محمد صالح. «د ذکات او مالي تر منځ توپير څه دی؟ ايا د مالي وضعه کول جايز دي؟ ايا دا فرض دي چې ماليه دې ورکړل شي»؟ د اسلامي پوښتنو او ځوابونو (ويبپاڼه). د ٢٠١٣ کال د سپټمبر ٣٠مه. https://islamqa.info/en/answers/١٣٠٩٢٠/the-difference-between-zakaah-and-taxes-and-the-conditions-of -imposing-taxes.

۸۶. صوفي، عبدالقادر. «اسلامي دینار - یوه تېره شوې لاره» د شیخ ډاکټر عبدالقادر صوفي (ویب پاڼه). د ۲۰۱۴ کال د فبروري ۱۱. the-islamic-dinar-/۱۱/۰۲/۲۰۱٤/https://shaykhab¬dalqadir.com ../a-way-stage-passed

۸۷. الطویل، محمد. «په نغدو پیسو ذکات او د هغې وروستي پرمختګونه: ولې سپین زر باید په کاغذي پیسو د ذکات د ارزونې اساس وي.» ژباړه: عبدالله بن حمید العلي. د چراغ پوست تولیدات، ۲۰۱۱. /۰٦/۲۰۱۸/https://lamppostedu.org/wp-content/up-loads .Zakat-on-Paper-Money.pdf

۸۸. الترمذي، امام ابو عیسی محمد. جامع الترمذي. https://sunnah. .com/tirmidhi/about

۸۹. جامع ترمذي. دمشق او ریاض: دار الفضه او دارالسلام، ۱۹۹۹.

۹۰. توماس، مارک. «د المقریزي کتاب د ۱٤۰۳-۱۴۰٦ م کال د اقتصاد څوړ په څېړنې د ملت سره مرسته: ژباړه او تفسیر». په جوسیف اي. سکمپټر کې، د اقتصاد تاریخ لیکونکی: د اقتصاد تاریخ ټولنیز کنفرانس څخه مقالې، ۱۹۹٤، د لارنس ایس ماس له خوا ایډېټ شوی، ۱۱۰-٥٤. د اقتصادي فکر د تاریخ په اړه لید. لندن: روټلج، ۱۹۹٦.

۹۱. وادیلو، عمر. د راکړې ورکړې له پاره په اسلام کې د کاغذي پیسو کارولو په اړه د ممانعت فتوا. ګراناډا، سپین: مدینه، ۱۹۹۱.

۹۲. یوسف، ایس ایم. په اسلام کې اقتصادي عدالت. نوی ډیلی: کتاب بون، ۱۹۸۸.

# ISLAM & ECONOMICS

## A PRIMER ON MARKETS, MORALITY & JUSTICE

**by ALI SALMAN**

FOREWORD BY SHAYKH ABDULLAH BIN HAMID ALI

TRANSLATED BY: MOHAMMAD BASIT WAHEDI

ACTON INSTITUTE

AELSO
د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# A PRIMER ON MARKETS, MORALITY & JUSTICE

by ALI SALMAN

FOREWORD BY SHAYKH ABDULLAH BIN HAMID ALI

TRANSLATED BY: MOHAMMAD BASIT WAHEDI

www.AELSO.org

ISBN 978-9936-1-0296-6

9 789936 10296

ISLAM & ECONOMICS